د افغانستان اسلامی امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون

د ستراتیژیک پلان  د تدوین، توحید، تطبیق او څارني کمېټه

# د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون

# ستراتیژیک پلان

# (۱۴۰۱ – ۱۴۰۵ هـ ل.)

ترتیب کوونکي : د ستراتیژیک پلان  د تدوین، توحید، تطبیق او څارني کمېټه

سنبله - ۱۴۰۲ ل.

**نوم:** د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون د (۱۴۰۱ – ۱۴۰۵ ل.) کال ستراتیژیک پلان.

**ترتیب کوونکي:** د ستراتیژیک پلان د تدوین، توحید، تطبیق او څارني کمېټه.

**تصویب:** د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون، علمی شورا (۱۱) گنه ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ل.

**ادرس:** د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون، کندهار-سپین بولدک عمومی سړک، قول اردو څنگ ته، کندهار، افغانستان.

**د پوهنتون ویب سایټ:** WWW.anastu.edu.af

**د پوهنتون رسمی بریښنالیک:** into@anastu.edu.af, anastu.kdr@gmail.com

**د کمیټي د مسؤل بریښنالیک:** qudrat.ehsan@gmail.com, qudrat.ehsan@anastu.edu.af

بسم الله الرحمن الرحیم

# لړلیک


عنوان مخونه

**۱. د پوهنتون د رئیس پیغام........................................................................................................1**

**۲. ستراتژیک مفهومونه ........................................................................................................................2**

**۳. سریزه (کلیات).............................................................................................................................6**

**۴. پیژندنه ..................................................................................................................................7**

**۵. د مخکني ستراتیژیک پلان د بریالیتوب کچه او د ناکامی لاملونه ...........................................9**

**۶. لیرلید (Vision)........................................................................................................................9**

**۷. رسالت ( Mission) .....................................................................................................................10**

**۸. ارزښتونه ( Merits) ...................................................................................................................10**

**۹. د پوهنتون ستراتیژیکی موخی .........................................................................................11**

**۱۰. د لوړو زده کړو وزارت د لسګونو لویو موخو په رڼا کې د پوهنتون بنسټیزې موخې او برنامې .....................11**

۱۰-۱. لومړی لویه موخه: د علمي څېړنو او نوآورۍ پراختیا او هڅونه.........................................................11

۱۰-۱-۱. نوښت رامنځته کول او دودول .............................................................................................13

**۱۰-۲. دویمه لویه موخه: اداره او رهبري، د سیستم جوړول او فساد له منځه وړل. .............................................13**

۱۰-۲-۱. رهبري..................................................................................................................13

۱۰-۲-۲. مالي، اداري او علمي خپلواکي............................................................................................14

۱۰-۲-۳. د تخنیکي او بنسټیزو چارو پیاوړي کول......................................................................................17

۱۰-۲-۴. د فساد پر وړاندې مبارزه...................................................................................17

۱۰-۲-۵. د پوهنتون په سطحه د فساد پر وړاندې د کمیټې جوړول .........................................................17

۱۰-۲-۶. د مالي او تدارکاتي چارو د اجرااتو څخه جدي نظارت او اګاهي ترلاسه کول ............................................18

۱۰-۲-۷. د بشري سرچینو د استخدام او د هغوی د کړنو څخه نظارت کول...........................................................18

۱۰-۲-۸. د آزموینو د اخیستلو، ارزولو او څیړنیزو چارو نظارت کول ..........................................................18

۱۰-۲-۹. د اسلامي ارشاداتو او قوانینو په رڼا کې د ادارې فساد په اړه پوهاوی لوړول...............................................18

۱۰-۲-۱۰. محصلانو ته د ادارې فساد سره د مبارزې په اړه شرعي او قانوني معلومات ورکول......................................19

۱۰-۲-۱۱. اداري بیروکراسي..............................................................................................19

۱۰-۲-۱۲.د عملیاتی پلان تائیدول ........................................ 20

**۱۰-۳. دریمه لویه موخه: د تحصیلی نصاب بیاکتنه، تدوین او پراختیا ........................................ 20**

۱۰-۳-۱. د ښوونیزو موادو چمتو والی ........................................ 21

**۱۰-۴. څلورمه لویه موخه: د پوهنتون د کیفیت د ښه والي لپاره څارنه او ارزونه تر سره کول. ........................................ 21**

۱۰-۴-۱. څارنې او ارزونې پیاوړي کول ........................................ 22

**۱۰-۵. پنځمه لویه موخه: د برېښنايي زده کړو پراختیا او معیاري کول. ........................................ 23**

۱۰-۵-۱. د معلوماتي تکنالوژي پراختیا ........................................ 23

۱۰-۵-۲. معلوماتي ټکنالوژی ته لاسرسی ........................................ 23

۱۰-۵-۳. الکترونیکي خدمتونو وړاندي کول ........................................ 24

۱۰-۵-۴. د معلوماتي ټکنالوژي پالیسي جوړول ........................................ 24

**۱۰-٦. شپږمه لویه موخه: د زیربناوو ترمیم، پراختیا او مجهز کول. ........................................ 25**

۱۰-٦-۱. د زیربناوو ایجاد او فعالول ........................................ 25

**۱۰-۷. اوومه لویه موخه: د علمی کادر غړو او اداری کارمندانو ظرفیت لوړول. ........................................ 26**

۱۰-۷-۱. د الکترونیکي برخي د کارکوونکو ظرفیت لوړول ........................................ 27

**۱۰-۸. اتمه لویه موخه: د تقنیني او تخنیکي اسنادو بیاکتنه او تدوین. ........................................ 28**

**۱۰-۹. نهمه لویه موخه: له علمي او غیر علمي ادارو سره د اړیکو پراختیا او ښه والي. ........................................ 28**

۱۰-۹-۱. د مرستو جلبول ........................................ 29

۱۰-۹-۲. په ټولنه کي ونډه اخیستنه ........................................ 29

**۱۰-۱۰. لسمه لویه موخه: لوړو زده کړو ته عادلانه لاس رسی او د زده کونکو د استعداد د وده او پراختیا لپاره خدمات چمتو کول ........................................ 30**

۱۰-۱۰-۱. لوړو زده کړو ته پراخه لاسرسی ........................................ 30

۱۰-۱۰-۲. د کریدیت سیستم پیاوړتیا او پلی کول ........................................ 31

۱۰-۱۰-۳. فوق لیسانس ........................................ 31

۱۰-۱۰-۴. د محصیلینو لپاره د خدماتو او اسانتیاوو پیاوړتیا ........................................ 32

**۱۱- د چاپیریال (خارجي او داخلي چاپیریال) پیژندنه ........................................ 33**

۱۱-۱. د داخلی چاپیریال تحلیل او ارزونه ........................................ 33

۱۱-۲. د خارجي چاپیریال تحلیل او تجزیه ........................................ 33

۱۱-۳. د داخلی عواملو تحلیل ............ 36

۱۱-۴. خارجی عواملو تحلیل ............ 38

**۱۲- د محیطی لاملونو (داخلی او خارجی) مقایسه ............ 40**

۱۲-۱. د Intetrnal and External Matrix (IE) تګلاره: ............ 40

۱۲-۲. د اناسټو پوهنتون لپاره د سوات تحلیل (SWOT Analysis) ............ 41

**۱۳. د اناسټو پوهنتون ستراتیژیک موقعیت ............ 45**

**۱۴. د ستراتیژیو ټاکل ............ 46**

**۱۵. د (QSPM) پر اساس د ستراتیژیو اولیت بندی ............ 47**

**۱٦. د ستراتیژیو اولیت بندي ټاکل: ............ 77**

**۱۷. لنډه مهاله هدفونه ............ 78**

**۱۸. د علمی برنامو پنځه کلن عملیاتي پلانونو تدوین ............ 79**

**۱۹. د پوهنتون د (۱۴۰۱-۱۴۰۵ل.) ستراتیژیک پلان له مخي کلني عملیاتی پلان ............ 79**

**۲۰. د پوهنتون د (۱۴۰۱-۱۴۰۵ل.) کلونو د عادي او انکشافي بودجې پیشنهادي خلاصه ............ 161**

**۲۱. د انستو پوهنتون د ستراتیژیو اجرا کول ............ 164**

**۲۲. د انستو پوهنتون د ستراتیژیو څارنه او ارزونه ............ 165**

**۲۳. د موجوده حالت ارزونه ............ 165**

د ستراتیژیک پلان د ارزوني چک لیست ............ **166**

**۲۴. مل پاڼي/ضمیمی ............ 167**

## ۱. د پوهنتون د رئیس پیغام

الحمدالله رب العالمین و الصلاه و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین، اما بعد
( وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلاَ تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ )، سورت المائده، ۲ ایت .

د الله تعالی څخه راضي یم الحمد الله چې د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون (اناستو) د تیرو کلونو ستراتیژیک پلان تر هغه ځایه ممکن ؤ پر احسنه او ښه طریقه تطبیق سویدی. د یو معلوم حقیقت په ډول د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون (اناستو) د لیسانس او فوق لیسانس برنامو په درلودلو سره د هیواد او سیمی په سطحه د کرنیزو زده کړې څېړنو او ترویج په برخه کښې فعالیتونه تر سره کوی او د هیواد په سطحه یو د هغه پوهنتونونو څخه شمېرل کیږي چې د سترو اهدافو لکه: د خوړو له اړخه د هیواد بسایني ته لاره هوارول شین انقلاب او د ملی اقتصاد پیاوړتیا رامنځته کولو په موخه تاسیس سویدی. د دې لپاره چې د دغه ستر علمی مرکز د لاښه والي پاینښت او په یوه سیستماتیک چوکاټ کې و کارول سی اوږد مهالو برنامو او پلانونو تدوین کولو ته اړتیا ده.
د همدې اهدافو د ترلاسه کولو په موخه د پوهنتون رهبرۍ وپتېیله، چې د لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژیک پلان او د اسلامي امارت د اصولو او مقرراتو سره سم د پوهنتون د اړتیاوو په پام کې نیولو سره د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د پنځه کلن ستراتیژیک پلان مسوده جوړه کړي، ترڅو د لوړو زده کړو وزارت هم د دې پوهنتون اړتیاوې له ځان سره واخلي او په راتلونکو پلانونو کې ورته پاملرنه وکړي. زه په دې باور یم، چې اناستو پوهنتون به د پوهنتون د رهبرۍ غړو، کادرې او اداري کارمندانو د تعهد په موجودیت او د دې پلان د تطبیق په مټ د خپلو فعالیتونو، نوښتونو او هلو ځلو په پایله کې خپلو سترو او هېواد شموله اهدافو ته ورسیږي، او پوهنتون به د هېواد په سطحه د خپل اکاډمیک موقف د ساتلو لپاره کوټلي ګامونه پورته کړي وي.
باید یادونه وکړم، چې د دې پلان د مسودې د تدوین برخه کې د پوهنتون د رهبرۍ له غړو، استادانو، اداري کارکوونکو، محصلانو، او بهرنیو ذیدخله ادارو او د نظر خاوندان چې د دې ستراتیژیک پلان په تدوین کې یې راسره خپل لیدونه او اندونه شریک کړي، زیاته مننه کوم. امید لرو، چې د لوړو زده کړو محترم وزارت به زموږ د دې ستراتیژیک پلان غوښتنې چې د پوهنتون بنسټیزې اړتیاوې په ګوته کوي، په خپل ستراتیژیک پلان کې ځای پر ځای کړي او په اړه به یې خپلې مرستې دریغ نه کړي، ترڅو موږ وکولای سو ټولنې ته په اسلامي او ملي فکر سمبال، په کارپوه کادرونه چې وکولی سي د هېواد خوړو له اړخه بسایني، کرنې او مالداری سکتور پیاوړتیا، شین انقلاب رامنځته کولو او د ملي اقتصاد پیاوړتیا را منځته کولو کې اړینه ونډه ولوبوي، وړاندې کړو.

**والسلام،**

**د خوړو له اړخه هېواد د بسایني، شین انقلاب رامنځته کولو او ملي اقتصاد د پیاوړتیا په هیله!**

**مولوی سید محمد داود اغا هاشمی**

**د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون رئیس**

## ۲. ستراتژیک مفهومونه

**مفاهیم:** د ستراتیژیک پلان د برنامې پلي کېدو چې د پوهنتون/موسسې د چارو د سمون او پرمختګ لپاره ډېر اړین دي. په لاندې کرښو کې به د برنامې هره برخه تعریف او وسپړل سي.

**پروګرام:** پروګرام د موخو ترلاسه کولو لپاره یوه طرحه او نقشه ده چې د اړینو سرچینو، مهالویش، دندې او نور کړنې څرګندوي. د پروګرام موخه، وخت، د چا له خوا کومې مرجع ته او په څومره وخت کې باید عملي بڼه او اغیز وښايي.

**ستراتیژي:** یوه ځانګړې طرحه ده چې د پوهنتون د موخو د لاسته راوړلو لپاره د یو ځانګړي فکر او څرګندې موخې پر بنسټ په اکاډمیکو ساحو کې عملي کیږي. هره ستراتیژي په خپله کاري ساحه کې د ځانګړې پالیسۍ او موخې پر بنسټ پر مخ وړل کیږي، په یاد پروګرام کې ټولې ستونزې جوتې کیږي چې د حل او پرمختګ لپاره یې ځېني پلانونه او طرحې جوړیږي.

**ستراتیژیک پروګرام:** په دغه ستراتیژیک پلان کې لومړی د ځانګو په کچه ستونزې، وړاندیزونه او ځېني طرحې ذکر کیږي او بیا ورته په ټولیزه بڼه د پوهنتون/ موسسې په عمومي ستراتیژیک پلان کې د یو منظم میکانیزم له مخې د حل لاره لټول کیږي.

**ستراتیژیک پلان:** ستراتیژیک پلان یو داسې علم، هنر او د مدیریتي پریکړو ټولګه ده چې سمون سوو موخو ته د رسېدلو لپاره محیطي لاملونو ته په پام سره ترسره کیږي.

**سمون:** سمون د ستراتیژیک پلان یو پړاو دی چې لاندې برخې لري:

د لیدلوري ځانګړي کول، ماموریت، ارزښتونه، موخې، محیطي عوامل (داخلي او خارجي) د ستراتیژیک حالت او ممکنه ستراتیژیو ټاکل د لومړیتوبونو تعین او مشخص کول.

**کړنه:** د ستراتیژیک پلان دویم پړاو دی چې لاندې برخې په کې شاملې دي:

د ستراتیژیکو لومړیتوبونو ټاکل، د لنډ مهالو موخو معلومول، کلنی عملي پلان، د بودیجې سمون، د پوهنتون / موسسې د فزیکي جوړښت لپاره طرحې، د اجرایوي پالیسیو سمون، د پوهنتون / موسسې رهبری د لارو چارو ټاکل او د سرچینې ځانګړي کول.

**ارزونه:** ارزونه د ستراتیژیک پلان دریېم پړاو دی چې د لوړو زده کړو د معیارونو او پالیسیو سره سم د پوهنتونونو/ موسسو د کړنو د عملي کولو لپاره یو میکانېزم جوړیږي.

**لیدلوری:** د یو پوهنتون/ موسسې ذهني یا تجسمي انځور ته وایي چې غواړي د خپلو کړنو په پایله کې یې تر لاسه کړي.

**ماموریت:** د پوهنتون / موسسې د شته والي یو داسې ذریعه ده چې له نورو پوهنتونونو سره یې توپیر په ډاګه کوي. ماموریت باید روڼ او د پوهنتون / موسسې چارو ته د پوهېدلو او منلو وړ وي.

**موخه:** عبارت له هغو ټکو څخه ده چې د ټولو اکاډمیکو کړنو پایله اخستنه ترلاسه سي. موخې باید د لاسته راوړنې او ننګونې وړ وي او یو ټاکلی وخت په بر کي ونیسي او د څېړنې لارې چارې یې باید ځانګړې وي او دغه موخې تر ډېره باید پاشلي نه وي.

**ارزښتونه:** ارزښتونه په خپله د پوهنتون / موسسې منل سوي اصول دي چې د دې پر بنسټ د پوهنتون/ موسسې ماموریت او موخې ترلاسه کیږي. په ټوله کي د پوهنتون/ موسسې ارزښتونه هغه اصول او لارښوونې دي کوم چې د پوهنتون/ موسسې د پرېکړې نیولو، پراختیا او حرکت لوری ټاکي.

**د محیطي لاملونو د تحلیل ماتریکس** Internal Factors Evaluation Matrix (IFEM): داخلي لاملونو هغه عناصر دي چې د پوهنتون / موسسې په دننې برخو پورې اړوند وي او د بهرني لاملونو په خلاف د اداري د مدیریت او کنترول لاندې وي او په دوه برخو وېشل کیږي: پیاوړتیاوې او کمزورتیاوې چې د محیطي لاملونو د تحلیل له مخې تجزیه او تحلیل کیږي.

**د بېروني لاملونو د تحلیل ماتریکس External Factors Evaluation Matrix (EFEM):** د پوهنتون/ تحصیلي موسسې د لوی چاپېریال تجزیه او تحلیل، د کړنو څېړنه، په پوهنتون/موسسې کي رامنځ ته سوو ګواښونو او فرصتونو تفسیر او مشاهده د چاپیریالي لویو لاملونو له مخې. نو په همدې بنسټ پوهنتون/ د لوړو زده کړو موسسه خپل لوی محیط د تجزیې او تحلیل ته په کتو په بېلابېلواقتصادي، سیاسي، قانوني، ټولنیز، فرهنګي، فني او نړیوالو ساحو کي بدلونونه او تغییرات په پام کي نېول کیږي او بیا دغه عوامل د څېړنې لاندې نېسي چې د بهرنیو لاملونو تحلیل ماتریکس په پاملرنې سره یې تجزه او تحلیل کوي.

**داخلي و خارجي لاملونه Internal & External Matrix (IEM):** دا ماتریکس د داخلي او خارجي لاملونو د پرتلنې او پلي کېدو په برخه کي یو له چمتو ابزارو څخه ګڼل کیږي چې د پوهنتون/ لوړو زده کړو موسسې د ستراتیژیک حالت ټاکنې او د وړو ستراتیژیو ټاکنې لپاره لاره برابروي.

**سواټ (SWOT):** سواټ د پیاوړتیاوو (Strengths)، کمزورتیاوو (Weakness)، فرصتونو (Opportunities) او ګواښونو (Threats) مخففه بڼه ده. او دا تګلاره د استراتیژیو د تدوین او چمتو کولو د ابزارو څخه ګڼل کیږي. له دې تحلیل څخه په ګټې اخستنې دا امکان برابرېږي چې لومړی داخلي او خارجي چاپیریالونه په کي تجزیه او تحلیل کیږي، او په دویم ګام کي ستراتیژیکي پرېکړې نېول کیږي تر څو د اداري پیاوړتیاوې له محیطي فرصتونو سره متوازنې سي.

**د پیاوړتیا ټکی:** له ممتازې وړتیا څخه عبارت ده چې په وسیله یې یو پوهنتون / لوړو زده کړو موسسه کولی سي د مالي سرچینو، د اخېستونکو تر منځ ذهني مثبت انځور او د تامینوونکو سره مثبتې اړیکې او نور ګڼ اړخونه په پام کې نېول کیږي.

**د کمزورتیا ټکی:** په سرچینو، مهارتونو، امکاناتو او وړتیاوو کې یو ډول کموالي او محدودیت څخه عبارت دی چې په محسوسه توګه د پوهنتون/لوړو زده کړو موسسې د کړنو د اجرا مخنیوی کوي.

**فرصت:** د هر ډول بهرني عامل څخه عبارت دی چې د پوهنتون/لوړو زده کړو موسسې سره د ماموریت په لاسته راوړلو کې مرسته کوي. یا په بل عبارت فرصت یو پټ ظرفیت دی چې ورڅخه په ګټې اخستنې سره پوهنتون/ لوړو زده کړو موسسه مثبت لوري ته وده کوي او د پوهنتون/لوړو زده کړو موسسې لپاره د لېدو وړ خواږه لري.

**ګواښ:** د پوهنتون/لوړو زده کړو موسسې په بېروني چاپیریال کې د نامطلوبې بریا میزان ته وایي لکه د بنسټیزو تامینوونکو او اخېستونکو د چنو وهلو وړتیا، د ټیکنالوژۍ د ناڅاپي او عمده تغییر او نور موارد چې کېدای سي د پوهنتون/لوړو زده کړو موسسې په لاره کې عمده ګواښ وګڼل سي.

**بریدګره ستراتیژیګانې (SO):** پوهنتون/لوړو زده کړو موسسه د دې ستراتیژیو په چوکاټ کې د داخلي پیاوړو ټکو څخه په ګټې اخېستنې سره هڅه کوي چې له شته فرصتونو څخه ګټه پورته کړي.

**ځان ساتونکي ستراتیژیګانې (WO):** له دې ستراتیژۍ څخه موخه شته فرصتونو څخه په ګټه اخېستنې داخلي کمزورو ټکو ته پیاوړتیا ورکول دي.

**رقابتي ستراتیژیګانې (ST):** پوهنتونونه/لوړو زده کړو موسسې د دې ستراتیژیو په لاره اچولو سره هڅه کوي چې د پیاوړتیا ټکو په کارونې په بېروني چاپیریال کې د شته ګواښونو اغېزې کمې کړي او یا یې له منځه یوسي.

**دفاعي ستراتیژیګانې (WT):** پوهنتونونه او لوړو زده کړو موسسې د دې ډول ستراتیژیو په کارونې سره دفاعي حالت غوره کوي او موخه ترې د داخلي کمزورو ټکو کمول او د بېروني چاپیریال له ګواښونو څخه ځان ساتنه ده.

**د کمیتي ستراتیژیک پلان جوړونې ماټریکس:** (QSPM) Quantitative Strategic Planning Matrix: له دې تګلارې څخه په ګټې اخستنې د ستراتیژیګانو بېلابېلې برخې پېژندل کیږي او د پلي کېدو پر مهال د ارزونې لاندې نېول کیږي. دا ماټریکس د هرې ستراتیژۍ لپاره لومړیتوب ټاکي. د پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو مدیران او پلان جوړونکي د استراتیژیو  نسبي راښکون او لومړیتوب ته په پام د غوره ستراتیژۍ د ټاکنې په اړه پریکړه کوي. د دې تګلارې په واسطه کولی سو له ډول ډول ستراتیژیګانو څخه وړ او مناسبه ستراتیژي غوره او وټاکو.




۱. ګراف: د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژی ملي پوهنتون د ستراتیژیکي برنامی چوکاټ راته په نښه کوي.

**۳. سریزه (کلیات)**

د ستراتیژي پلان له ستراتیژۍ پراختیايي پړاوو څخه جوړسوۍ اوموخي ته درسیدلو لپاره ټاکل کیږي ستراتیژیکي پلان جوړوني په دولتی فعالیتونوکی په ځانګړي توکه په وزارتونو کي یوه غوره برخه جوړوي که څه هم ستراتیژیک پلان جوړوني په نظامی او سوداګری فعالیتونوکي هم دلوړارزښت درلودونکي ده ستراتیژیکي پلان جوړوني عمومی دوستورالعمل منځته راوړي دغه دستورالعمل یا لایحه کولای شی په بیلابیلو برخوکي وی.

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون ( Afghanistan National Agricultural Sciences and Technology University –ANASTU ) (اناستو) دغه ستراتیژیک پلان د راتلونکو پنځو کلونو (۱۴۰۱ – ۱۴۰۵ ) لپاره د پرمختیایي پروګرامونو لیدلوری ټاکي او دځلورعمده برخو چي عبارت دي له تدریسی/اداري یا مدیریتي برخه، اکاډمیک پروګرامونه، بنسټیز تأسیسات اومالي یا بودجوي برخو کي دقوتونو، ناتوانیو، فرصتونو تهدیدونوشننی اوتحلیل په خاطر 1دسوات انالیزموډل څخه استفاده سوی ده.

داد اناستو پوهنتون د رهبري، استادانو ،علمي شخصیتونواو تجربه لرونکي محصلینو د ګډې هڅې پایله ده دا ستراتیژیک پلان پوهنتون ته د خپل ماموریت د پوره کولو او د اوږدمهاله اهدافو د ترلاسه کولو لپاره لارښوونه کوي. ، او د لوړو زده کړو د مخ پر ودې اړتیاوو سره د تطبیق لپاره زموږ ژمنتیا منعکس کوي، ترڅو یو جامع، نړیوال معیاري زده کړي چمتو کړو او زده کونکي په یو چټک بدلون کونکي نړیوال چاپیریال کي د بریالیتوب لپاره اماده کوي.

د اناستو پوهنتون هڅه کوي ترڅو د همدي ستراتیژیک پلان په مرسته نوي پروګرامونه پلي کړي ترڅو د رهبري، تدریسي، علمي څیړنو، مؤثره خدماتو، نویو تحصیلي ځانګو، نویو تدریسي اتاقونو، لابراتواري آسانتیاوو، د استادانو او اداري کارمندانو د ظرفیت لوړونې پروګرامونو، د ملي او نړیوالو نهادونو سره د تفاهمنامو او دي ته ورته ډیرو نورو علمي او اکاډمیکو پروګرامونو له لارې خپل رسالت ادا کړي. د اناستو پوهنتون د خپل ژمن کاري ټیم په مرسته وکړای سو ،چي د هیواد په کچه په لومړي ځل د زراعت او مالداري په برخه کي د فوق الیسانس برنامي پلي کړي یاد پوهنتون د هیواد په کچه یو ځوان پوهنتون ګڼل کیږي، چي له تیرې یوې لسیزې راهیسې یې اکاډمیک فعالیت شروع کړی ده او تر دې مهاله یې دفوق الیسان برناموعلمي برخه کي د هندوستان هیواد (خپل ستراتیژیک او اکاډمیک ملګري2 IARI) سره په ګډه دري دورې محصلین د ماستري په کچه فارغ او ټولنی ته دخدمت په موخه وړاندي کړي دي او د لیسانس په کچه یې هم دهیواد ډیری ځوانان روزلي دي.

[1] SWOT Analyses
[2] Indian Agricultural Research Institute

**۴. پیژندنه**

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د هیواد په کچه لومړی زراعتي دولتي پوهنتون دی، چي په(۱۳۹۱ ل.) کال کښي دهیواد جنوب کندهار ولایت کي تأسیس سوی او یواځینی موخه یې د هیواد دننه د کرنیز سکتور په برخه کي د لیسانس د زده کړو څخه علاوه د فوق الیسانس ( ماستري او دوکتورا) په کچه د مسلکي ظرفیتونو روزل او ټولنې ته دخدمت لپاره وړاندې کول دي. د اناسټو پوهنتون ژمن دی، چي د لوړو زده کړو وزارت تر چتر لاندې د دولت او ټولنې یو ښه ملګری پاتې سي او خپل رسالت ته په کتو وکولای سي مسلکي اشخاص په نویو مهارتونو او نوښتونو سره په اسلامي او ملي روحیه وروزي ترڅو دهیواد د آبادۍ او ځان بساینې په برخه کي ترې مؤثره ګټه واخستل سي.

داناسټوپوهنتون اوس مهال د هیواد شازلمو ته د زده کړو لپاره ۴ پوهنځی او ۱۷ بیلابیلي څانګي لري چي د ۸۰ تنه علمي کادرونو له خوا ۴۷۵ تنه محصلانو ته د لیسانس او د هغه څخه علاوه د هندوستان هیواد د IARI پوهنتون استادانو له خوا د ماسټري او دوکتورا تر کچي علمي او اکاډمیک خدمتونه وړاندی کوي. د اناسټو پوهنتون د تدریسی/اداري، اکاډمیکو او تحقیقاتي چارو د پرمخ بیولو لپاره ۶۸ خدماتی کارمندانو تر څنګ دوه کمپسه په لاس کي لري لومړي کمپس چي دکندهار ولایت هوایي ډګر په څنګ کي جنوب طرف ته موقیعت لري (۴۵۹۰) جریبه کرنیزه ساحه لري چي د پوهنتون په ملکیت کي درج ده او دوهم کمپس یې دعینومینی په ښارګوټی کي د کابل- کندهارعمومی سړک په څنګ کي موقیعت لري (۱۰۰) جریبه ساحه په بر کي نیسي . یاد پوهنتون و کولای سول چي په ډیره کمه موده کي دخپلو کادري استادانو ته د سیمي او نړۍ په کچه په معتبرو پوهنتونونو کي دلوړو زده کړو زمینې په برابره ولوسره ددوی علمي سویې اوتحصیلي درجي اوچتې کړي او دمګړۍ تر ٪۷۰ فیصده زیات استادان یی د ماسټري او دوکتورا په کچه لوړې زده کړې لري. د اناسټو پوهنتون د ۱۴۰۰ ل. کال په بېلابېلو کودونو کښي منظور سوې بودجه ٪۹۸ سلنه په مصرف رسولی ده، چی د یاد ۱۴۰۰ل. کال لپاره (۸۳۰۴۵۷۱۸) دری اتیا میلیونه، پنځه څلویښت زره، اووه سوه اتلس افغانۍ بودجه د لوړو زده کړو وزارت څخه تر لاسه سوي، چي د هغې جملی څخه یی (۸۱۵۵۳۹۱۶) یو اتیا میلیونه، پنځه لکه، دري پنځوس زره، نهه سوه شپاړلس افغانۍ په مصرف رسولي ده.

سره د دې چي اناسټو پوهنتون په اکاډمیکه برخه کي زیاتې لاسته راوړنې لري ولې په دې حقیقت سترګې نه سو پټولای، چي یاد پوهنتون په زیاتو برخو کي پاتې راغلی او نه دی توانیدلی، چي د خپلو شته فرصتونو څخه اعظمي ګټه پورته کړي. د محصلینو د جذب په برخه کي یاد پوهنتون له جدي ننګونو سره مخ دی او نه دي توانیدلی چی په دی برخه کي له خپلو موجوده ظرفیتونو څخه اعظمي ګټه واخلي. د پوهنتون په انګړ کي د محصلینو لپاره د لیلیې امکانات په نشت حساب دي، سپورتي اسانتیاوي، لوبغالی او تفریحي پارکونه هم شتون نه لری. د اړیکو او انسجام په برخه کي شته ستونزې په ځای پاتې دي او د اکاډمیکو تفاهمنامو په برخه کي لاهم ډیر مزل پاتې ده. لکه څنګه چي لازمه ده نه دي توانیدلي له شته فرصتونو څخه اعظمي ګټه

پورته کړي. د مالي سرچینو کمښت د پوهنتون د پرمختګ په برخه کې جدي ننګونه ګڼل کیږي په همدې سبب ویلای سو چي د اناستو پوهنتون د لا ښه خدماتو په وړاندې کولو کې له جدي ستونزو سره مخ دی. د خوښي خبره دا ده چي دااستو پوهنتون دلوړ رتبه کادرونو سربیره پراخي کرنیزي ساحي هم په واک کي لري، چي په مرسته یې کولای سي د کرني په سکتور کي علمي څیړني د نړیوالو معیارونو سره سم په مخ یوسي ددغه ستراتیژیک پلان په صحي تطبیق سره به وکولایسو، چي پورته ذکر سوي ستونزې تر ممکنه حده راکمي کړو او د پوهنتون د پرمختګ په برخه کې شته خنډونه تر یوه بریده له مخي لیري کړو او په تطبیق سره یې په تدریسي/اداري، اکاډمیکو او څیړنیزو برخو کې د زیاتو لاسته راوړنو شاهدان واوسو. د نوموړي پوهنتون د موجوده رهبري، ژمن کاري ټیم سربیره دهیواد دلوړو زده کړومحترم وزارت ځانګړي پاملرنه او همیشنی همکاري موږ ته ډاډ راکوي، چي د پوهنتون د پرمختګ اوږدې لارې را لنډې او پر بنیاد یې د اناستو پوهنتون خپل اصلي مسیر ته را وګرځوو ترڅو خپلو موخو ته ځان ورسوو او خپل رسالت په خپله ټولنه کي په ښه ډول ادا کړو.

**په ۱۴۰۰المریز کال کې دعلمي رتبی پربنیاد داستادانو شمېر**

| جنسیت | پوهاند | پوهنوال | پوهندوی | پوهنمل | پوهنیار | نامزد پوهنیار | پوهیالی | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **نارینه** | ۲ | ۰ | ۲ | ۱۴ | ۳۵ | ۱۳ | ۱۴ | ۸۰ |

**په ۱۴۰۰ کال کې دتحصیلي درجي پربنیاد داستادانو شمېر**

| جنسیت | دوکتور یا Ph D | ماستري | لیسانس | ټول |
|---|---|---|---|---|
| **نارینه** | ۰ | ۴۵ | ۳۵ | ۸۰ |







۱. ګراف: د اناستو پوهنتون د استادان د علمي رتبو او تحصیلي درجو پر اساس راته ښئي

### ۵. د مخکني ستراتيژيک پلان د برياليتوب کچه او د ناکامی لاملونه

اناستو پوهنتون يو ځوان پوهنتون دي او ځوان استادانو د تجريبو د مخکني ستراتيژيک پلان د پلي کولو په پايله کي ډېري لاسته راوړني لرو او يو لړ ستراتيژيکو اهدافو ته رسيدلي يو، خو بياه د ځينو لاملونو له امله ونه توانيدو چي خپل يو شمېر ستراتيژيک اهداف په ټاکلي وخت کښي ترلاسه کړو. هغه عمده لاملونه او ستونزي چي زموږ د تير ستراتيژيک پلان په پلي کولو کي د خنډونو په توګه په ګوته سوي په لاندي ډول دي.

#### ۵-۱. د برياليتوب کچه

د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د رهبري، استادانو او کارمندانو د ښه او پر وخت کړونو د مخکني ستراتيژيک پلان د پلي کولو په پايله کي ډېري لاسته راوړني لرو او يو لړ ستراتيژيکو اهدافو ته رسيدلي يو.

1. د علمی کادر غړو (ماستری او دوکتورا) تحصيلی سندونه تر لاسه کول.
2. د کندهار پوهنتون د کرهنې پوهنځي د اناستو پوهنتون سره يو ځاي کول.
3. په بيلابيلو څانګو کښي د فوق ليسانس برنامو شروع کيدل.

#### ۵-۲. د ناکامي لاملونه

1. د اناستو پوهنتون د علمی، تدريسی، زيربنايی پروژو پلي کول او تدارکاتي سيستم کړني د کرونا له امله د ځنډ سره مخ سو چي د پوهنتون د ستراتيژيک پلان په پلی کولو کښي زياتی ستونزی رامنځته سولي. همدا شان د کرونا او ناروغيو لامله يې نه يوازي د پوهنتون په کچه بلکه د وزارت او هيواد په کچه علمي، پرمختيايي تدريسي او نورې برنامې معطل او د خنډ و ځنډ سره مخ سوي چي د تحصيلی دورو ستونزی هم رامنځته سوي.
2. د ځينو پيچلو لوايحو کړنلارو او اوږدو پروسيجرونو او پروسو شتون د بيلګي په توګه د نويو علمي برنامو د ايجاد اوږدې پروسې او د اوږدو، پيچلو تدارکاتي پروسو موجويت.
3. د علمي پراختيايي، مالي او نورو برخو کښي پر وخت نه همږغي.
4. د بشري ځواک کمښت ( مسلکي، اداري او خدماتي).

### ٦. ليرليد (Vision)

د افغانستان د کرنيزو علومو او ټکنالوژی ملي پوهنتون غواړي چي په ملي او سيمه ايزه کچه د کرهنې او مالداری د عصري کېدو په برخه کي د مسلکي او بشري ځواک په مټ د تدريسي او څېړنيزو خدمتونو په وړاندي کولو سره په ملي او سيمه ايزه کچه يو مخکښ پوهنتون واوسي

### ۷. مأموریت ( Mission)

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د علمي څېړنو په تر سره کولو او له عصري ټکنالوژۍ څخه په استفادې سره د کرهنې او مالدارۍ په برخه کې د ټولنې اړتیاوو سره سم، د لیسانس او فوق لیسانس په کچه مسلکي او ژمن کادرونه روزي او د هیواد اقتصادي پیاوړتیا او ثبات په برخه کې خپل مسؤلیت ادا کوي.

### ۸. ارزښتونه ( Merits)

— اسلامي ارزښتونو ته ژمن اوسیدل: موږ ژمن یو چې ټول فعالیتونه د اسلام مبارک دین په چوکاټ کې ترسره کړو.

— هیواد پالنه: هیوادنۍ مینه د هیواد د بقاء او پرمختګ اصل دی، په دې اساس د هیواد علیا ارزښتونو ته درناوی زموږ د هڅو بنسټ تشکیلوي.

— ریښتینولي: په فعالیتونو کې صداقت او ریښتینولي زموږ اسلامي، انساني او اخلاقي غوښتنه ده، په خپلو ټولو کړنو کې دغه اصل په نظر کې نیول کیږي.

— عدالت: عدالت د پرمختګ له بنسټیزو اصولو څخه شمېرل کیږي، موږ هڅه کوو چې دغه اصل هېڅکله له پامه ونه غورځوو.

— د تعصب په وړاندې مبارزه: موږ ژمن یو چې تل د تعصب په وړاندې مبارزه جاري وساتو او متعصبو اشخاصو څخه خپل چاپېریال پاک کړو.

— کیفیت زموږ اولویت دی: ټولې کړنې په لوړ کیفیت او غوره توګه ترسره کول زموږ د کړنو بنسټ تشکیلوي، تل کوښښ کوو چې بې کیفیته کړنو ته اجازه ورنکړو.

— ګډ کار کول: د یو ټیم په توګه کار کول د بریالي مدیریت رمز بلل کیږي او ټولې کړنې د ګډ کار په اساس تنظیمیږي، د اناستو پوهنتون همدي اصل ته ژمن دی.

— نوښتونه: نوښتونه رامنځته کول د پرمختګ مهم عنصر او د هیواد د پرمختګ اساس تشکیلوي، هڅه کوو نوښتګر اشخاص وهڅوو او نوښتګر چاپېریال رامنځته کړو.

— مسؤولیت قبلونه: هڅه کوو چې ټول کارکوونکي د مسؤولیت قبلونې اصل ته تل ژمن پاتې سي او په دې توګه ټولې کړنې په خپل وخت ترسره سي.

— اکاډمیکه آزادي: علمي پرمختګ له اکاډمیکي ازادۍ سره تړلی ده، همدي اصل ته په کتو سره تل هڅه کوو چې خپل اکاډمیک چاپیریال ازاد او خپلواکه وساتو.

— اصولو ته ژمنتیا لرل: موږ کوښښ کوو، چې ټاکلې اصول په ټولو اړوندو اشخاصو په یوشان پلی کړو او غیرقانوني کړنو ته اجازه ورنکړو.

— شفافيت او حساب ورکونه: هڅه کوو ټول فعاليتونه په پوره شفاف ډول ترسره او تل خپل ولس او مسؤلينو ته د حساب ورکونې لپاره چمتو و واسو.

## ۹. د پوهنتون ستراتيژيکی موخی

د اناسټو پوهنتون لپاره ستراتيژيک اهداف د پوهنتون ستراتيژيک پلان د کميټې، رهبري هئيت او د پوهنتون د نورو د نظر د خاوندانو په ګډو هڅو او زيار سره ترتيب سوي ده. د دي پنځه کلن ستراتيژيک پلان په جوړونه کي د کمي ستراتيژيک پلان جوړونې ماتريکس ( Quantitative Strategic Planing Matrix- QSPM) ميتود نه کار اخيستل سوی او بر بنياد يې لومړی لوی او فرعی اهداف په نښه سوي او ورسته نظر د دوی اهميت ته يې لومړيتوب په پام کی نيول سوی ده . همدغه ستراتيژيک پلان د کرهنې او مالداری، کرنيزي پراختيا، د غذايي تکنالوژی او د دې سکتور د ميکانيزه کولو په برخو کي د پرمختګ په موخه ترتيب سوی دی. په دې پلان کي درې عمده برخي د پرمختګ د مختلفو اړخونو په توګه پيژندل سوي لکه په لوړه کچه د ځوانو کادرونو روزل، مسلکي او کاري روحيه خپرول او هغو اهدافو ته چي په ليرليد او رسالت کي واضح سوي دي ځان رسول. د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون ستراتيژيک پلان جوړونې څخه موخه د لوړو زده کړو د بهير چټکتيا او ښه والی دی تر جو په ټولنه کي دشته ناورينونو او ستونزو پای ته رسېدو په برخه کي خپله ونډه واخلي، پوهنتون د ټاکلو ارزښتونو ليدلوري او معيارونو په پام کي نيولو سره داسې وړ مسلکي او معياري کادرونه روزي چي د ټولنې په پرمختګ او د ستونزو په حل کي د خدمت وړاندې کولو جوګه سي. د پوهنتون لرليد او رسالت ته په کتو سره د اناسټو پوهنتون اړونده فعاليتونو د ښه انسجام او د ښو تحصيلي، تحقيقي او کاري پرمختګونو ترلاسه کولو په پار لاندي عمده ستراتيژيکي موخې ټاکلي دي:

1. په مسلکي او تخصصي کچه د بشري ځواک روزل.
2. د څېړني، توليد او ترويج له لاري د کرني او مالداري سکتور پياوړی کول.
3. د علمي او تحصيلي چارو په برخه کښې په ملي او نړيوالو معيارونو سره د پوهنتون عيارول.
4. د کرهڼي او مالداري په برخو کي د نوي تکنالوژی ترويجول.
5. د ودانيو پراختيا او تجهيز کول.

## ۱۰. د لوړو زده کړو وزارت د لسګونو لويو موخو په رڼا کي د پوهنتون بنسټيزي موخې او برنامې

### ۱۰-۱. لومړی لويه موخه: د علمي څېړنو او نواوری پراختيا او هڅونه

په ټولنه کي د علمي څېړنو، نوښتونو او انتقادي تفکر عامېدل د پوهنتونونو او اکاډميکو جوړښتونو بنياد تشکيلوي او اکاډميک چاپېريال د پرمختګ له پاره ډېري اړيني لاري دي. پوهنتون به په خپلو ورځنيو چارو کي په علمي، تدريسي، تحقيقي او اداري چارو د ښه پرمختګ په موخه و دريو ارزښتونو (علمي څېړني،

نوښتونه او انتقادي تفکر عامیدل) ته ډېره پاملرنه او خاص ارزښت ورکوي او هلي ځلي به کیږي، چي له دې لاري پوهنتون خپلو لوړو مرحلو او ټاکلو اهدافو ته ځان ورسوي.

د علمي او اکاډمیکو اورگانونو (پوهنتونونه) له ډېرو مهمو ارزښتونو څخه د علمي څېړنو په موخه د سهولتونو او امکاناتو آماده کول دي، ترڅو د خپلو څېړنیزو کړنو له اړخه په خپل سکټور کي ستونزو او مشکلاتو ته رسیده گي وسي. پوهنتون به په دې برخه کي هر اړخیزي هلي ځلي او لاندنې کړنې سرته رسوي:

- ✓ په څېړنیز مرکز کي د مادي او معنوي امکاناتو او سهولتونو آماده کوي.
- ✓ د موجوده لابراتوار په ښه بڼه او ښو امکاناتو تجهیزول.
- ✓ د دولتي، غیر دولتي او نړیوالو ادارو سره چي د کرنې او مالداري په سکتور کي کار کوي د ښو اړیکو را منځته کول، ترڅو د هغوی ستونزې رابرسېره او د علمي څېړنو له مخې د حل لاري موندل.
- ✓ علمی مجلې او نورو علمي نشراتو له لاري د څېړنو پایلې خپروي.
- ✓ د سیمي او نړیوالو پوهنتونونو سره د ګډو څېړنیزو چارو (Joint Reaserach) ترسره کوي.
- ✓ د هیواد د پوهنتونونو د کرهنې او وترنري پوهنځیو، د کرني، مالداري او اوبو لگولو د اړوند ریاستونو، د علومو اکاډمي څېړنو له برخو سره په ګډه څېړنیزي چارې ترسره کوي.
- ✓ د څېړنیزو چارو د ترویج په موخه د هیواد په کچه هلي ځلي کوي.

په نړیواله کچه څېړنې او د څېړنو لپاره پلان جوړونه د پوهنتونونو د ودې او پرمختګ په برخه کي خپل ځانګړی رول لوبوي. هره ټولنه د ستونزو د حل او پرمختګونو را منځته کولو په غرض علمي څېړني ترسره کوي. د څېړنو پواسطه پوهنتونونه په خپلو صادراتو او عوایدو کي زیاتوالی راولي چي په نتیجه کي یې هم ټولنه له ستونزو خلاصیږي او هم له نورې نړۍ سره د سیالی جوګه کیږي بنا د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژي ملي پوهنتون هم په راتلونکو پنځو کلونو کې ژمن دی چي د علمي څېړنو د ترسره کولو او ودې ورکولو لپاره لاندې کړنې ترسره کړي:

- ✓ ټولنیزو او ساینسي علومو لپاره د څېړنیز مرکز ایجادول.
- ✓ د استادانو او محصلینو تحقیقاتو لپاره د سهولتونو برابرول.
- ✓ د څېړنو په برخه کي د هیواد په سطحه د دولتي او خصوصی پوهنتونونو ترمنځ د کنسورشیم (اتحاد) رامینځته کول ۱۴۰۳ ل.
- ✓ د پوهنتون په سطحه د مرکزی لابراتوار ایجاد او په معیاری وسایلو برابرول ۱۴۰۳ ل.
- ✓ د پوهنځیو په سطحه د لابراتوارونو معیاری کول ۱۴۰۴ ل.
- ✓ تحقیقاتو آمریت اداری او علمی خدماتو لپاره ځانګړی ساختمان جوړول ۱۴۰۴ ل.
- ✓ تحقیقاتو په برخه کي د استادانو او محصلینو ظرفیت لوړونه.

- ✓ استادانو او محصلینوڅیړنیزو پروژو لپاره مالي امکانات (Research grant) ترلاسه کول څیړونکو محصلانو او استادانو ته اړیني اسانتیاوی برابرول.
- ✓ علمی څیړنو عصری او په معیار برابر سیستم را مینځته کول.
- ✓ د پوهنتون په سطحه په مختلفو ریشتو کي نړیوال ژورنالونو ایجادول ۱۴۰۵ ل. (ټولنیزو علومو کي).
- ✓ د پوهنتون او پوهنځیو په سطحه د ملی ژورنالونو لپاره د عمومی دیتابیس او ویب سایت رامینځته کول او ټول ملی ژورنالونه انلاین کول ۱۴۰۴ ل.
- ✓ د پوهنتون په سطحه د ملی کنفرانسونو دایرول ۱۴۰۳، او ۱۴۰۵ ل. کلونو کي.
- ✓ د پوهتون په سطحه بین المللی کنفرانسونو دایرول ۱۴۰۳ او ۱۴۰۴ ل. کلونو کي.

**۱۰-۱-۱. نوښت رامنځته کول او دودول**

پوهنتون به نوښتګر استادان او کارکوونکي دې ته هڅوي چي په خپلو ورځنیو چارو کي نوښت رامنځته کړي او هغه نوښت به د پوهنتون، سیمي اوهیواد په کچه نورو مسلکي کارکوونکو ته ور وپیژني، ترڅو هغه په عمومي کچه وستایل سي. د دې موخي د ترلاسه کولو له پاره به پوهنتون لازم سهولتونه، امکانات او ټکنالوژي آماده او لاندني کړنې ترسره کوي ترڅو نوښت ګر ځوانان نور هم و هڅول سي، خپل استعدادونه په کار واچوي او په پوهنتون کي د نو آوریو فرهنګ عام سي:

- ✓ د نوښت د ځرنګوالي په اړه استادانو او محصلانو ته په داخل او بهر کي د روزنیزو برنامو امکانات برابروي.
- ✓ د نوښتګرو استادانو او محصلانو ځانګړي کمېټې ایجادوي او د تشویق (هڅونې) لپاره لاړښوونې ترلاسه کوي.
- ✓ د نوښتګرو ځوانانو له پاره د لازمې او ضروري تکنالوژۍ او سهولتونه آماده کوي.
- ✓ د نوښتګرو ځوانانو له پاره په ملي، سیمه ایزه او نړیواله کچه د مادي او معنوي امکاناتو ترلاسه کوي.
- ✓ کېدای سي نوښت ګر ځوانان(استادان او محصلان) د خپلو مقالو د چاپ په موخه ځانګړې مجله او یا د پوهنتون د علمي مجلې (زرغون نوښت) څخه په کار اخیستلو سره خپلي مقالې خپرې کړي.

**۱۰-۲. دویمه لویه موخه: اداره او رهبري، د سیستم جوړول او فساد له منځه وړل.**

**۱۰-۲-۱. رهبري**

په هره اداره کي موخو ته د رسېدو لپاره مدیریت او رهبري له بنسټیزو عناصرو څخه ګڼل کیږي. نن ورځ اداري او سازمانونه له سالم او اغیزناک مدیریت د نشتون او هم د منسجمې او ښې اداري او رهبري پرته نسي کولای چي خپلې موخې ترلاسه کړي افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د هېواد قوانینو او د لوړو زده کړو وزارت ستراتیژیو ته په پام سره خپلې چارې ترسره کوي او د ښې رهبري په پلي کولو او

سالمې رهبرۍ د رامنځ ته کولو په برخه کې بې دریغه هڅې او کوښښونه کوي. په دې برخه کې د اړتیا وړ ورکشاپونه، روزنیز پروګرامونه او نورې مسلکي ښونیزي برنامې استادانو علمي کادري غړو او کارکونکو ته په پام کې نیول سوي دي.

**۱۰-۲-۲. مالي، اداري او علمي خپلواکي**

د افغانستان د لوړو زده کړو د وزارت د پالیسۍ سره سم پوهنتونونه د هغوی ظرفیتونو ته په کتو په خپل وار سره مالي استقلالیت ورکول کیږي، دا چاره لا د وړاندې شروع سویده چې لمړی د مرکزي پوهنتونو څخه شروع همداشان په ترتیب د زون په کچه مرکزي پوهنتونه او په بلاخره ټولو دولتي پوهنتونوته وغځول سي. د دي پلان د تطبیق سره به پوهنتونونه وکړای سي چې د پولي عایداتو منابع تر لاسه او په خپلواکه توکه ئې په مصرف ورسوي. د اناستو پوهنتون هم ددې ستراتیژیک پلان دپلي کیدو سره سم غواړي یو شمېر عایداتي سرچنیي پیداکړي چې لاندي بې په تفصیل سره یو په یوه یادونه سوي ده. په دي برخه کې تر ټولو لومړۍ اړتیا د مالي خپلواکۍ لپاره د عایداتي سرچینو پیداکول، د اناستو پوهنتون غواړي چې یو شمېرعایداتي د شپې پوهنځی او ماسټرۍ پروګرام په پیلېدو سره او همدارنګه د ترنک فارم د کرنیزو ساحو څخه په ګټه اخیستنه سره د کرهنې او مالدارۍ په برخه کې د پام وړ عایداتي سرچینی ایجاد کړي. د اناستو پوهنتون خپلو امکاناتو او اسانتیاو وته په کتو د مالي سرچینو په لټه کې ده او غواړي له دي اړخه پوهنتون د مالي اړخه په خپلو پښو ودروي. د مالي استقلالیت عمده سرچیني په لاندې توګه ذکر سوي دي:

1. د بیلابیلو مرستندویه ادارو او ملي تجارانو څخه د مالي اعانو او مرستو ترلاسه کول.
2. د پوهنتون د مالدارۍ او کرني اړوند تولید کول او اړونده تولیداتو لپاره بازار پیداکول.
3. د شپې پوهنځي ایجادول.
4. د فوق الیسانس پروګرامونه شروع کول
5. د فیس ( اجوري ) په بدل کي د پوهنتون د لابراتوارونو په مرسته د بیلابیلو ټیسټونو ترسره کول.
6. د ماهیانو،شاتومچیو او نورو په روزني سره عایداتي منابع رامنځ ته کول.
7. د معیاري شنو خونو په جوړلو سره د کال په هرموسم کي سبزیجات بازارته وړاندي کول.
8. سیمېزواو نړیوالو ادارو سره د څېړنو په برخه کي د مرستو په بدل کي عایدات ترلاسه کول.
9. د کرنیزو تولیداتو موسمي نندارتونونه جوړول

معیاري او با کیفیته لوړې زده کړې د پوهنتونونو او علمي نهادونو د مالي اداري او علمي خپلواکۍ د لرلو مستلزم دي. ټول هغه تحصیلي نهادونه او اکاډمیکي ادارې چې په ورته برخو کي د خپلواکی د لرلو اړوند له خانه وړتیاوې ښودلي دي او واک ور کړل سوی چې خپله بودیجه خپله مصرف کړي او لویې علمي برخې تر خپل کنترول لاندي لري تر نورو علمي نهادونو او پوهنتونونو به له یوې خوا زیات اغیزناک، مبتکر او خلاق وي او له بلې خوا به یې چارې رڼې وي او بیروکراسي او د اداري فساد کچه به پکښې د نشت برابر وي. دا ډول اداري به د دې وړتیا ولري چي لازمي تدریسي اړتیاوو درک کړي معیاري علمي څېړنې ترسره

کړي، ټولنې ته با کیفیته خدمتونه وړاندي کړي او غیر مترقبه ستونزو ته د زیر بنا و په برخه کي به موثر او پر وخت ځواب وایي. همدا راز به نوموړي موسسې او نهادونه دا وړتیا ولري چي د ځانګړو پروژو د طرحه کولو او پلي کولو لپاره مالي مساعدتونه را جلب کړي او له نوموړو پیسو څخه د مالي استقلالیت د مقررې له مخې پرځای او معقوله استفاده وکړي. هغه پوهنتونونه چي له ځانه وړتیا ښایي او کافي شمېر بې ځاني او مستقل عایداتي سرچینې لري، باید د مالی استقلالیت پراخه واک ورکړل سي ترڅو وسي کولای په خورا خپلواکی او با صلاحیته ډول خپل فعالیتونه ترسره کړي.

افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د لوړو زده کړو د یوه دولتي پوهنتون او د علمي کورنی د حساب وړ غړي په توګه په فعالیت بوخت دی. د دې پوهنتون بودیجه د قوانینو او تقنیني اسنادو په رڼا کي د افغانستان اسلامي دولت له خوا تمویلیږي او د معمول له مخې په مختلفو زماني فاصلو کي د دولت له عادي بودجې څخه تامینیږي او اړتیاوو ته په پام سره مصرفیږي .

د لوړو زده کړو وزارت له اوږد مهاله پلانونو څخه یو هم د پوهنتونونو مالي پرځان بساینه ده نو د وزارت د پلان مطابق او د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون شته اړتیاوو او وړتیاوو ته په پام سره افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون دوامداره هڅې کوي ترڅو د پوهنتون په کچه عایداتي سرچینې په ګوته کړي او په پوهنتون کي شته امکاناتو او وړتیاوو څخه په ګټې اخیستنې ځان د مالي خودکفایي او استقلالیت تر بریده ورسوي.

له همدې جهته ده چي نن ورځ د پوهنتونونو د مالي استقلالیت طرحې د ستونزو او تشو د رفع کولو په برخه کي غوره تګلاره ګڼل کیږي افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون خپلو شته ظرفیتونو وړتیاوو او کافي عایداتي سرچینو ته په کتنې سره راتلونکو څو کلونو کي د خپلې مصرفي بودیجې یوه برخه د خپلو وړاندیز کېدونکو طرحو او برنامو له لاري تامین کړي.

د مالي استقلالیت د ترلاسه کولو په برخه کي د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون مستقمي عایداتي سرچینې

- د فوق لیسانس (ماستری، دوکتور او فوق دوکتورا) زده کړو د شرایطو برابرول، اړوند و برنامو ته پرختیا ورکول او د نویو برنامو ایجادول.
- افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون به د خپلو تحصیلي، تحقیقي او مشورتي خدماتو لپاره د بازار موندنې مرکزونه را منځته کړي تر څو د خپلو خدماتو په بدل کي په مستقیم ډول ګټه ترلاسه کړي.
- افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون به د ملي او نړیوالو ادارو او موسساتو د تحقیقاتي سروېګانو او نورو پروګرامونو د تطبیق په برخه کي یو منظم پروګرام ډیزاین کړي او لدې لارې به هغوی سره د ګډ کار په پایله کي مناسبه مالي ګټه ترلاسه کړي.

- افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون به د سکالرشیپونو او علمي خدماتو په برخه کي له نړیوالو ډونرانو سره کاري اړیکي را منځته کړي او په دې ډول به نړیوال Grant او مالي مرستې ترلاسه کړي.
- افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون به د خپلو علمي برنامو د معیاري کولو سره سم د یو ځانګړي میکانیزم له مخې د بهرنیو محصلانو د جذب پوره ظرفیت ترلاسه کړي او له دې لارې به کافي مالي ګټه ترلاسه کړي.
- افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون به د مختلفو پوهنځیو پر مټ د هغوی کاري ساحې ته په پام سره، د دولت او نړیوالو موسساتو د پروژو د تطبیق په برخه کي په مستقل ډول او یا به د Implementing Partner په توګه مختلفې پروژې تدارک او تطبیق کړي د بیلګې په ډول د انجینری پوهنځیو پرمټ د ودانیزو، سړک جوړوونې او نقشو ډیزاینولو، د وترنری علومو د پوهنځي له لارې د حیواني کلنیکي خدماتو، د کرني پوهنځي له لارې د کرنیزو پروژو د کمپیوټر ساینس پوهنځي له لاري د ټکنالوژیکي خدماتو ... په برخه کي د پروژو د تطبیق له لارې ګټه ترلاسه کړي.
- افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون به نورو دولتي او نادولتي اداراتو ته خپل له اړتیا اضافي املاک او مځکي د کښت او کروندي لپاره د پروژو د پلي کولو، د کرایي او اجارې په ډول د ورکړې او نورو قانوني لارو چارو پربنسټ د ځانګړو تړونونو له مخې په واک کي ورکړي او له دې لارې به یوه زیاته اندازه مالي ګټه ترلاسه کړي.
- افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د لیسانس او فوق لیسانس په کچه خپلو برنامو ته پراختیا ورکړي، په ځانګړي ډول شته برنامو ماستری او دوکتورا برنامو ته او له دې لارې به یوه ډېره اندازه مالی ګټه ترلاسه کړي. افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون به د نورو دولتي شرکتونو سره د خپل سهم پانګې د ورکړې په بدل کي د شرکتونو د سهم لرونکی په توګه د هغوی غړیتوب ترلاسه کړي او شرکت د سهم لرونکي په توګه به د ګډ کار په بدل کي مناسبه مالي ګټه ترلاسه کړي.
- افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون به دولتي او نادولتي اداراتو ته د ټاکلو پیسو په بدل کي یا د کرایې په ډول خپل کنفرانس هالونه ادیتوریم د هغوی د پروګرامونو یا Events لپاره په واک کي ورکړي او له دې لارې به یوه اندازه مالي ګټه ترلاسه کړي.
- افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د خپلو مالي اړتیاو د پوره کولو لپاره کولای سي چي فند رایزنګ Fundraising ځینې برنامی را منځته کړي او په دې ډول له ټولنې څخه په ځانګړي ډول د خپلو فارغو محصلانو د ګډون څخه یوه اندازه عاید راټول کړي.

**۱۰-۲-۳. د تخنیکي او بنسټیزو چارو پیاوړي کول**

- د پوهنتون په اړونده برخه کې تشکیل بالکل کم دي، ورځنیو چارو ته لکه څرنګه چې لازمه ده رسیده ګي نه سي کېدلای، د چارو د ښې رسیده ګی او پرخپل وخت د کړنو په موخه د ضرورت سره سم د تشکیل ترڅنګ د مسلکي او کاري وړتیا لرونکو کارمندانو استخدام مهم اصل دی.
- د ډیټابېس د څانګي له پاره ځانګړې او خوندي څانګه جوړول
- د نیټورک د خدماتو د مدیریت له پاره د څانګي جوړول
- د سافټ وېر د خدماتو د مدیریت له پاره د څانګي جوړول
- د ویب سایټ د خدماتو د مدیریت له پاره د څانګي جوړول
- د هارډوېر د خدماتو د مدیریت له پاره څانګي جوړول
- د (E-learning) د خدماتو د مدیریت له پاره د څانګي جوړول
- د هرې پوهنځي او د فارم له پاره د آي ټي یو تنظیم کوونکي درلودل
- په هیواد کي دننه او له بهرنیو پوهنتونونو سره د آنلاین زده کړو د سیستم فعالول او په کار اچول

**۱۰-۲-۴. د فساد پر وړاندې مبارزه**

د اداري فساد شومه پدیده د نړۍ په اکثریت هیوادونو کي په مختلفو اشکالو شتون لري،اداري فساد یوازي په مالي برخو پوري تړلي نه دي د مثال په ډول په خپل وخت چارو ته نه رسیده ګي، د مراجعینو ستونزو ته پر خپل وخت نه رسیده ګي او د هغوی وخت ضایع کول، په تدریسي پروسه کي د وخت نه مراعات، په علمي او اکاډمیکو چارو کي غفلت او بې تفاوتي، د محصلانو په ارزونه کي د عدالت د نه مراعات او د مختلفو لارو پر هغوی فشار راوړل ترڅو د استادانو او یا با نفوذه خلکو غوښتني پوره کړي، د کادري، اداري او خدماتي پرسونل د استخدام په پروسه کي د شفافیت نه مراعات کول، په تحصیلي، اداري او مالي اسنادو کي لاسوهنه، د مادي او مالي امتیازاتو په ورکړه کي د انصاف او عدالت نه مراعات کول، د دولتي شتمنیو او ملکیتونو څخه ناوړه ګټه اخیستل او... شامل دي. نو لازمه ده په ورځنیو پلان کړل سویو چارو کي د فساد سره د مبارزې له پاره تګلارې او کړني ترسره کړو:

**۱۰-۲-۵. د پوهنتون په سطحه د فساد پر وړاندي د کمیټې جوړول**

د پوهنتون اداره د فساد سره د مبارزې په لاره کي کلک تعهد او هوډ لري، د دې مبارزې لومړی ګام د کمیټې جوړول دي.په دې کمېټه کي استادان، محصلین، مأمورین او حتی خدماتي کارمندان هم غړیتوب لري.دا کمېټه به هر اړخیزه هلي ځلي کوي او د خپلو فعالیتونو په اړه به خپل کاري راپور د پوهنتون د رهبري سره شریکوي. د دې هدف د ترلاسه کولو له پاره په لاندي توګه کړني ترسره کیږي:

- ✓ د فساد د مختلفو ډولونو د مخنیوي او د له منځه وړلو په موخه د پلان سره سم توضیحي برنامې په کار اچول او د فساد سره د مبارزې په مختلفو لارو چارو لکچرونه ورکول.
- ✓ د بشري سرچینو د مسئولینو او کارمندانو له کړنو څخه په جدي او عادلانه بڼه نظارت کول.

- ✓ د تدارکاتي چارو څخه په جدي او عادلانه توګه نظارت کول.
- ✓ د هغو برخو څخه چې مالي عایدات ولري په جدي بڼه تر نظارت لاندې نیول.
- ✓ د تحصیلي پروسې، د آزموینو، د ډیپلومونو او تیزیسونو د دفاع د پروسو څخه جدي نظارت کول.
- ✓ د علمي او تحصیلي برنامو په برخه کې جدي پاملرنه.

**۱۰-۲-۶. د مالي او تدارکاتي چارو د اجرااتو څخه جدي نظارت او اګاهي ترلاسه کول**

- ✓ د پوهنتون د ټولو برخو او څانګو د کلني ضرورتونو تشخیصول.
- ✓ هرې څانګې ته د هغو د اړتیا سره سم د امکاناتو ورکول او د مصرف څخه یې آګاهي تر لاسه کول.
- ✓ د تدارکاتي اسنادو او طي مراحل څخه په جدي بڼه نظارت کول.
- ✓ د هرې مالي ربعي په پای کې د ټولو مصرف سویو پیسو(بودجې) په مستنده بڼه د پوهنتون رهبري او علمي شوراګانو ته ګزارش ورکول.

**۱۰-۲-۷. د بشري سرچینو د استخدام او د هغوی د کړنو څخه نظارت کول**

- ✓ د استادانو، مأمورینو او خدماتي پرسونل د استخدام پروسه په پوره شفافیت سره ترسره کول.
- ✓ د هیواد په کچه د کادری او اداري بستونو له پاره د قانون او لایحې مطابق استخدام ترسره کول.
- ✓ د ټولو علمي او غیر علمي کارمندانو د شفافي ارزوني په اړه کړني ترسره کول.
- ✓ په جدي توګه د مکافاتو او مجازاتو د پالیسي مراعاتول.

**۱۰-۲-۸. د آزموینو د اخیستلو، ارزولو او څیړنیزو چارو نظارت کول**

- ✓ د پوهنتون په کچه د آزموینې د کمېټې ټاکل.
- ✓ د لایحو او قوانینو په رڼا کې د آزموینو تنظیمول، اخیستل او پایلې اعلانول.
- ✓ د آزموینو د پایلو سره د محصلانو د قناعت په صورت کې د دوی ستونزو او غوښتنو ته قانوني رسیده ګي کول.
- ✓ د محصلانو د اسنادو او د آزموینو د پایلو د سوابقو سره په جدي بڼه د ساتلو امکانات برابرول، عملي کول او نظارت کول.
- ✓ د مقالو لیکلو او علمي ترفیعاتو د پروسو څخه جدي نظارت کول.

**۱۰-۲-۹. د اسلامي ارشاداتو او قوانینو په رڼا کې د اداري فساد په اړه پوهاوی لوړول**

- ✓ په ټولو څانګو،پوهنځیو، مالي او اداري برخو کی د اداري فساد پر ضد اسلامي اړخونه په ګوته کول.
- ✓ د پوهنتون په ټولو چارو کې د اسلامي او اداري اصولو په رڼا کې د وخت د ضایع په هکله زیانونه بیانول.

- ټولو کارمندانو ته د اسلامي ارشاداتو او وضعي قوانینو په رڼا کي په ټولو اړونده چارو کي د شفافیت او عدالت په اړه هر اړخیزه معلومات ورکول.

**۱۰-۲-۱۰. محصلانو ته د اداري فساد سره د مبارزي په اړه شرعي او قانوني معلومات ورکول**

- د سمستر په جریان کښي لږ تر لږه دوه سمینارونه دایرول.
- په ټولنه کي د اداري فساد د ریښو د کیندلو په موخه د پوهنتون ټولو محصلانو ته د اسلامي روحیې سره سم روزنه ور کول.
- د عصر د غوښتنو سره سم د اداري فساد پر ضد محصلانو ته اسلامي روحیه ورکول.
- د هر مضمون د تدریس او د نورو چارو د شروع څخه د مخه د اداري فساد پر ضد د مبارزې په موخه د یو څو دقیقو له پاره اسلامي اصول بیانول او محصلانو ته ښه اسلامي او انساني روحیه ور کول.

دا چي فساد یوه شومه پدیده ده او د پرمختګونو د مخنیوي لامل ګرځي، افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون په پام کي لري چي د خپلو اړوندو چارو په برخه کي د هر ډول فساد مخنیوي په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

- د اداري فساد مخنیوي اړوند ټولنیز پوهاوی.
- د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کي د مقرراتو لوایحو او قوانینو پلي کول او څارنه.
- په پوهنتون کي د فساد اړوند موارد و معلومول او ورته حل لارې پیداکول.
- د پوهنتون ټولو ادارو څخه څارنه.
- د مجازاتو او مکافاتو د اصل رایجول او پلي کول.
- دفتري چارې له انالوګ څخه ډیجیټل سیستم ته اړول.
- د هر ډول غیر قانوني کړنو مخنیوی کول.

**۱۰-۲-۱۱. اداري بیروکراسي**

په نړیواله کچه په ادارو کي بیروکراسي د چارو د ښه سمبالښت په برخه کي یوه منل سوې ستونزه ګڼل کیږي، بیروکراسي له سرچینو څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې او ټاکلو موخې ته د رسیدو پر وړاندې د بنسټیزو خنډونو له جملې څخه ګڼل کیږي پر همدې اساس پوهنتون تل هڅه کوي چي د چارو د چټکتیا، روڼوالي او موثریت په موخه د بیروکراسی د له منځه وړلو لپاره لاندې کړنې ترسره کړي:

I. د معلوماتي ټکنالوژی پر مټ د پوهنتوني ادارو نښلول.
II. د بریښنایي رهبري او اداري عامول او ورته اړینې اسانتیاوې برابرول.
III. په اداري پروسو کي د غیر ضروري پړاوونو لمنځه وړل.
IV. د اداري کړنو د روڼتیا په موخه د کمپیوټري پروګرامونو رامنځته کول.

V. د تدارکاتي سیستم په چارو کي نوی والی رامنځته کول چي عملاً په دې برخه کار روان دی.
VI. په اداري چاروکي گمارل سویو اشخاصو ته د مسولیت په پام کي نیولو صلاحیت سپارل.
VII. دسیستماتیکي څارنې او پلټنې د فعالیتونو ترسره کول او تنظیمول.
VIII. خدماتي څارنه او ارزونه.

**۱۰-۲-۱۲.د عملیاتی پلان تائیدول**

د ستراتېژيکو موخو لاسته راوړلو لپاره عملیاتي پلانونو او طرحې د وخت او امکاناتو په نظر کي نیولو سره د مدیریت یو بنسټیز اصل تشکیلوي، چي چارې په ټاکل سویو وختونو کي په اغیزناکه توگه د مثبتو پایلو په لرلو سره ترسره سي. پر همدې اساس، پوهنتون د چارو د ښه سمون لپاره اړینه بولي چي د ستراتېژيکو موخو د ترلاسه کولو لپاره عملیاتي پلانونه ترتیب او لاندې کړنې یې په اړه ترسره کړي:

- د عملیاتي پلان په جوړولو کي د ښکیلو خواوو شریکول.
- د عملیاتي پلانونو د ترتیب او تائید څخه ډاډ ترلاسه کول.
- د عملیاتي پلانونو د پلي کېدو او تطبیق څارنه.
- د پوهنتون د مربوطه اداري واحدونو د عملیاتي پلان د پلي کېدو شواهد راټولول او د یادو شواهد و پر اساس لازمې کړنې ترسره کول.
- عملیاتي پلانونو سره سم د اړوندو کړنو راپورونه ترتیب او وړاندې کول.
- د عملیاتي پلانونو د نه اجراء سویو چارو لپاره د تدابیري پلانونو ترتیبول.
- د عملیاتي پلانونو د اجراء لپاره د سرچینو او پایلو په نښه کول.
- داړونده خواو سره د تطبیق لپاره د پلانونو شریکول.

**۱۰-۳. دریمه لویه موخه: د تحصیلی نصاب بیاکتنه، تدوین او پراختیا.**

دا چي نړۍ او ټولنه په دوامداره توگه د بدلون او پرمختگ په حال کي ده، پوهنتونونه او تحصیلي موسسې اړ دي، چي د خپلو علمي پروگروامونو کریکولمونه د وخت، ټولني او نورو ښکیلو خواوو د غوښتنو او اړتیاوو په پام کي نیولو سره د کریکولم د بیاکتنې په ترڅ کي د نصاب موضوعاتو کي وخت په وخت نوي او مثبت بدلونونه را منځته کړي. پوهنتون د خپلو اړوندو علمي پروگرامونو د مثبت بدلون او د شرکاوو غوښتنو ته د ځواب ویلو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کي لاندې کړنې ترسره کوي:

- ✓ د پوهنتون په کچه د کریکولم د کمیټو پیاوړي کول.
- ✓ د کریکولم کمیټو غړو لپاره د اصلاحاتو په موخه نوي کړنلارې او پالیسی تهیه کول.
- ✓ د پوهنتون او پوهنځیو په کچه د علمي کادر غړو لپاره د کریکولم د نوي والي او سمون په موخه د لازمو ترینینگونو چمتو کول.

- ✓ د کریکولم په بیاکتنه او پراختیا کې د متخصصو اشخاصو فارغانو او کارګمارنې مراجعو سره مشورې کول.
- ✓ له اړتیا سره سم له نړیوالو پوهنتونونو سره د کریکولم په بیا سمون او انکشافي ملتیا له نړۍوالو معتبر و پوهنتونونو څخه د نویو چاپ سویو خپرونو او کتابونو ترلاسه کول.
- ✓ له کریکولم څخه د مطلوبو موخو د لاسته راوړلو په غرض ارزونه.
- ✓ له ټاکل سوي کریکولم سره سم د درسي موادو تهیه او برابرول.
- ✓ د کریکولم د پلي کېدو څخه د ډاډ په موخه د اړوندو علمي پروګرامونو څخه راپورونه راټولول.

**۱۰-۳-۱. د ښوونیزو موادو چمتو والی**

نن ورځ د نړۍ پوهنتونونه په دې هڅه کې دي چې د باور ترلاسه کولو لپاره خپلو علمي پروګرامونو دکریکولمونو د سمون وروسته اړونده درسي مواد د نویو میتودونو په پام کې نیولو سره چمتو کړي، چې د مناسبو ښوونیزو موادو په تدریس سره وکولای سي چې له یوې خوا د وخت شرایط او بدلونونه په پام کې ونیسي او له بلې خوا د خپلو اړوند ښکیلو خواوو غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي چې پایله به یې د مربوطه پوهنتون د لوړې درجې او باور تر لاس کول وي افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون په راتلونکو پنځه کلونو کې د ښه باور د ترلاسه کولو په موخه د خپلو علمي پروګرامونو د ښوونیز و موادو د چمتو کولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

- د نصاب او درسي موادو د سمون او ښه والي لپاره د کریکولم کمیټې چارو ته پراختیا ورکول.
- د هیواد د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د پوهنتون درسي نصاب برابرول.
- دکریکولم کمیټي کړنې د نویو میتودونو سره همغږي کول.
- په پوهنځیو کې د نصاب او کریکولم کمیټي چارو ته ځانګړې پاملرنه او پراختیا ورکول.
- د درسی موادو د پیاوړتیا په موخه د علمي کادري غړو د تالیفاتو چارو ته خاصه توجه کول او په دې برخه کې د هغوی هڅونه.
- د پې ډی سی مرکز ته پراختیا ورکول او د چارو د لا ښه والي لپاره د نورو مسلکي کسانو ګمارل.
- د پوهنتون د علمي کادر غړو لپاره د هېواد په داخل او له هېواد څخه بهر د روزنیزو پروګرامونو برابرول.
- د ټولنې او زده کړیالانو د نظریاتو ترلاسه کول او تحلیل.

**۱۰-۴. څلورمه لویه موخه: د پوهنتون د کیفیت د ښه والي لپاره څارنه او ارزونه تر سره کول.**

پوهنتونونه د خپلو ملي او نړیوالو تحصیلي معیارونو په رڼا کې د خپلو خدماتو د ښه باور ترلاسه کولو په موخه تل هڅه کوي چې په خپلو علمي او څېړنیزو پروګرامونو کې بهتروالی راولي نوموړې چارې د ملي او یا هم د نړیوالو اعتبار ورکونکو ادارو لخوا د بیا کتنې او ارزونې پروسو په بهیر کې ارزول کېږي چې په پایله

کې یې اړوند پوهنتونو نو خدمات او اعتبار بیلابیلې درجې ترلاسه کوي او د علمي او څېړنیزو چارو د نوي والي او غوره والی سبب ګرځي افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون په راتلونکو پنځو کلونو کې د ښه باور او اعتبار تر لاسه کولو لپاره د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

- ✓ دسیمه ایزو او بین المللي تضمینونکو ادارو څخه د کیفیت تضمین او اعتبار لاسته راوړل.
- ✓ په ملي او بین المللي کچه د پوهنتون د خدماتو کیفیت او درجې لوړول.
- ✓ د کیفیت و تضمین او لوړولو په موخه د اوږد مهال لپاره د مسلکي کاري ټیم لرل.
- ✓ په ټولنه کې د پوهنتون د اعتبار زیاتولو لپاره د ټولنیزو ستونزو په حل کې فعاله ونډه اخیستل.
- ✓ په پوهنتون کې د ښو زده کړو ټولې اسانتیاوې برابرول.
- ✓ د نظري زده کړو په څنګ کې عملي زده کړو ته اسانتیاوې برابرول.
- ✓ د کیفیت د ښه والي په موخه د نورو پوهنتونونو او تحصیلي موسسو سره همغږي.
- ✓ په زده کړو کې د تدریس نویو میتودونو څخه ګټه پورته کولو لپاره اسانتیاوې برابرول.
- ✓ د پوهنتون د ستراتیژیکو موخو د تطبیق لپاره له اړوند پوهنځیو او څانګو سره همغږي.
- ✓ د روزنیزو پروګرامونو پیاوړتیا او عامول.
- ✓ محصیلینو اداري او علمي کادر غړیو ته کیفیت د ښه والي د معیارونو په هکله عامه پوهاوی ورکول.
- ✓ د پوهنتون په وسیله د اړونده پروسي خدماتي څارنه او ارزونه.
- ✓ د اړونده خواوو هڅونه او ژمنی ترلاسه کول.

**۱۰-۴-۱. څارنې او ارزونې پیاوړي کول**

څارنه او ارزونه د اداري چارو د ښه تر سره کولو لپاره د مدیریت څلورم اصل دی، چې له مخې یې له یوې خوا د تېروتنو او اشتباهاتو مخنیوی کیږي او له بلې خوا داد ترلاسه کیږي، چې چارې په معیاري ډول او له پلان سره سمې پر مخ لاړې سي. پر همدې اساس څارنه او ارزونه د شفافیت رامنځته کولو او ستونزو لمنځه وړلو لپاره مهمه کړنه شمېرل کیږي او د چارو د پراختیا او پرمختګ سبب ګرځي پوهنتون له پلان سره سم د خپلو چارو تر سراوي څخه د داد ترلاسه کولو په موخه په دوامداره توګه د څارنې او ارزونې په برخه کې لاندې کړنې ترسره کوي.

i. د رهبری په کچه د چارو څخه لیدنه او تېروتنو د مخنیوي او سمون په موخه لازمې پرېکړې کول.
ii. د اداري کړنو په هکله له پوره دقت څخه کار اخیستل.
iii. د علمي او اکاډمیکو چارو د ګړندیتوب لپاره له اوږدو پروسو ډډه کول
iv. د څارنې او ارزونې لپاره د څانګړو کمیټو را منځته کول.
v. د نورمونو او معیارونو ټاکل او تطبیق.

**۱۰-۵. پنځمه لویه موخه: د برېښنايي زده کړو پراختیا او معیاري کول.**

دا چې په نړیواله کچه پوهنتونونه د حضوري زده کړو تر څنګ د غیر حضوري زده کړو پروګرامونه پر مخ وړي او د شته امکاناتو پر مټ د خپلو خدماتو پوښښ ته پراختیا ورکوي. دې موخې ته د رسېدو په پار پوهنتونونه په خپلو خدماتو کې د ټکنالوژۍ ونډه زیاته او موثره ګټه ترې پورته کوي. د علمي او څېړنیزو بهیرونو د پیاوړتیا او موثریت لپاره پوهنتونونه خپلو اړوند ښکیلو خواوو ته د برېښنايي اسانتیاوو په چمتو کولو سره هر اړخیز نوی والی او مثبت بدلون رامنځته کوي. د حضوري علمي پروګرامونو سره په څنګ کې پوهنتونونه اړ دي چې د انلاین کورسونو او ګډو زده کړو لپاره د انلاین سرچینو اسانتیاوې را منځته او ګټه ترې پورته کړي. د نوموړې چارې د ښه مدیریت په موخه پوهنتون په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي.

د برېښنايي زده کړو کمیټې ته پراختیا ورکول، د برېښنايي زده کړو په اړه علمي کادر غړیو ته د ورکشاپونو برابرول، په ټولو پوهنځیو کې د برېښنايي زده کړو عامول، د برېښنايي زده کړو د پروګرامونو پلي کېدو څخه بشپړه څارنه، د بریښنايي زده کړو د ښه تر سره کولو لپاره د یوې ځانګړې پالیسی (کړنلارې) را منځته کول، د ټولو پوهنځیو محصیلینو ته د بریښنايي زده کړو په هکله معلومات ورکول او د اسانتیاوو برابرول.

**۱۰-۵-۱. د معلوماتي تکنالوژۍ پراختیا**

پوهنتون د خپلو دندو او مسئولیتونو ته په کتو سره مسؤولیت لري ترڅو د معلوماتي او اړیکو ټکنالوژۍ ټول اړونده پرمختللي سیستمونه تأسیس او فعاله کړي څکه ټولې علمي، څېړنېزې، تدریسي، ادارې ، خدماتي او مالي چارې د معلوماتي ټکنالوژۍ سیستمونو ته اړتیا لري او د فرصت په وخت کې د هغه څخه په تخنیکي ښه جدي مراقبت وسي او د ضرورت سره سم په سیستمونو او ټکنالوژۍ کې بدلون رامنځته سي او د ټکنالوژۍ د تهیې، نصب او فعالولو ترڅنګ د اړونده برخو د کار مسئولینو ته روزنه ورکول او عندالموقع د نویو معلوماتو شریکول ترڅو په چارو کې ورروسته والی او کمښت رامنځ ته نسي، د ویډیو کنفرانس او د لري زده کړې څخه د ګټې اخیستنې په موخه د (Tele Education) سیستم فعاله او لااقل په یوه وخت کې د دریو اطاقونو(سالونونو) آماده او فعالول ضروري برېښي.د دې سیستمونو په جدي او فعاله بڼه فعالول د اوسني عصر د غوښتونو سره سم چې د لوړو مقاماتو څخه (۱-۳) ساعتونو په جریان کې د کړنو راپور او ګزارش غوښتل کیږي.

**۱۰-۵-۲. معلوماتي ټکنالوژۍ ته لاسرسی**

په نړۍ کې معلوماتي ټکنالوژي د معلوماتو په ترلاسه کولو خوندیتوب د اړیکو په ټینګولو، په مدیریت او د روزنیزو پروګرامونو په برخه کې رغنده دنده تر سره کوي اړینه ده چې پوهنتونونه هم په کافي اندازه خپلې چارې د معلوماتي ټکنالوژۍ پر مټ پیاوړي کړي پوهنتون هم معلوماتي ټکنالوژۍ څخه د خپلو چارو د انسجام او چټکیا په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

زیربناوو ته پراختیا او وده ورکول، د اداري، تخنیکي او مدیریتي چارو سمون او پراختیا، د (IT) امنیتي وسایلو ته پاملرنه او پراختیا، سوپر وای فای (Wi-Fi) ته پراختیا ورکول، د پوهنتون اړوند ټول پوهنځي او اداري معلوماتي ټکنالوژۍ پواسطه وصلول، په ټولو اداري دفترونو کي ډیجېټل تلیفون اسانتیاوې را منځته کول، د پوهنتون ټولو پوهنځیو کي معلوماتي ټکنالوژۍ ته د لاسرسي په غرض د یو تن مسؤل ټاکل او د معلوماتي ټکنالوژۍ ټولو کار کوونکو ته روزنیز ورکشاپونه برابرول.

**۱۰-۵-۳. الکترونیکي خدمتونو وړاندي کول**

د معلوماتي ټکنالوژۍ خدمات د پوهنتون د ټولو منسوبینو سره مرسته کوي ترڅو په آساني سره وکولای سي مهم او ضروري معلومات عندالموقع ترلاسه کړي، د اړیکو په نیولو کي آساني را منځته، اداري ،تحصیلي او تحقیقي خدمات آسانه او منسجم کېدای سي.

- د داخلي مخابراتي سیستم فعاله کول
- د داخلي ډوماین (Domain) د سیستم فعاله کول
- د (L.M.S) د سیستم جوړول
- د (School App) له لاري د (PC Labs) کنټرولول
- د (E-Gove) خدماتو ته پراختیا او پرمختیا ورکول
- د دریو مرستیالانو او د فارم د آمریت له پاره د (MIS) سیستم جوړول
- د کتابخانې د خدماتو له پاره د ډیجیټلي سیستم جوړول او فعالول
- په کتابتون کي د انټرنیټ د سیستم آسانتیاوي برابرول
- د ټولو مرکزونو ورځنۍ چارې او خدمات ډیجیټلایز کول
- د (Local cloud) جوړول
- د ټولو مسئولینو او استادانو له پاره د رسمي ایمېلونو جوړول
- د ټولو محصلانو سره په آنلاین توګه د معلوماتو د شریکولو سیستم جوړول

**۱۰-۵-۴. د معلوماتي ټکنالوژي پالیسي جوړول**

د معلوماتي ټکنالوژي د فعالولو او د هغې څخه د معقولي ګټي اخستني په موخه د پالیسیو جوړول او هغه عملي کول ډېر مهم کار دي، د دې پالیسي د عملي کېدو په موخه به یو منظم کاري چوکاټ (فریمورک) را منځ ته سي چي د هغې په مرسته کولای سو چي د اړونده ټکنالوژي، وسایلو او خدماتو په ښه توګه کنټرول او مدیریت وکړو.

- د انټرنیټي امکاناتو څخه د رسمي او پرځای استفادې په موخه د څارني کنټرول بورډ جوړول
- د استادانو او محصلانو له پاره د انټرنیټ د سهولتونو د استفادې په موخه د پالیسي جوړول
- د برېښنایې زده کړي او ښې رهبری په موخه د پالیسي جوړول

- د جوړو سویو پالیسیو د تطبیق څخه په جدي بڼه نظارت کول

**۱۰-٦. شپږمه لویه موخه: د زېربناوو ترمیم، پراختیا او مجهز کول.**

پوهنتونونه او تحصیلي موسسې تل هڅه کوي چې د علمي او اکاډمیکو پرمختګونو ترلاسه کولو په موخه مادي امکانات او د اړتیا وړ پراخه زیر بناوې او تاسیسات ولري. همدارنګه اړینه برېښي چې د راتلونکي لپاره بنسټیزې او زیر بینایي پروژې پلې کړي چې په پراخه کچه د لوړو زده کړو بېلابېلو پروګرامونو د تطبیق وړتیا ولري. پوهنتون د زېربناوو د پراختیا په موخه د ماسټر پلان له مخې په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې چارې ترسره کوي:

1. د پوهنتون د ریاست او اداري کمپلکس لپاره ودانۍ جوړول.
2. د نباتي علومو پوهنځي تدریسي او اداري ودانیو جوړول.
3. حیواني علومو پوهنځي تدریسي او اداري ودانیو جوړول.
4. اقتصادي علومو پوهنځي تدریسي او اداري ودانیو جوړول.
5. وترنری علومو پوهنځي تدریسي او اداري ودانیو جوړول.
6. د معلوماتي ټکنالوژي د دفتر لپاره ودانۍ.
7. د محصیلینو د روغتیایي چارو د غوره والي په موخه د یو پرمختللي او پر وسایلو سمبال صحی کلینک ودانۍ ودانول.
8. د شخصي وسایطو تم کولو په موخه د تمځایونو جوړول.
9. د پوهنتون د امنیت لپاره د سکینر لرونکو دروازو امنیتي کیمرو او امنیتي پوستو د ودانیو مجهزول.
10. د پوهنتون لپاره د اوبو رسولو سیستم جوړول.
11. د ټولنې د افرادو او ادارو د کارکوونکو د روزنې لپاره د ښوونیز مرکز جوړول او د اسانتیاوو برابرول.
12. د پوهنتون مرکزي لابراتور رغول او پراختیا ورکول.
13. د شته ودانیو رغونه او ترمیم ترسره کول.
14. د پوهنتون د غونډو تالار ته مجهزه ودانی جوړول.
15. په پوهنتون کې لوبغالو ته پراختیا ورکول او جمنازیوم ودانول.
16. مرکزی څېړنیز فارم ودانیو رغونه او پراختیا ورکول.
17. د بوتانیکي باغ او ژوبڼ جوړول.

**۱۰-٦-۱. د زیربناوو ایجاد او فعالول**

د الکټرونیکي سیسټم د فعالیدو په صورت کې یو ښه او قوي اداري ، خدماتي، د معلوماتو د شریکولو تحقیقي او تدریسي سیسټمونه رامنځته کېدای سي. نو په لمړي قدم کې د زېربناؤ جوړول او فعالول اړین

کار دي. ځکه که پوهنتون بنیادي زیربناوي او سهولتونه د الکترونیکي اداري سیستم سره ولري، په ټولو ورځنیو اړونده چارو کي به ډېر ښه او مثبت تغیرات رامنځته سي.

- د آی ټي د آمریت له پاره ځانګړې (30KW) په ظرفیت د برېښنا سیستم ( آبي او سولري) چمتو کول
- د آمنیتي سیستم ( Security System ) جوړول
- د Private Branch Exchange (PBX) سیستم جوړول
- د (Super WI FI) جوړول
- د پوهنتون ټولي برخی سره نښلول
- د ارقامو د ثبت مرکز (Data Center) جوړول
- د پوهنتون اړوند برخې د نوري فایبر سره وصلول او د دې سیستم د فعالیتونو د حفاظت په موخه د یوه مناسب ځای جوړول
- د انټرنیټ ترڅنګ د څلورو کمپیوټر لېبونو جوړول
- محصلانو او ټولو کارمندانو ته د انټرنیټ سهولتونه آماده کول
- د پوهنتون له پاره د ډیجیټل ټلیفون د سیستمونو آماده کول
- د الکټرونیکي ډیجیټلي سیستم څخه په جدي بڼه مراقبت کول
- د اړونده ضروري تجهیزاتو (کمپیوټرونو، پرینټرونو، کاپي ماشینونو، د پاور بانک ) آماده کول

**۱۰-۷. اوومه لویه موخه: د علمی کادر غړو او اداری کارمندانو ظرفیت لوړول.**

د پوهنتونونو او علمي موسساتو د هر اړخیز پرمختګ یو مهم لامل د اړوندو ادارو بشري ځواک او کار کوونکي ګڼل کیږي کار کوونکي د مربوطه ادارو د رهبری چارې په ښه ډول ترسره کوي او هم ورته د موخو تطبیق لپاره بیلابیلي مادي او معنوي سرچینې را منځته او ورڅخه موثره ګټه پورته کوي، پر همدې اساس د افغانستان د کرنیز علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون د پرمختګ او پراختیا لپاره په پام کي لري چي د علمي او اداري کاري ځواک د ظرفیت د کچي د لوړولو په پار لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کي ترسره کړي:

1. د علمي کادر غړو ته به د ماستری او دوکتورا پروګرامونو کي د زده کړو زمینه برابرول.
2. د شته مسلکي او منلو کادرونو څخه د پوهنتون په پرمختیایي او روزنیزو چارو کي ګټه پورته کول.
3. د پوهنتون علمی کادرغړو، اداری او خدماتي کارمندانو ته د نویو اړتیاوو د پېژندنې په اړه د داخلي روزنو او ټریننګونو فرصتونو برابرول.
4. د پوهنتون د منلو کادرونو، استادانو او علمی کادری غړو ساتنه.

5. د پوهنځیو رئیسان او د اړوند څانګو امرینو ته د غوره او پیاوړې اداري ستراتیژي طرحه کولو لپاره رهبري کول.
6. پوهنتون کادری، اداری او خدماتي غړیو ته د اروا پوهنې نویو لارو چارو په اړه روزنه ورکول او هم د زده کړې د معاصر و تخنیکونو برابرول.
7. اداري مدیران په هغه مهارتونو روزل او سنبالول چې د کارونو د ښه پرمخ بیولو وړتیا ترلاسه کړي.
8. په ښوونیزو مهارتونو وړتیاوو او نوې ټکنالوژی باندې د علمي کادرونو سمبالول.
9. د ستراتیژیک پلان او کړنلارو د پلي کیدو په اړه د اداري پرسونل روزل.
10. د غوره زده کړې او ښوونې د زیاتېدنې او وده ورکونې په موخه دلیرې واټن د زده کړې (online) لپاره اسانتیاوو برابرول
11. استادانو ، کارمندانو او محصلانو ته د انګریزي او نورو بهرنیو ژبو د روزنې اسانتیا برابرول.
12. د علمی کادر غړو لپاره د علمي ، څېړنیزو او عملي پروژو د عملي کولو اسانتیاوو برابرول.
13. د سمینارونو، کنفرانسونو، ورکشاپونو سمپوزیمونو او د کورنیو او بهرنیو ښوونیزو کورسونو دایرول.

**۱۰-۷-۱. د الکترونیکي برخي د کارکوونکو ظرفیت لوړول**

د دې برخې کارکوونکي به د ضرورت سره سم د هیواد دننه او دباندې وروزل سي ترڅو په ټولو اړینو برخو کي کړني د معیارونو سره سمي ترلاسه سي. په همدې توګه څوانو استادانو، محصلانو او نورو کارمندانو ته د ټکنالوژي د اهمیت او کاروني په برخه کي لازمه پوهه ورکړل سي. د هغو چارو او اهدافو چې د دوی څخه غوښتل کیږي مخکي له مخکي باید معلومات ورکړل سي.

- د ماسټري او دوکتورا تر کچې پوري د استادانو او کارمندانو سویې لوړې کړل سي.
- د آي ټي د ټولو کارمندانو له پاره د لنډمهاله روزنیزو برنامو په کار اچول.
- په ښوونیزو(زده کړیزو) چارو کي د استادانو او محصلانو له پاره د (ICT) سره د بلدتیا په موخه برنامې په کار اچول.
- د اداري کارمندانو له پاره هم د (ICT) د استعمال په اړه معلومات ورکړل سي او ظرفیت یې لوړ سي
- د همکارو ساحو د (IT) د کارمندانو ظرفیت لوړول.
- د هغو دولتي ارګانونو چې د پوهنتون سره همکار وي او ظرفیت لوړوني ته ضرورت ولري د ظرفیت د لوړولو برنامې په کار اچول.
- د برېښنایي زده کړو د ټولو اړخونو او طرزالعملونو سره د استادانو اشنا کول.

**۱۰-۸. اتمه لویه موخه: د تقنیني او تخنیکي اسنادو بیاکتنه او تدوین.**

سره له دې چې پوهنتونونه او علمي مراکز په خپلواک ډول د تقنیني او تخنیکي اسنادو د بیا کتني، تعدیل او تدوین قانوني واک نلري، اما د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون به په خپله کاري ساحه کي په تقنیني او تخنیکي اسنادو کي دهر ډول ابهام او اغلاق د موجودیت په صورت کي به لوړو او واکمنو مقاماتو ته د اړوندو اسنادو د بیا کتنی، تعدیل او تدوین طرحي وړاندیز کړي همدا راز که لوړ او واکمن مقامات د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون څخه د تقنیني او تخنیکي اسنادو د بیا کتني تعدیل او تدوین رسمي غوښتنه وکړي نو د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون بله د خپل علمي تخصصي ځواک څخه په ګټې اخیستنی د اړوندو چارې په ترسره کولو کي سملاسي کړنې ترسره کړي او هم به لوړ او واکمن مقام ته د خپلو کړنو راپور وړاندې کړي. د یادې چارې د ښه تر سراوي لپاره به پوهنتون د تقنین ځانګړې کمیټه را منځته کړي.

**۱۰-۹. نهمه لویه موخه: له علمي او غیر علمي ادارو سره د اړیکو پراختیا او ښه والي.**

علمي توامیتونه د تجربو شریکولو، ظرفیتونو لوړولو او مرستو په جلب کي د پوهنتونونو سره ډېره مرسته کولای سي. افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون په تېرو لسو کلونو کي له بېلابېلو ملي او نړیوالو پوهنتونونو او ادارو سره توامیتونه لاسلیک کړي دي چي پوهنتون ته خورا ګټور تمام سویدي افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون تر دا مهاله ډېر توامیتونه له ملي او نړیوالو پوهنتونونو او دولتي او نادولتي ادارو سره لاسلیک کړي چي د پوهنتون د چارو په سمون او پرمختګ کي د پام وړ همغږي ترسره کړي پوهنتون په راتلونکو پنځو کلونو کي د شته توامیتونو او تفاهمنامو ساتلو او د نورو توامیتونو کولو لپاره لاندې کړنې ترسره کوي:

- ✓ د بهرنیو اړیکو او مرستو د جلب پوهنتون شموله کمیټو پراختیا او ورته د لازمو اسانتیاوو برابرول.
- ✓ په یادو کمیټو کي د نړیوالو تجربو لرونکو او ژمنو کادري غړیو ځای پر ځای کول.
- ✓ یادو کمېټو ته پالیسي او اړوند ټول اداري اسناد چمتو کول.
- ✓ د یادې کمیتي چارو ته پوره پاملرنه او پراختیا ورکول.
- ✓ د یادې کمیټې پر هڅو د امکان تر بریده د نړیوالو او سیمه ییزو پوهنتونونو او ادارو څخه د توامیت له مخې د مرستو جلبول.
- ✓ د پوهنتونونو علمي او تخنیکي سازمانونو او ټولنو سره په اړونده چارو کي د اړیکو تامین او پالل.
- ✓ د مالي خپلواکی د کارونې له لارې د اړیکو پیاوړي کول.
- ✓ له دولتي اړونده ادارو څخه د هر اړخیزو مرستو ترلاسه کول.
- ✓ د اړوند کمېټو غړو ته د پوهنتون د مالي امکاناتو د شتون په صورت کي د بهرنیو سفرونو برابرول.

**۱۰-۹-۱. د مرستو جلبول**

په اوسني عصر کې هیڅ یوه اداره نسي کولای په یواځې ځان خپلې ټولې چارې په ښه ډول ترسره او خپلو موخو ته ورسېږي نو بناً ټولې اداری مجبور دي چې د خپلو چارو د ترسره کولو په برخه کې داخلي او بهرنی همکاری او مرستې ترلاسه کړي د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون هم د خپلو چارو د ښه تر سراوي او پر مختګ لپاره کورنیو او بهرنیو مرستو ته اړتیا لري، چې د ترلاسه کولو په موخه یې لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کوي

- د مرستو د جلب او د اړیکو د ټینګولو کمیټو ته پراختیا ورکول.
- له مربوطه ملي او بین المللي ادارو سره توامیتونو لاسلیکول او حد اکثر ګټه ترې پورته کول.
- کمېټو ته د اړونده چارو د تر سراوي لپاره د پلانونو او پالیسیو ترتیب او تهیه کول.
- د تر سره سویو توامیتونو او اړیکو څخه د پوهنتون په هر اړخیز پرمختګ کی موثره ګټه پورته کول.
- په ملي او نړیواله کچه له پوهنتونونو سره په علمي او عملي چارو کې د همږغی را منځته کول او فرصتونو مهیا کول.
- د پوهنتون د فزیکي او معنوي جوړښت او پرمختګ په موخه د حقیقي او حکمي اشخاصو څخه معنوي او مادي مرستو تر لاسه کول.
- د پوهنتون سره د مرستو لپاره د اړونده سرچینو هڅول.
- د پوهنتون دننه د روڼتیا او حساب ورکونې اصل ته انکشاف ورکول.
- د پوهنتون له داخلي عایداتي منابعو څخه د معقولې او ګټورې استفادې له لارې د عوایدو را ټولول.

**۱۰-۹-۲. په ټولنه کې ونډه اخیستنه**

د پوهنتونونو د لیدلوري اساسي موخې دا وي چې څنګه دوی د خپل موثر او اغیزمن ماموریت په ترسره کولو سره د ټولنې هېواد او نړۍ په کچه د ستونزو په حل کې فعاله ونډه واخلي یا دا چې ټولنې او هیواد ته د هر اړخیز پرمختګ لپاره طرحې او برنامې جوړې کړي پوهنتون هم خپل لیدلوري ته په پام او د خپل اغیزمن ماموریت پربنسټ د خپلو اړوند و پوهنځیو د علمي کادر د غړو او د مختلفو برنامو (لیسانس، ماستری او دوکتورا) د محصلانو د څېړنو پایلې او موندنې له اړوندو ادارتو سره شریکوي ترڅو لدې لارې د ټولنې شته ستونزې روښانه کړي او په حل کې یې فعاله ګډون وکړي. د نوموړې چارو د اغیزمنتوب لپاره پوهنتون څېړنیز کلسترونه دایروي چې پکښې ټولو اړوندو ادارو (رسمي او خصوصي سکتور) ته د ګډون بلنه ورکول کیږي او لدې لارې له هغوی سره د استادانو او محصلانو د څېړنو پایلې او حل لارې شریکوي.

همدا شان پوهنتون په نورو برخو کې هم په ټولنیزو موضوعاتو کې فعاله برخه اخلي. د مثال په توګه، پوهنتون هر کال یو یا دوه ځلې د هیواد ناروغانو، مریضانو او نور د وینې اړمنو ته د وینې را ټلولو کمپاینونه ترسره کوي او په دې ډول د ټولنې له اړمنو سره مرسته کوي. سربیره پردې، پوهنتون هم د ځینو علمي برنامو په اصلاح او رغونه کې د ټولنې ګډون اړین ګڼي او تل له اړوندو ادارو او اشخاصو څخه په یادو برخو کې

مرسته رابلي د بيلګې په توګه د پوهنځيو د تدريسي کريکولمونو په نويو کولو کې پوهنتون معمولاً اړوندې اداري او مسلکی اشخاص دعوتوي او د بازار او مارکيټ د ټولني او هېواد اړتياو ته په کتو د ټولنې له وګړو سره مشورې کوي. او په درسي کريکولمونو کې اړين تغيرات راوړي ترڅو د پوهنتون فارغان تر فراغت وروسته لاس په کارسي او په اړوند برخو کې اغيزمن خدمت ترسره کړي.

**۱۰-۱۰. لسمه لويه موخه: لوړو زده کړو ته عادلانه لاس رسی او د زده کونکو د استعداد د وده او پراختيا لپاره خدمات چمتو کول.**

زده کړې د وګړو يو له اساسي حقوقو څخه ګڼل کيږي، چې له نېکه مرغه د هېواد د نظام د پاليسی له مخې د ليسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې د دولت لخوا په وړيا توګه د قانون د حکمونو په پام کې نيولو سره د دولت لخوا وړاندي کيږي عامه وګړي د ليسانس پروګرام زده کړو څخه پورته لوړې زده کړې د يو لړ لګښتونو په ورکولو سره به هيواد او له هېواد څخه بهر ترسره کولای سي. افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون لوړو زده کړو ته د لاسرسي په موخه ګڼ شمېر علمي پروګرامونه په بيلا بيلو برخو او وختونو ( سهار او له وخته وروسته) کې پرمخ بيايي لوړو زده کړو ته په شفافه توګه د لاس رسي په موخه پوهنتون په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د لوړو زده کړو د اهميت په اړه عامه وګړو ته د عامه پوهاوي په پار هر اړخيز معلومات وړاندي کول.
2. د کانکور له لاري په شفافه توګه زده کړو ته د لاسرسي زمينه برابرول.
3. د وړتيا او ظرفيت په پام کې نيولو سره بېلابېلو علمي پروګرامونه ته د محصلينو ورپيژندل.
4. له توپيريز چلند پرته هيواد والو ته په مساويانه ډول د زده کړو حق ورکول او اسانتياوې برابرول.
5. دوخت او ټولني د غوښتنو او اړتياوو په پام کې نيولو سره د نويو علمی پروګرامونو ايجادول.
6. د ټولنې او اړونده ادارو سره د لاسته راوړنو شريکول.
7. په ټولنه کښې د شته ستونزو د حل په موخه د وګړو سره د حل لارى شريکول.

**۱-۱۰-۱۰. لوړو زده کړو ته پراخه لاسرسی**

هيوادونه هڅه کوي چې خپلو وګړو ته په پراخه توګه د لوړو زده کړو ترلاسه کولو لپاره بېلابيلې اسانتياوې برابرې کړي او هېواد يې په هر اړخيز ډول پرمختګ او وده وکړي. د افغانستان لوړو زده کړو وزارت هم پدې هڅه کې دی چې د هېواد وګړي يې په بېلابېلو علمي برخو کې لوړو زده کړو ته پراخه لاسرسی ولري. افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون په پراخه توګه لوړو زده کړو ته د لاسرسي په موخه ګڼ شمېر علمي پروګرامونه په بيلا بيلو برخو او وختونو کي (سهار او له وخته وروسته) پرمخ بيايي لوړو زده کړو ته په شفافه توګه د پراخه لاسرسي په موخه پوهنتون به راتلونکو پنځو کلونو لاندې کړنې ترسره کوي:

- ✓ په پوهنتون کي د ټولو علمي پروګرامونو څخه موثره ګټه پورته کول.

- ✓ د خپلو علمي پروګرامونو د جذب ظرفیت ته پراختیا ورکول.
- ✓ عامه وګړو ته د علمي پروګرامونو په اړه پوره او نوي معلومات ورکول.
- ✓ دوخت له غوښتنو سره سم د نویو علمي پروګرامونو را منځته کول.

**۱۰-۱۰-۲. د کریډیت سیستم پیاوړتیا او پلی کول**

د نړۍ ډېرى پوهنتونونه د کریډیټ سیستم د اصولو په رڼا کي خپل روز نیز پروګرامونه پر مخ بیایي او له دې لاري محصلینو ته د ښو پایلو لرونکو زده کړو او اسانتیاوو زمینه برابروي چي له یوې خوا محصلین وکولای سي له خپل توان سره سم د زده کړو بهیر پرمخ یوسي او له بل پلوه د نظري زده کړو سره په څنګ کي د اړوندو عملي زده کړو له اسانتیاوو څخه هم برخمن سي پوهنتون د کریډیټ سیستم زده کړو د پیاوړتیا او معیاري کېدو په پار لاندې کړنې په پام کي لري:

- ❖ د علمي کادر ټولو غړو ته د کریډیټ سیستم د عملي کېدو په اړه روزنیز ورکشاپونه دایرول.
- ❖ د کریدیت سیستم و موثریت په اړه محصیلینو ته معلومات ورکول.
- ❖ په اړوند و پوهنځیو کي د کرېډیت سیستم عملي کېدو څارل.
- ❖ د کر یدیت سیستم په ښه بڼه د پلي کېدو په هکله تدریسي او اجرایوي مدیرانو ته پوهاوی ورکول.
- ❖ د پایلو پر بنسټ د زده کړو په نتیجه کي د کریډیټ لا یحي موخې ترلاسه کول.
- ❖ د شاګرد محوری د زده کړو دو دول.
- ❖ د کرېډیټ لایحې په اساس د عملي زده کړو پیاوړي کول.
- ❖ د ټرانسکریپټونو د ترتیب په برخه کي د نمرو درجه بندي د فیصدی تر څنګ د GPA په سیستم برابرول.

**۱۰-۱۰-۳. فوق لیسانس**

د هېوادونو او ټولنو د پرمختګ او وروسته پاتې والي لامل د اړوند هېواد د وګړو د پوهې او علمیت د کچې سره تړاو لري. د کومو هېوادونو پوهنتونونه چي خپلو وګړو ته د علمي او مسلکي زده کړو لپاره لیسانس او فوق لیسانس فعاله پروګرامونو لري هېوادونو یې په هر اړخیزه توګه پرمختګ او وده کړې ده او وګړو ته یې د هوسا ژوند کولو اسانتیاوې او زمینه برابره کړي. همدا علمي پروګرامونه چي د ژوندانه بېلابېلي ستونزې حلوي او د پرمختګونو لپاره لوری ټاکي چي یاده کړنه د پوهنتونونو یو له مهمو دندو شمېرل کیږي. پر همدې اساس د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون د هېواد پرمختګ لپاره یو لړ فوق لیسانس پروګرامونه پر مخ بیایې او یو لړ نوي پروګرامونه په یاده برخه کي د راتلونکو پنځو کلونو په موده کي ایجادوي ، چي په دې پار لاندې کړنې ترسره کوي:

- ❖ په راتلونکو پنځو کلونو کي د ماستری او د دوکتورا نور پروګرامونه را منځته کول.
- ❖ د موجوده فوق لیسانس پروګرامونو بیاکتنه او د ښه والي لپاره یې هڅې.

- نویو علمي پروګرامونو د ایجاد لپاره د لازمو کادرونو، وسایلو او امکاناتو چمتوالی.
- د څېړنو لپاره د اسانتیاوو برابرول.
- د نوماندانو د انتخاب لپاره د غوره معیارونو ټاکل.
- د بهرنیو مرستو جذب ترلاسه کول او اغیزمن استعمال.
- د پروګرام د پایښت لپاره د اغېزمنې استراتیژی انکشاف .
- ټولنې ته د خدمت لپاره د غوره او لوړ کیفیت فارغانو وړاندي کول.

**۱۰-۱۰-۴. د محصلینو لپاره د خدماتو او اسانتیاوو پیاوړتیا**

پوهنتونونه هڅه کوي تل په خپلو علمي او خدماتي چارو کي محصلینو ته د پام وړ سهولتونه برابر او د غوره پایلو په لرلو سره محصلین وروزي چي پوهنتونونه د هېواد او په نړیواله کچه د محصلینو توجه او رضایت خپل کړي. د خدماتو او سهولتونو په وړاندې کولو سره پوهنتونونه غواړي چي له یو پلوه په علمي ټولنه کي خپل حیثیت لوړ کړي او له بل پلوه له همدي لاري مالي او مادي امکانات پراخه کړي پوهنتون د غوره خدماتو او اسانتیاوو د پیاوړي کولو په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

- محصیلانو ته د علمي سفرونو زمینه برابرول.
- سپورتي اسانتیاوې برابرول.
- محصلینو ته د زده کړو د برابرولو ترڅنګ د لازمو مهارتونو چمتو والی.
- د ویبسایټ له لاري محصلینو ته پوره معلومات په واک کي ورکول.
- د محصلینو وړاندیزونو او شکایاتو ته لاسرسی.
- د علمي او عملي زده کړو په برخه کي محصلینو لپاره اړوند و سکتورونو سره د توامیتونو رامنځته کول.
- محصلینو ته د عملي پیاوړتیا په موخه د بیلابیلو تمثیلي پروګرامونو او سمینارونو چمتو کول.
- د پوهنتون د امکاناتو په پام نیولو سره محصلینو لپاره ټرانسپورت ته پراختیا ورکول.
- د محصلینو د علمي ظرفیت لوړاوي په موخه کتابتوني اسانتیاوو ته پراختیا ورکول.
- په پوهنځیو او څانګو کي د اړوند و لابراتوارونو کیفیت او خدماتو ته پراختیا ورکول.
- محصلینو ته د ښې زده کړې لپاره د مناسب چاپیریال را منځته کول.
- په نړیوالو علمي سیالیو کي محصلینو ته د برخې اخستنې زمینه برابرول.
- په لیلیه کي د محصلینو د ښې روغتیا په موخه د څارن پلاوي ټاکل.
- د حشر او داوطلب کارونو لپاره د محصلانو هڅول.
- د محصلانو لپاره د Internship د پروګرامونو ترلاسه کول او تنظیمول.
- د ټولنې سره د مرستې لپاره د ټولنیزو خدماتي ډلو تنظیمول.

## ۱۱- د چاپیریال (خارجي او داخلي چاپیریال) پیژندنه

دا چې د پوهنتون اوسنۍ وضعیت مو په ښه ډول تحلیل کړی وي ټول هغه عوامل(خارجي او داخلي) مو لمړی په نښه کړي کوم چې په مټ یې کولای سو د پوهنتون دستراتیژۍ لوری تعین کړو،د دي هدف د لاسته راوړلو لپاره مو د بیلابیلو پوښتنپاڼو څخه استفاده کړي ده، یادې پوښتنیاڼې د محصلانو،استادانو،اداري کارمندانو او همدارنگه د پوهنتون څخه بهر د نظرخاوندانو او اړونده سکټوري ادارو د کارکوونکو په مرسته ځواب سوې او بیا د هغو تحلیل اوتجزیه ترسره سوې ده.

### ۱۱-۱. د داخلی چاپیریال تحلیل او ارزونه

په دې مرحله کي مو ټول هغه داخلي عوامل چي د ستراتیژۍ په لوري باندي مستقیم او یا غیر مستقیم اغیز لري په گوته کړي او په لومړي قدم کي مو ۵۰ هغه یې د مهمو عواملو په توگه وپیژندل او په دوهم قدم کي مو د بیا ځلي کتنې او ارزونې څخه وروسته د یو شمېر مشابه عواملو په لیري کولو سره یواځې ۴۰ ته راکښته او د ورستیو موثرو عواملو په توگه مو په گوته کړل. له همدي ډلي څخه د اهمیت د میزان او لومړیتوب داصل پر بنست ۲۰ کلیدي موارد د قوي ټکو او پاتي ۲۰ د ضعیفو ټکو په توگه انتخاب سوي او د هر یوه ضریب د هغه اهمیت د پوهنتون د ستراتیژیکو اهدافو ته په کتلو سره په پام نیول کیږی. د SWOT تخنیک په اساس د سازمان د فرصتونو او تهدیدونو د ضریبونو مجموعه به حد اکثر (۱) وي، ځکه هم د ټولو خارجي عواملو د نمراتو مجموعه (۴) په نظر کي نیول سوي ده او په همدي اساس وروستی پوښتنپاڼه هم ترتیب سوي ده. په یاده پوښتنپاڼه کي د هر عامل د اغیزمنتیا د رتبو په چوکاټ کي د ۱ –ډېر کم اغیز، ۲- کم اغیز، ۳- زیات اغیز او ۴ – ډېز زیات اعیز درلود په ښه ترتیب سوي ده.

### ۱۱-۲. د خارجي چاپیریال تحلیل او تجزیه

د همدي ستراتیژیک پلان په تدوین کي د خارجي محیط (فرصتونو او تهدیدونو) پیژندل یو د اساسي موضوعاتو څخه شمېرل کیږي کوم چي بیلابیل سیاسي، فرهنگي، ټولنېز،اقتصادي او ټکنالوژیکي عوامل نظر لمړیتوبونو ته او د هغوی اغیزې پر سازمان باندي په بر کي نیسي،ترڅېړنې لاندي نیول سوي. په لومړۍ مرحله کي ټول هغه خارجي عوامل چي د پوهنتون دستراتیژۍ په لوري ټاکلو باندي مستقیم اغیزدرلود په نښه سول، له همدي ډلي په لمړي قدم کي ۵۰ هغه یې تر ټولو مهمو اغیزمنو خارجي عواملو په توگه وپیژندل سول. د یادو ۵۰ مهمو خارجي عواملو د بیا کتني او اروزني وروسته په لومړۍ مرحله کي د یو شمېر مشابه عواملو په له مینځه وړلو او مدغم کولو سره یواځي ۴۰ هغه یې تشخیص او د تر ټولو مهمو خارجي عواملو په توگه انتخاب سول. په دوهم قدم کي انتخاب سوي خارجي عوامل نظر د هغوی اغیز ته په کتو سره دوه مساوي کټگوریو وویشل سول؛ لومړی هغه عوامل کوم چي د اناسټو پوهنتون په چارو مثبت اغیز لري د همدي پوهنتون لپاره د بالقوه فرصتونو په توگه وپیژندل سول او دوهم هغه یې کوم چي د پوهنتون په چارو

منفي اغيز لري د بالقوه تهديدونو په توګه وپيژندل سول. د يادولو ده چي د ټولو خارجي عواملو (فرصتونو او تهديدونو) لپاره ضريب نظر د هغوی اهميت ته ټاکل سوی ده، کوم چي د پوهنتون ستراتيژيکو اهدافو ته په پام سره ټاکل سوي دي. د (SWOT) تخنيک په اساس د سازمان د فرصتونو او تهديدونو د ضريبونو مجموعه به حد اکثر (۱) وي، څکه هم د ټولو خارجي عواملو د نمراتو مجموعه (۴) په نظر کي نيول سوي ده او په همدي اساس وروستی پوښتنپاڼه هم ترتيب سوي ده. په ياده پوښتنپاڼه کي د هر عامل د اغيزمنتيا د رتبو په چوکاټ کي د (۱ – ډير کم اغيز، ۲- کم اغيز، ۳- زيات اغيز او ۴ – ډيز زيات اعيز درلود ) په بڼه ترتيب سوي ده.

د پلان سره سم ياده پوښتپاڼه تر جوړيدو وروسته د اناسټو پوهنتون رهبري غړيو، د څانګو امرينو، استادانو، اداري کارمندانو او يو شمېر محصلينو ته د ځواب ويلو په موخه په انلاين بڼه په اختيار کي ورکړل سوه، ترڅو د پوهنتون په چارو باندي د انتخاب سويو خارجي عوملو د اغيزو کچه معلومه کړي. د سروي په پايله کي د ټولو پوښتنپاڼو د راټولولو وروسته د ټولو ګډونکونکو د ډلي څخه ټول ټال ۸۰ تنو د نظرياتو څخه د خارجي او داخلي عواملو د تحليل په موخه ګټه اخيستل سوي ده. د يادولو وړ ده چي د اناسټو پوهنتون د چاپيريالي فرصتونو او تهديدونو د لومړيتوبونو د مشخصولو لپاره د (رتبه × ضريب ) فورمول څخه ګټه اخيستل سوي چي د نمرو مجموعه به يې حد اکثر (۱) او حد اقل (۴) وي.

**جدول ( ۱ ): د اناسټو پوهنتون د داخلي عواملو( د قوت ټکي او کمزوری ټکي) ارزونه**

| ګڼه | د داخلي عواملو ارزونه | ضريب (۱) | رتبه (۴) | نمره |
|---|---|---|---|---|
| | **د قوت ټکي** | | | |
| ۱ | په ډيره کمه موده کي د استادانو د ظرفيت لوړوني پروسه تر هغه چه توقع کېده ډيره پرمخ تللي ده. | 0.03 | 3.5 | 0.105 |
| ۲ | د لوړو زده کړو وزارت څخه د تائيد سوي تحصيلی نصاب لرل. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۳ | د (IARI and IVRI) پوهنتونو سره د تفاهمنامو لرل. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۴ | ځوان او ژمن کارکوونکي او د استادانو د کارکولو عالي روحيه درلودل. | 0.02 | 4 | 0.08 |
| ۵ | د افغانستان د معتبرو دولتي پوهنتونونو او ذيدخل ارګانونو سره د ګډوهمکاريو هوکړهليکونه درلودل. | 0.02 | 4 | 0.08 |
| ٦ | د پوهنتون د پراختيا له پاره د پراخه کرنيزي ساحې او د خړوبولو د اوبو له پاره د ظاهر شاهي ويالې شتون. | 0.04 | 4 | 0.16 |
| ۷ | د پوهنتون ګډ څو توکميز اداري جوړښت. | 0.02 | 3 | 0.06 |
| ۸ | د پوهنتون لپاره د دوو ساحو(۱۰۰ جريبه د ښارپه داخل کي - عينوميني کمپس) او (۴۵۹۰ جريبه - مرکزي کمپس چي د ښار نه په ۳۵ کيلومتری کي موقعيت لري) درلودل. | 0.04 | 4 | 0.16 |
| ۹ | د پوهنتون لپاره تائيد سوي ستراتيژيک پلان موجوديت. | 0.03 | 3.5 | 0.105 |
| ۱۰ | د څيړنو په برخه کي د استادانو ليوالتيا زياتيدل. | 0.02 | 3.5 | 0.07 |
| ۱۱ | د پانګوني د جلب قوت او ظرفيت در لودل. | 0.02 | 3.5 | 0.07 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۲ | د شاوخوا ۹۵سلنه ځوانو استادانو شتون، چې زیات شمېر یې د ماستري په کچه لوړې زده کړې ترسره کړې دي. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۱۳ | د عصري ټکنالوژۍ څخه په اداري او تدریسي چاروکې ګټه اخیستل. | 0.02 | 3.5 | 0.07 |
| ۱۴ | د علمي مؤسسو ، مرکزونو او پوهنتونو سره په ملي او نړیواله کچه د همکارۍ دوه اړخیزې اړیکې پالل. | 0.01 | 3 | 0.03 |
| ۱۵ | د عملي زده کړو له پاره د آسانتیاوو لکه ډیمو فارم، مرکزي لابراتوار او تحقیقي فارم شتون. | 0.02 | 4 | 0.08 |
| ۱۶ | د کیفیت د لوړاوي پروسه کې د هیواد د ډیرو معتبرو پوهنتونونو په کچه ښه ځای درلودل. | 0.02 | 3.5 | 0.07 |
| ۱۷ | د ماسټري او دوکتورا د ترلاسه کولو په موخه داستادانو لیوالتیا. | 0.02 | 4 | 0.08 |
| ۱۸ | د منظمې لمریزې بریښنا او د منظم او کافي انټرنیټ شتون. | 0.02 | 4 | 0.08 |
| ۱۹ | د هندوستان هیواد د IARI ( Indian Agriculture and Research Institute) سره د ماسټري ګډې برنامې شتون. | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۲۰ | د مسلکي پرمختیایي مرکز،کیفیت دلوړاوي او څیړنیز مرکز شتون. | 0.01 | 4 | 0.04 |
| **کمزوري ټکي** | | | | |
| ۱ | د اداري کارکوونکو کمښت او د موجوده بشري سرچینو د وړتیا ټیټوالي. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۲ | د استادانو او اداري کارمندانو ټیټ معاش. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۳ | د استادانو لپاره داستوګنځایونو نشتون. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۴ | د اکاډمیکو او اداري چارو لپاره د کافي اندازه زیربناوو نشتون. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۵ | د بین المللي پوهنتونونو سره د ګډو همکاریو د سندونو د ثبات نشتون. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۶ | د پوهنتون په کچه د ITمرکز نشتون. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۷ | د غونډو لپاره د معیاري تالار نشتون. | 0.02 | 2 | 0.04 |
| ۸ | د قوي عامه – خصوصي- ملګرتیا (Public- Private - Partnership) نشتون تر څو د فارم پراخه ساحه د تولید له پاره وکارول سي. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۹ | د کندهار ښار څخه د پوهنتون د اصلي کمپس لریوالی او د ټرانسپورټي آسانتیاوو کموالی. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۱۰ | د لوړ رتبه استادانو کمښت او د زیات شمېر استادانو او اداري کارمندانو د تحصیلي درجې ټیټوالی. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۱۱ | د مجهزو لابراتوارونو نه شتون او د لابراتوار نصبولو او ساتلو له پاره د تجربه لرونکو کارکوونکو کموالی. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۱۲ | د محصلانو لپاره د لوبغالو نشتون. | 0.02 | 1 | 0.02 |
| ۱۳ | د محصلانو لپاره د معیاري لیلیې نشتون. | 0.03 | 1 | 0.03 |
| ۱۴ | د اداري کارمندانو د انګلیسي ژبې او کمپیوټري مهارتونو کموالی. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۱۵ | د معیاري ټولګیو کمښت او په په ټولګیو کې د محصلانو ډېر شمېر. | 0.02 | 2 | 0.04 |
| ۱۶ | د نشراتو کمښت او د نشراتو لپاره د کافي بودجې نشتون. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۱۷ | د وسایطو او د فارم د ماشینري لپاره د معیاري تمځای نشتون. | 0.02 | 2 | 0.04 |
| ۱۸ | د یو معیاري کتابخانې نشتون. | 0.02 | 2 | 0.04 |
| ۱۹ | د یومجهز صحي مرکز نشتون. | 0.04 | 1 | 0.04 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | د څیړنېز مرکز نشتون او د علمي څیړنو لپاره د اسانتیا وو کمښت. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| | مجموعه داخلي عوامل (قوت او کمزوري ټکي) | 1 | | 2.71 |

**۱۱-۳. د داخلي عواملو تحلیل**

د داخلي عواملو د ماتریکس په ارزونه کې؛ بې له دې چې د قوي ټکو او کمزورو ټکو شمېر په نظر کې ونیسو، د یو سازمان لپاره هیڅ کله هم د نمرو مجموعه تر ۴ نه زیاتیږي او هیڅ کله هم تر یوه نه کمیږي. په همدي ارزونه کي د داخلي عواملو له ډلي څخه د قوي ټکو لپاره د نمرو مجموعه مثبت حسابیږي په داسې حال کي چي د کمزوي ټکو مجموعي نمري بیا منفي تعبیریږي. که چیري د قوي ټکو لپاره محاسبه سوی عدد ۴ ته نږدي کیږي، دا په دې معنی ده چي اړونده سازمان د داخلي عواملو په مقابل کي جدي عکس العمل ښودلی او توانیدلای ده چي د قوي ټکو څخه موثره ګټه واخلي. برعکس که چیري نوموړی عدد ۱ ته نږدي کیږي، دا په دي معنی دی چي اړونده سازمان نه دی توانیدلای چي د شته قوي نقطو څخه موثره ګټه واخلي. همدارنګه د کمزورو ټکو په اړه بیا دا تحلیل معکوس تعبیریژي؛ په دي معني چي که چیري د کمزورو ټکو مجموعي نمري ۴ ته نږدي کیږي، ښیي چي یاد سازمان د جدي ستونزو سره مخ دی او د کمزورو ټکو څخه زیاته وېره لري، برعکس که چیري د کمزورو ټکو مجموعي نمري ۱ ته نږدي کیږي، دا معنی لري چي نوموړی سازمان د بالقوه کمزورو ټکو څخه وېره نلري او په اړه یې لازم تدابیر نیولي سي. په همدي تحلیل کي تر ټولو مهم د شته قوي ټکو او بالقوه کمزورو ټکو مجموعي نمرې دي، کوم چي د داخلي عواملو په مقابل کي د سازمان عکس العمل ښیې. که چیري دا تفاوت مثبت عدد وي، د سازمان لپاره ښه حالت بیانوي، برعکس که منفي وي دا بیا د بد حالت ښکارندوي کوي. په همدې اساس د داخلي چاپیریال د تحلیل او ارزوني څخه معلومیږي چي د داخلي عواملو امتیاز ( قوي ټکي او کمزوري ټکي) څخه 2.71 رقم په لاس راغلي دي، څکه نو دا پایله ترلاسه کیږي چي د داخلي عواملو د ارزونې له مخې د اناستو پوهنتون په یو ښه حالت کي قرار لري. اناستو پوهنتون ته پکار ده چي د بالقوه کمزورو ټکو په وړاندي غفلت ونکړي او د شته قوي ټکو څخه موثره ګټه واخلي او په مرسته یې بالقوه کمزوري ټکي له مینځه یوسي.

| جدول (۴ ): د اناستو پوهنتون د خارجي عواملو( فرصتونو او تهدیدونو) ارزونه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ګڼه | د خارجي عواملو ارزونه | ضریب (۱) | رتبه (۴) | نمره |
| | فرصتونه | | | |
| ۱ | له خصوصي سکټور او غیر دولتي مؤسسو سره دوه اړخیزه همکاري او اړیکي پالل. | 0.02 | 3 | 0.06 |
| ۲ | د یو منل سوي معنوي ارزښت په توګه د لوړو زده کړو سره د ځوانانو لیوالتیا. | 0.02 | 3 | 0.06 |
| ۳ | د هیواد په کچه د یو منل سوي او بااعتباره اکاډمیکي اداري نوم درلودل. | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۴ | د هیواد په کچه د کرنیزو او مالداري محصولاتو ته د نړی د هیوادونو لیوالتیا او نړیوال مارکیټ ته لاره پیداکول. | 0.01 | 3 | 0.03 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۵ | د هیواد په کچه د زراعت پوهنځیو اړونده درسي نصاب نوی او د یو واحد نصاب په ټوګه منل کیدل. | 0.02 | 4 | 0.08 |
| ۶ | د کندهار ولایت د حیواناتو او نباتاتو د روزلو لپاره مناسب اقلیم لرل. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۷ | په جنوب غرب حوزه (کندهار ولایت ډنډ ولسوالي) کښې د تاپي مسیر (د TAPI پروژې عملاً کړني) شروع کیدل. | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۸ | د ولایتي اداري او لوړو زده کړو وزارت سره د غوره اړیکو ساتل. | 0.02 | 3.5 | 0.07 |
| ۹ | د لوړو زده کړو د تحصیلی نهادونو موجودیت. | 0.03 | 3 | 0.09 |
| ۱۰ | د وزارت په کچه د کیفیت د تضمین او لوړاوي د چارو د ښه سمبالښت د سیستم موجودیت. | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۱۱ | د پوهنتون د موجود مځکه او اوبه د څېړونو او مالي استقلالیت په موخه استعمالول. | 0.02 | 3.5 | 0.07 |
| ۱۲ | دکندهار ولایت ستراتیژیک موقعیت ته په کتو دي ولایت ته ددولت خاصه پاملرنه. | 0.01 | 4 | 0.04 |
| ۱۳ | د کندهار ولایت په کچه د پراخو کرنیزو منابعو شتون او د یاد ولایت د اوسیدونکو له لوري مروجه مالداري چي د پوهنتون اړونده علمي او څیړنیزو فعالیتونو لپاره يې زمینه برابره کړي ده. | 0.02 | 3 | 0.06 |
| ۱۴ | د سیمي او نړۍ په کچه د کرنیزو علومو په برخه کي د علمي څېړنیزو رقابتونو موجودیت. | 0.02 | 3 | 0.06 |
| ۱۵ | د زون په کچه د دولتي پوهنتونو اړونده د زراعت پوهنځیو د فیلیال په ډول پاتي کیدل. | 0.04 | 3.5 | 0.14 |
| ۱۶ | د لوړو زده کړو د نهادونو او زیربناوو تاسیس او رغولو ته د دولت زیاته پاملرنه. | 0.02 | 3 | 0.06 |
| ۱۷ | د تحقیق، ترویج او تولید په موخه ۴۵۹۰ جریبه (۱۰۰۰ هکتاره) ځمکي په اختیار کي درلودل. | 0.02 | 3.5 | 0.07 |
| ۱۸ | د اناستیو پوهنتون سره د اړونده سکټوري ادارو همکاري. | 0.01 | 3 | 0.03 |
| ۱۹ | د استادانو د ظرفیت لوړولو په موخه د اوږدمهاله او لنډمهاله پروګرامونو د فرصتونو شتون. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۲۰ | په پراخه کچه د بیلابیلو پوهنتونونو په ځانګړیډول د IARI (Indian institute Agriculture Research) او IVRI (Indian Veterinary Research Institute) سره غوره علمي او اکاډمیکه ملګرتیا در لودل. | 0.05 | 4 | 0.2 |
| | **تهدیدونه** | | | |
| ۱ | په مکتبونو کي د تدریسي بهیرد کیفیت خرابوالی. | 0.02 | 1 | 0.02 |
| ۲ | په ټوله کي د تشکیل کمښت. | 0.02 | 2 | 0.04 |
| ۳ | د پوهنتون اکاډمیک پرمختګ ته څنګه چي لازمه ده همغه شان د لوړو زده کړو وزارت له لوري د پاملرني نشتون. | 0.02 | 2 | 0.04 |
| ۴ | په ملي ژبو معتبرو علمي منابعو ته نه لاسرسی. | 0.03 | 2 | 0.06 |
| ۵ | اکاډمیک او مالي استقلالیت نه درلودل. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۶ | دفارغانو لپاره د کاري فرصتونو کمښت. | 0.04 | 1 | 0.04 |
| ۷ | په سیمیزه کچه د پوهنتون د ملکیتونو سره ناسم چلند. | 0.02 | 2 | 0.04 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۸ | په موجوده لوایحو او مقررو کې ستونزې. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۹ | د اداري کارکوونکو لپاره د ظرفیت جوړوني د میکانیزم نشتون. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۱۰ | په سیمیزه کچه د پوهنتون سره د وګړو کمه همکاري. | 0.02 | 2 | 0.04 |
| ۱۱ | د مرکز څخه دکندهار ولایت لرې والی. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۱۲ | د هیواد نه د کادري او مسلکي کسانو فرار. | 0.04 | 1 | 0.04 |
| ۱۳ | اوسني وضعیت کې د پوهنتونونو سره د خارجي مرستندویه سازمانونو او ادارو کمه علاقه. | 0.02 | 1 | 0.02 |
| ۱۴ | د وزارت په کچه د زاړه بیروکراتیک سیستم موجودیت. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۱۵ | د نړیوالو پوهنتونونو او علمي مراکزو سره د پوهنتون د تواميتونو دجوړولو په برخه کې د یوي اوږدي او سترې کوونکي پروسې شتون. | 0.02 | 1 | 0.02 |
| ۱۶ | له ښارڅخه پوهنتون ته اوږده فاصله. | 0.03 | 1 | 0.03 |
| ۱۷ | د حکومت له لوري د پرمختیایي بودیجې کموالی. | 0.03 | 1 | 0.03 |
| ۱۸ | په پوهنتون کې د اکاډمیکو او اداري چارو د مخته وړلو لپاره د کافي زیربناو نشتوالی. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۱۹ | په علمي او اکاډمیکه برخه کې د هند د IARI او IVRI پوهنتونونو د ملاتړ هیڅ تضمین نه لرل. | 0.02 | 1 | 0.02 |
| ۲۰ | د کرهني او مالداري سکتورنو سره د ځوانانو کمرنګه علاقه. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| | مجموعه خارجي عوامل (فرصتونه او تهدیدونه) | 1 | | 2.6 |

**۴-۱۱. خارجی عواملو تحلیل**

د خارجي عواملو د ماتریکس په ارزونه کې؛ بې له دې چې د فرصتونو او تهدیدونو شمېر په نظر کې ونیسو، د یو سازمان لپاره هیڅ کله هم د نمرو مجموعه تر ۴ نه زیاتیږي او هیڅ کله هم تر یوه نه کمیږي. په همدي ارزونه کي دخارجي عواملو له ډلي څخه د فرصتونو لپاره د نمرو مجموعه مثبت حسابیږي په داسې حال کي چي د تهدیدونو مجموعي نمري بیا منفي تعبیریږي. که چیري د فرصتونو لپاره محاسبه سوی عدد ۴ ته نږدي کیږي، دا په دي معنی ده چي اړونده سازمان د خارجي عواملو په مقابل کي جدي عکس العمل ښودلي او توانیدلای ده چي د شته فرصتونونه څخه موثره ګټه واخلي. برعکس که چیري نوموړی عدد ۱ ته نږدي کیږي، دا په دې معنی دی چي اړونده سازمان نه دی توانیدلای چي د شته فرصتونو څخه موثره ګټه واخلي. همدارنګه د تهدیدونو په اړه بیا دا تحلیل معکوس تعبیریږي؛ په دي معني چي که چیري د تهدیدونو ټوله نمري ۴ ته نږدي وي، ښیې چي یاد سازمان د جدي ننګونو سره مخ دی او د تهدیدونو څخه زیاته ویره لري، برعکس که چیري د تهدیدونو مجموعي نمري ۱ ته نږدي کیږي، دا معنی لري چي نوموړی سازمان د بالقوه تهدیدونو څخه ویره نلري او په اړه یې لازم تدابیر نیولي سي. په همدي تحلیل کي تر ټولو مهم د شته فرصتونو او بالقوه تهدیدونو مجموعي نمري دي، کوم چي د خارجي عواملو په مقابل کي د سازمان عکس العمل ښيي. که چیري دا تفاوت مثبت عدد وي، د سازمان لپاره ښه حالت بیانوي، برعکس که منفي وي دا

بیا د بد حالت ښکارندوي کوي. په همدي اساس د خارجي چاپیریال د تحلیل او ارزوني څخه معلومیږي چي د خارجي عواملو امتیاز (فرصتونه او تهدیدونه ) او د (2.6) سره برابر دی،څکه نو دا پایله ترلاسه کیږي چي د خارجي عواملو د ارزوني له مخې د اناستیو پوهنتون په یو ښه حالت کي قرار لري، دا په دي معنی دی چي د اناستیو پوهنتون مخ ته پراته خنډونه د شته فرصتونو په پرتله سره برابر دي. اناستیو پوهنتون ته پکار ده چي د بالقوه تهدیدونو په وړاندي غفلت ونکړي او د شته فرصتونه څخه موثره ګټه واخلي او په مرسته یې بالقوه تهدیدونه دفع کړي.

### ۱۲- د محیطی لاملونو (داخلی او خارجی) مقایسه

محیطي لاملونه هغه عناصر دي چي د پوهنتون / موسسې په دننۍ برخو پوري اړوند وي او د بهرني لاملونو په خلاف د اداري د مدیریت او کنترول لاندې دي چي په دوه برخو وېشل کیږي: پیاوړتیاوې او کمزورتیاوې چي د محیطي لاملونو د تحلیل له مخې تجزیهس او تحلیل کیږي.

#### ۱۲-۱. د Intetrnal and External Matrix (IE) تګلاره:




۲. ګراف: د اناستو پوهنتون ستراتیژیک موقعیت را ته په نښه کوي.

د پورتني جدولونو څخه راته معلومیږي چي د داخلي لاملونو نومرې 2.71 او د خاروجي لاملونو نومرې 2.6 تر لاسه سوي دي. د داخلي او خارجي لاملونو له مخې دي پایلی ته رسیږو چي افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د ثبات ساتلو ساحه (V) کي موقعیت لري چي ښه حالت راته په نښه کوي. نو باید د ښه بهتروالي لپاره د موجوده فرصتونو څخه ډېره ګټه پورته کړو.

## ۲-۱۲. د اناستو پوهنتون لپاره د سوات تحلیل (SWOT Analysis)

د هرې ادارې او اورګان په ځانګړي ډول د پوهنتون د ستراتیژیک پلان د جوړولو لپاره اړینه ده چي د اړونده ادارې او پوهنتون چاپیریال مطالعه سي ترڅو ټول هغه عوامل وپیژندل سي کوم چي د ادارې په چارو باندي اغیزي لري. د کاري چاپیریال په څېړلو سره ټول هغه خارجی او داخلي عوامل په ګوته کیږي، کوم چي د ستراتیژۍ د لوري په ټاکلوکي رغنده رول لري او اړونده ارګان سره د ستراتیژیکو اهدافو په ټاکلو کي مرسته کوي. په همدي موخه اړینه بلل کیږي چي د اناستو پوهنتون اړونده د کاري چاپیرال ټول عوامل (داخلي او خارجي) په ښه ډول تحلیل سي ترڅو د قوت او ضعف ټکي، شته فرصتونه اوبالقوه تهدیدونه په ګوته سي او په پایله کي به مونږ وتوانیږو د ذکر سوو عواملو اغیزې په ښه توګه سره مدیریت کړای سو. د همدي کار لپاره لازمه ګڼل کیږي چي لومړی نوموړي عوامل وپیژنو چي په کومه برخه کی شتون لري او یا کومه برخه متاثره کوي، وروسته یی په اړه تصمیم ونیسو تر څو د قوت او فرصتونو څخه په مؤثره او ښه ډول ګټه واخیستل سي او د بالقوه تهدیدونو او کمرزورو ټکیو په دفع کولو او له مینځه وړلو کي خپلي هڅي ګړندۍ کړو. ددي پروسی د تر سره کولو لپاره د سوات (SWOT)[3] تحلیل، کوم چي په دي برخه کي یو ګټور تخنیک یا میتود ګڼل کیږي، ګټه اخیستل سوي ده. د سوات تحلیل کولای سي زموږ سره د متاثرونکو عواملو په ټاکلو کي تر ډېره بریده مرسته وکړي.د یادولو وړ ده چي د پوهنتون د مسؤلینو په شمول ټول کارکوونکی په دوامداره توګه په دې هڅه کي دي چي د پوهنتون د حالاتو څخه ځان په هراړخیزه ډول خبر او دقیق تحلیل ترسره کړي، ترڅو په منظمه او موثره توګه ستراتیژیک لوری وټاکل سي او معقول تصمیمونه ونیول سي.

**جدول (۵ ): د داخلي لاملونو د لومړیتوب ماتریکس**

| د اهمیت کچه | مقایسه | د پوهنتون رقابتي وړتیا | | |
|---|---|---|---|---|
| | | لوړ | منځني | ټیټ |
| | لوړ | لوړه کچه لومړیتوب | لوړه کچه لومړیتوب | منځني کچه لومړیتوب |
| | منځني | لوړه کچه لومړیتوب | منځني کچه لومړیتوب | ټیټه کچه لومړیتوب |
| | ټیټ | منځني کچه لومړیتوب | ټیټه کچه لومړیتوب | ټیټه کچه لومړیتوب |
| | | | | |
| د تر سره کېدو احتمال | مقایسه | د پوهنتون رقابتي وړتیا | | |
| | | لوړ | منځني | ټیټ |
| | لوړ | لوړه کچه لومړیتوب | لوړه کچه لومړیتوب | منځني کچه لومړیتوب |
| | منځني | لوړه کچه لومړیتوب | منځني کچه لومړیتوب | ټیټه کچه لومړیتوب |
| | ټیټ | منځني کچه لومړیتوب | ټیټه کچه لومړیتوب | ټیټه کچه لومړیتوب |

[3] David, Fred R., and Forest R. David. (2013). Strategic Management: Concepts and Cases- A comparative Advatage Approach. Person.

د سوات تحلیل لپاره د ډیویډ، فرید او ډیویډ فورست له میتود څخه ګټه اخیستل شوي ده.

**جدول (٦ ): د اناستو پوهنتون د سوات (SWOT) تحلیل**

| داخلي لاملونه / خارجي لاملونه | د قوت ټکي (S) | کمزوري ټکي (W) |
|---|---|---|
| **فرصتونه(O)** | | |
| 1. له خصوصي سکتور او غیر دولتي مؤسسو سره دوه اړخیزه اړیکي پالل. | 1. په ډېره کمه موده کې د استادانو د ظرفیت لوړوني پروسه ډیره پرمخ تللې ده. | 1. د اداري کارکوونکو کمبنت او د موجوده بشري سرچینو د وړتیا ټیټوالي. |
| 2. د یو منل سوي معنوي ارزښت په توګه د لوړو زده کړو سره د ځوانانو لیوالتیا. | 2. د لوړو زده کړو وزارت څخه د تائید سوي تحصیلي نصاب لرل. | 2. د استادانو او اداري کارمندانو ټیټ معاش. |
| 3. د هیواد په کچه د یو منل سوي او بااعتباره اکاډمیکي اداري نوم درلودل. | 3. د (IARI and IVRI) پوهنتونو سره د تفاهمنامو لرل. | 3. د استادانو لپاره داستوګنځایونو نشتون. |
| 4. د هیواد په کچه د کرنیزو او مالداري محصولاتو ته د نړۍ د هیوادونو لیوالتیا او نړیوال مارکیټ ته لاره پیداکول. | 4. ځوان او ژمن کارکوونکي او د استادانو د کارکولو عالي روحیه درلودل. | 4. د اکاډمیکو او اداري چارو لپاره د کافي اندازه زیربناوو نشتون. |
| 5. د هیواد په کچه د زراعت پوهنځۍ د یو واحد نصاب درلودل. | 5. د افغانستان د دولتي پوهنتونو او ارګانونو سره د همکاریو هوکړه لیکونه درلودل. | 5. د بین المللي پوهنتونونو سره د ګډو همکاریو د سندونو د ثبات نشتون. |
| 6. د کندهار ولایت د حیواناتو او نباتاتو د روزلو لپاره مناسب اقلیم لرل. | 6. د پوهنتون د پراختیا له پاره د پراخه کرنیزي ساحې او د خړوبولو د اوبو له پاره د ظاهر شاهي ویالي شتون. | 6. د پوهنتون په کچه د IT مرکز نشتون. |
| 7. په جنوب غرب حوزه (کندهار ولایت ډنډ ولسوالي) کښې د تاپي مسیر (د TAPI پروژې عملاً کړني) شروع کېدل. | 7. د پوهنتون ګډ څو توکمیز اداري جوړښت. | 7. د غونډو لپاره د معیاري تالار نشتون. |
| 8. د ولایتي اداري او لوړو زده کړو وزارت سره د غوره اړیکو ساتل. | 8. د پوهنتون لپاره د دوو ساحو (۱۰۰ جریبه د ښاریه داخل کې - عینو مینې کمپس) او (۴۵۹۰ جریبه - مرکزي کمپس) درلودل. | 8. د قوي عامه – خصوصي - ملګرتیا (Public- Private - Partnership) نشتون تر څو د فارم پراخه ساحه د تولید له پاره وکارول سي. |
| 9. د لوړو زده کړو د تحصیلي نهادونو موجودیت. | 9. د پوهنتون لپاره تائید سوي ستراتیژیک پلان موجودیت. | 9. د کندهار ښار څخه د پوهنتون د اصلي کمپس لریوالی او د ټرانسپورټي آسانتیاوو کموالی. |
| 10. د وزارت په کچه د کیفیت د تضمین او لوړاوي د سیستم موجودیت. | 10. د څېړنو په برخه کې د استادانو لیوالتیا زیاتیدل. | 10. د لوړ رتبه استادانو کمبنت او د زیات شمېر استادانو او اداري کارمندانو د تحصیلي درجې ټیټوالی. |
| 11. د پوهنتون د موجود مځکه او اوبه د څېړونو او مالي استقلالیت په موخه استعمالول. | 11. د پانګوني د جلب قوت او ظرفیت در لودل. | 11. د مجهزو لابراتوارونو نه شتون او د لابراتوار نصبولو او ساتلو له پاره د تجربه لرونکو کارکوونکو کموالی. |
| 12. د کندهار ولایت ستراتیژیک موقعیت ته په کتو د ددولت خاصه پاملرنه. | 12. د شاوخوا ۹۵سلنه ځوانو استادانو شتون، چې زیات شمېر یې د ماستري په کچه لوړې زده کړې ترسره کړې دي. | 12. د محصلانو لپاره د لوبغالو نشتون. |
| 13. د کندهار ولایت په کچه د پراخو کرنیزو منابعو شتون، مروجه کرنه او مالداري چې د پوهنتون اړونده علمي او څېړنیزو فعالیتونو لپاره یې زمینه برابره کړې ده. | 13. د عصري ټکنالوژۍ څخه په اداري او تدریسي چاروکي ګټه اخیستل. | 13. د محصلانو لپاره د معیاري لیلیې نشتون. |
| 14. د سیمې او نړۍ په کچه د علمي څېړنیزو رقابتونو موجودیت. | 14. د علمي مؤسسو ، مرکزونو او پوهنتونو سره په ملي او نړیواله کچه د همکارۍ دوه اړخیزي اړیکي پالل. | 14. د اداري کارمندانو د انګلیسي ژبې او کمپیوټري مهارتونو کموالی. |
| 15. د زون په کچه د پوهنتونو اړونده د زراعت پوهنځیو د فیلډ په ډول پاتې کېدل. | 15. د علمي زده کړو له پاره د آسانتیاوو لکه ډیمو فارم، مرکزي لابراتوار او تحقیقي فارم شتون. | 15. د معیاري ټولګیو کمبنت او په ټولګیو کې د محصلانو ډېر شمېر. |
| 16. د لوړو زده کړو د نهادونو د زیربناوو تاسیس ته د دولت زیاته پاملرنه. | 16. د کیفیت د لوړاوي پروسه کې د هیواد د ډیرو معتبرو پوهنتونونو په کچه ښه ځای درلودل. | 16. د نشراتو کمبنت او د نشراتو لپاره د کافي بودجې نشتون. |
| | | 17. د وسایطو او د فارم د ماشینري لپاره د معیاري تمځای نشتون. |

| | | |
|---|---|---|
| 17. د تحقیق او تولید په موخه ۵۰۰۰ جریبه ځمکې په اختیار کې درلودل.<br>18. د اناستو پوهنتون سره د اوږونده سکتوري ادارو همکاري.<br>19. د ظرفیت لوړولو په موخه د اوږد مهاله او لنډ مهاله پروګرامونو شتون.<br>20. په پراخه کچه د بیلابیلو پوهنتونونو په ځانګړيډول د IARI (Indian Agriculture Research institute) او IVRI (Indian Veterinary Research Institute) سره غوره علمي او اکاډمیکه ملګرتیا در لودل. | 17. د ماستري او دوکتورا د ترلاسه کولو په موخه داستادانو لیوالتیا.<br>18. د منظمې لمریزي بریښنا او د منظم او کافي انټرنیټ شتون.<br>19. د هندوستان د هیواد IARI (Indian Agriculture and Research Institute) سره د ماستري ګډې برنامې شتون.<br>20. د مسلکي پرمختیایي مرکز،کیفیت دلوړاوي او څیړنیز مرکز شتون. | 18. د یو معیاري کتابخانې نشتون.<br>19. د یومجهز صحي مرکز نشتون.<br>20. د څیړنیز مرکز نشتون او د علمي څیړنو لپاره د اسانتیا وو کمښت. |
| **تهدیدونه(T)** | **تهاجمي ساحه**<br>**فرصتونه او د قوت ټکي (SO)** | **محافظه کارانه ساحه**<br>**فرصتونه کمزوري ټکي (WO)** |
| 1. په مکتبونو کې د تدریسي بهیرد کیفیت خرابوالی.<br>2. په ټولنه کې د تشکیل کمښت.<br>3. د پوهنتون اکاډمیک پرمختګ ته څنګه چې لازمه ده همغه شان د لوړو زده کړو وزارت له لوري د پاملرنې نشتون.<br>4. په ملي ژبو معتبرو علمي منابعو ته نه لاسرسی.<br>5. اکاډمیک او مالي استقلالیت نه درلودل.<br>6. د فارغانو لپاره د کاري فرصتونو کمښت.<br>7. په سیمیزه کچه د پوهنتون د ملکیتونو سره ناسم چلند.<br>8. په موجوده لوایحو او مقررو کې ستونزې.<br>9. د اداري کار کوونکو لپاره د ظرفیت جوړونې د میکانیزم نشتون.<br>10. په سیمیزه کچه د پوهنتون سره د وګړو کمه همکاري. | کولای سو ( S4 او S5 ) له طریقه O1 تر لاسه کړو.<br>د (S2, S4, S9, S11) له طریقه O2 تر لاسه کیدای سي.<br>د (S4, S5, S11) پواسطهO3 تر لاسه کیږي.<br>د(S2) له طریقه O5 تر لاسه کیږي.<br>د (S5) له طریقه O8 لاسته راوړو.<br>د (S5) په لرولو سره کولای سو O9 وکاروو.<br>د (S13, S16) په ګټې سره O10 تقویت کولای سو.<br>د (S9, S10, S11, S13) څخه په ګټې سره کولای سو O11 څخه اعظمي ګټه واخلو.<br>د (S16) له لاري کولای سو له O12 کې استفاده وسي.<br>(S10, S12, S13, S15) کولای سي د O14 په برخه کې اغیزمن ثابت سي.<br>د (S17, S18, S19) له لاري کولای سو د O15 برخه تقویت کړو.<br>د S10,17,19 څخه د O20 د تقویت لپاره استفاده وکړو. | د (O1) له لاري (W8) رفع کولای سو.<br>د (O3) له لاري (W5) کمزوري ټکي رفع کولای سو.<br>د (O1) له لاري (W11 ) رفع کولای سو.<br>د (O16) په درلودلو سره د (W3, W7) رفع کولای سو.<br>د (W12, W13) رفع په (O16) سره کولای سو.<br>د (O7) له لاري (W5) رفع کولای سو.<br>د (O16) په لرولو سره د ( W15, W17, W18, W19) رفع کولای سو.<br>د ( O13 او O20) په لرولو سره د (W8) رفع کولای سو.<br>د ( O18 او O19) په لرولو سره د (W10) رفع کولای سو.<br>د (O20) په لرولو سره د (W14, W20) رفع کولای سو. |
| 11. د مرکز څخه د کندهار ولایت لري والی. | **رقابتي ساحه**<br>**قوت او تهدیدونه (ST)** | **تدافعي ساحه**<br>**کمزوري ټکي او تهدیدونه (WT)** |
| 12. د هیواد نه د کادري او مسلکي کسانو فرار.<br>13. د پوهنتونونو سره د خارجي مرستندویه سازمانونو کمه علاقه.<br>14. د وزارت په کچه د زاړه بیروکراتیک سیستم موجودیت.<br>15. د نړیوالو پوهنتونونو سره د پوهنتون د توامیتونو د جوړولو په برخه کې د یوې اوږدې او ستړې کوونکې پروسې شتون. | د (S1) له لاري د (T4) دفع کولای سو.<br>د (S2) له لاري د (T1) دفع کولای سو.<br>د (S3) له لاري د (T19) دفع کولای سو.<br>د (T1, T3, T20, T4) دفع په (S1 او S4) سره کولای سو.<br>د (S5) له لاري د (T5, T6) دفع کولای سو.<br>د (S6) له لاري د (T3) دفع کولای سو.<br>د (S7) له لاري د (T18) دفع کولای سو.<br>د (T7, T11) دفع د (S8) له لاري کولای سو. | د (T6) په لرولو سره (W2) ته لاره هواره وي.<br>د (T7) له لرولو سره (W3) ته لاره هواره وي. |

| | | |
|---|---|---|
| 16. له ښار څخه پوهنتون ته اوږده فاصله. | د (T10, T16, T17) دفع د (S9) له لاري کولای سو. | |
| 17. د حکومت له لوري د پرمختیایي بودیجې کموالی. | د (S10) له لاري د ( T8) دفع کولای سو.<br>د (S11) له لاري د (T18) دفع کولای سو.<br>د (T2) دفع په (S12) سره کولای سو. | |
| 18. په پوهنتون کې د اکاډمیکو او اداري چارو د مخته وړلو لپاره د کافي زیربناو نشتوالی. | د (S13) له لاري د (T13, T15) دفع کولای سو. | |
| ٦٦ | د ودانیو پراختیا او تجهیز کول | مرکزی خېرنیز فارم ودانیو رغونه او پراختیا ورکول | د ساختماني چارو د تکمیل سلنه | ۴ | مالي سرچیني | مالي او اداري معاونیت | علمي معاونیت+مربوطه | حمل | سنبله | میزان | ۱ | ۱ | ۲ | ۰ | | ٦ میلیونه | | | |
| ٦٧ | | د مرکزي لابراتوار د پاتې کارونو بشپړول | د لوازمو د تجهیز سلنه | ٪۵۰ | مالي سرچیني | مالي او اداري معاونیت | علمي معاونیت+مربوطه | حمل | سنبله | میزان | ٪۱۰ | ٪۱۰ | ٪۲۰ | ٪۱۰ | | ۲۰ میلیونه | د تجهیزاتو او وسایلو تدارکاتي چارې | د تحقیقاتو حمیات او پراختیا | |
| ٦٨ | | د مرکزي لابراتوار تجهیز او حفظ مراقبت | د وسایلو د تجهیز سلنه | ٪۵۰ | مالي سرچیني | مالي او اداري معاونیت | علمي معاونیت+مربوطه | حمل | سنبله | میزان | ٪۱۰ | ٪۱۰ | ٪۲۰ | ٪۱۰ | | ۵۰ میلیونه | | | |
| ٦۹ | | د خدماتو پیاوړتیا لپاره (لیلیه+جمنازیم+پاکی اوبه) تجهیز او حفظ مراقبت | د ساختماني چارو د تکمیل سلنه | ٪۵۰ | مالي ملاتړ | علمي معاونیت | اداري معاونیت+د نصاب کمېټه | حمل | حوت | حوت | ۱۰٪ | ۱۰٪ | ۲۰٪ | ۱۰٪ | | ۵ میلیونه | د روغوني، ترمیماتو او سامانونو او لوازمو تهیه | محصلینو ته د اسانتیاوو برابرول | |

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د (۱۴۰۵) کال عملیاتي پلان د پوهنتون د ستراتیژیک پلان د تدوین، توحید، تطبیق او څارني کمېټي ( ۴ ) گڼه پروتوکول (۲۷/ ۹ /۱۴۰۳) نېټي غونډه کي ثبت او تائید سوي دي.

د پوهنتون د ستراتیژیک پلان د تدوین، توحید، تطبیق او څارني کمېټي مسؤل

پوهندوي قدرت الله احسان

یاد عملیاتي پلان د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژی ملي پوهنتون د علمي شورا ( ۱۱ ) گڼه پروتوکول (۲۹/ ۱۲ /۱۴۰۳) نېټي غونډه کي ثبت او تائید سوي دي.

د پوهنتون د علمي شورا منشی

پوهنمل دین محمد مشفق

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون رئیس

**مولوی سید محمد داود اغا هاشمی**

## ۲۰. د پوهنتون د (۱۴۰۱-۱۴۰۵ل.) کلونو د عادي او انکشافي بودجې پیشنهادي خلاصه

په لاندنیو جدولونو کښې د اناستو پوهنتون د راتلونکو پنځو کلونو (۱۴۰۱-۱۴۰۵ل.) پورې پیشنهادي عادی بودجه ترتیب سوی او واضیح شکل سره تشریح سوی ده. او په اخیرنی جدول کي ټوله مجموعی توگه سره واضیح سوی ده.

**جدول (۹): د سهولتونو او سیسټمونو د چمتو کولو چارې**

| گڼه | اهداف | د اجراأتو وخت | | | | | تخمیني لگښت، میلیون افغانی | دبودیجي ډول | اجراً کوونکی | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۴ | ۱۴۰۵ | | | | |
| ۱ | د انستو پوهنتون د ساحې خخه د احاطوي دبوال جوړېدل | √ | √ | √ | √ | | 210 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۲ | د پوهنتون د عمومي دروازې او امنیتي تأسیسات | √ | | | | | 18 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۳ | د ماسترپلان جوړول | √ | √ | √ | | | 5 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۴ | د تدریسي ودانی جوړول (عمومی) | √ | √ | √ | √ | | 50 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۵ | د تدریسي ودانی جوړول (مسلکي) | √ | √ | √ | √ | | 50 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۶ | د لیلیې د تعمیر جوړول | √ | √ | √ | √ | | 100 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۷ | د هستوگنې د بلاک جوړول | √ | √ | √ | √ | √ | 60 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۸ | د مرکزي لابراتوار د تعمیر جوړول | √ | √ | √ | √ | | 20 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۹ | د ارثي باغ جوړول | √ | √ | √ | √ | √ | 210 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۱۰ | د څېړنیز مرکز ودانی جوړول | √ | √ | √ | | | 20 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۱۱ | د ماشیني تخنیکي ورکشاپ | √ | √ | √ | | | 50 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۱۲ | د یوه مجهز کتابتون د تعمیر جوړول | √ | √ | √ | | | 50 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۱۳ | د غونډو د یوه مجهز تالار(اډیتوریم) جوړول | √ | √ | √ | | | 30 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۱۴ | د پوهنتون د اړونده ساحې هموارول | √ | √ | | | | 10 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۱۵ | د زراعتي تولیداتو له پاره د سړې خونې جوړول | √ | √ | √ | | | 20 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | د عاجلو روغتیایي خدماتو په موخه د یوه کلینیک جوړول | √ | √ | √ | | | 3 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۱۷ | د ټرانسپورټي وسایطو له پاره د پارکینګ جوړول | √ | √ | √ | | | 5 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۱۸ | د تېلو د ذخیرې جوړول | √ | √ | √ | | | 5 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۱۹ | د ورزسي سهولتونو (جمنازیوم او میدانونو) جوړول | √ | √ | √ | √ | √ | 40 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۲۰ | د بدرفت د سیستم جوړول | √ | √ | √ | | | 14 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۲۱ | د دوو تدریسی بلاکونو جوړول | √ | √ | √ | √ | √ | 100 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۲۲ | د یوه اداري بلاک جوړول | √ | √ | √ | √ | √ | 40 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۲۳ | د لیلیې د دوو بلاک جوړول | √ | √ | √ | √ | √ | 200 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۲۴ | د ماهیانو/چرګانو/شاتو مچیو د فارمونو ودانی جوړول | √ | √ | √ | √ | √ | 11 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۲۵ | کانتین/کافیتیریا | √ | √ | √ | | | 3 | انکشافي بودیجه | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| **د ساختماني چارو ټول لګښت (میلیونه افغانی)** | | | | | | | **1324 میلیونه افغانی** | | | |

**جدول (۱۰): د مختلفو برخو په تفکیک سره د ستراتیژیک پلان د تطبیقولو مالي لګښتونه**

| **ګڼه** | **اهداف** | **د اجراآتو وخت** | | | | | **تخمیني لګښت, میلیون افغانی** | **د بودیجي ډول** | **اجراً کوونکی** | **کتني** |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | **۱۴۰۱** | **۱۴۰۲** | **۱۴۰۳** | **۱۴۰۴** | **۱۴۰۵** | | | | |
| ۱ | د پوهنتون د ساحې له پاره د برېښنایي سیستم جوړول | √ | √ | √ | | | 5 | انکشافي | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۲ | د پاکواوبو او د ابیاری د اوبو د سیستمونو جوړول | √ | √ | √ | | | 35 | انکشافي | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۳ | د نباتی تولیداتو د (ګرېډینګ او پیکینګ) له پاره د سیستمونو جوړول | √ | √ | √ | √ | √ | 60 | انکشافي | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| ۴ | د پوهنتون ټولو شعبو ته د انټرنیټ د سهولتونو آماده کول | √ | √ | | | | 5 | انکشافي | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت مالیه | |
| **د سیستمونو د آماده کولو ټول لګښت (میلیونه افغانی)** | | | | | | | **105 میلیونه افغانی** | | | |

**جدول (۱۱): د اناسټو پوهنتون ودانیزي چارې، لګښتونه او د بشپړیدو وخت**

| ګڼه | اهداف | د اجرااتو وخت | | | | | تخمیني لګښت, میلیون افغاني | د بودیجي ډول | اجراً کوونکی | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۴ | ۱۴۰۵ | | | | |
| ۱ | د ظرفیت لوړوني په برخه کي | √ | √ | √ | √ | √ | 270 | انکشافي | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت ماليه | |
| ۲ | د تدریسي او څېړنیزو پروسو د کیفیت لوړولو له پاره | √ | √ | √ | √ | √ | 450 | انکشافي | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت ماليه | |
| ۳ | د علمي څېړنو، نوښت او انتقادي تفکر د عامولو له پاره | √ | √ | √ | √ | √ | 120 | انکشافي | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت ماليه | |
| ۴ | د کیفیت د لوړاوي اعتبار تر لاسه کوولو له پاره | √ | √ | √ | √ | √ | 60 | انکشافي | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت ماليه | |
| ۵ | د معلوماتو او اړیکو ټکنالوژي له پاره | √ | √ | √ | | | 60 | انکشافي | لوړو زده کړو وزارت+ وزارت ماليه | |
| **د مختلفو برخو د تطبیقوولو له پاره ټول مجموعي لګښت (میلیونه افغانۍ)** | | | | | | | **960 میلیونه افغانۍ** | | | |
| **د پنځه کلن ستراتیژیک پلان د تطبیقوولو له پاره ټول مجموعي لګښت (9 + 10 او 11 جدولونو مجموعي لګښتونه په افغانۍ)** | | | | | | | | **2389 میلیونه افغانۍ** | | |

## ۲۱. د انستو پوهنتون د ستراتیژیو اجرا کول

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون د پنځه کلن ستراتیژیک پلان له مخي بېلابېلي موخي او د هري موخي د پوره کولو لپاره بېلابېلي ستراتیژۍ ټاکلي دي همدا ستراتیژیو د پلي کولو لپاره دري لویو انتخابونو ته اړتیا لرو چي په لاندي ډول سره تشریح سوی دي.

### 1. د پلي کولو لپاره د اسانتیاوو برابرول چي عبارت دي له:

a) د اناستو پوهنتون په تشکیلاتو او جوړښت کي بدلون راوستل.

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون د سیمی په کچه ملي پوهنتون دي چي تشکیلاتو ته یی باید وخت پر وخت کتنه تر سره سی نو په همدي هدف د پوهنتون تشکیلاتی جوړښت کي د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د لوړو زده کړو وزارت د لسگونو موخو ته په کتو سره ترتیب کول او همداشان د څېړونو معانیت، امریت، مدیریت او اړوند برخو کښي تشکیلات پراخ کول.

b) د مدیریتي سیستمونو او پروسو اصلاح او پیاوړي کول.

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون د داخلی او بهرنی چارو د ښه تنظیم او کړونو پر وخت تر سره کیدو لپاره د مدیریتی سیستمونو او اداری پروسو د تر سره کولو لپاره لوایحو او طرز العملونو ته اړتیا لیدل کیږي چي همدا طرزالعملونو ته په کتو سره د یادو پروسو اسانه او ساده کولو لپاره کړنی تر سره کولو ته اړتیا ده چي پوهنتون رهبری ژمنه ده چي مدیریتی سیستمونو کي اصلاحات او پیاوړتیا راولي.

c) د پوهنتون د وضعیت د پیاوړتیا لپاره طرحې وړاندیز کول.

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون وضعیت ته په کتو سره یو ستراتیژیک حالت کی قرار لری نو په همدی منظور د پوهنتون د وضعیت د پیاوړتیا لپاره د لوړو زده کړو وزارت او اړوند ادارو ته د پیاوړتیا طرحې وړاندي کول او د پوهنتون حالت بهتر کول.

d) د اناستو پوهنتون د رهبری او اداری سیستم کي بدلون راوستل.

د کندهار ولایت د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژی ملي پوهنتون چي د سیمی په کچه یو ملی پوهنتون دی نو په همدي منظور د رهبری بدلون ته اړتیا لیدل کیږي لکه (معاونین، د پوهنځیو رئیسان، د څانگو امرین او کارمندان) کښي بدلون راوستل اړین دي چي د پوهنتون د چارو د ښه رهبری او اداری کړونو پر وخت او ښه تر سره کولو لپاره بدلون راوستل.

### 2. د پوهنتون د ستراتیژیو د عملي کولو او کارندې بڼې ته اړول:

a) د پنځه کلنی ستراتیژۍ د نقشي تدوین.

د پوهنتون د پنځه کلن ستراتیژیک پلان او پنځه کلن عملیاتي پلان ته په کتو سره د ستراتیژیو پلي کولو ته اړتیا ده نو په همدی موخه باید د پنځه کلنی ستراتیژیو د نقشی تدوین او نوو ستراتیژیو ټاکل تر سره کیږی.

b) د بودیجي تدوین او د سرچینو تخصیص.

د پوهنتون د اداری، تدرسی، څېړنیز او فرهنگي کړونو لپاره بودیجي تدوین او د سرچینو تخصیص ته اړتیا لیدل کیږی چي پوهنتون د بودیجی د اړوند داخلی ادارو د پلانونو څخه توحید او تدوین کړي او د سرچینو پر تخصیص کړنې تر سره کوي تر څو بودیجه په صحیح شکل سره پر ځای په مصرف ورسیږی.

3. **د اړتیا وړ سرچینو برابرول او د اړتیا پر مهال د پوهنتون د لا ښه والي لپاره د پوهنتون د داخلي پالیسیو تغیرول:**

د پوهنتون د ښه والي او چارو پر وخت تر سره کولو لپاره رهبری ژمنه ده چي د اړتیا وړ سرچیني برابري کړي او تدریسی، عملي، څېړنیز، اداري او فرهنگي کړنو پر وخت تر سره کولو لپاره د پوهنتون داخلي پالیسیو کښې بدلون او تغیر راوستل.

## ۲۲. د انستو پوهنتون د ستراتیژیو څارنه او ارزونه

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژی ملي پوهنتون د ستراتیژیو د ارزوني او څارني په برخه کي موږ د ستراتیژو د بنسټونو د شاخصونو ټاکلو او ارزووني، د انساني عواملو د کړنو د سنجش، د کړنو د نوي کولو  او په دي برخه کي د نورو اغیزناکو او اړینو اصلاحاتو په هڅه کي یو د یادوني وړ ده چي د افرادو د کړنو او د پوهنتون امکاناتو ارزوونه هر کال یو ځل ترسره کیږي چي د یادې چارې د ترسراوي په برخه کي به بېلابېل میکانیزمونه را منځته سي. همدا شان د ستراتیژیک پلان کمېټه به د دې پلان د عملي کېدو څارنه او نظارت کوي او د هر کال په هره ربع کي غونډې دایریږي او د کال په وروستۍ ربع کي به د پلان د تطبیق، څرنگوالي او د نه تطبیق په صورت کي خنډونه او ستونزې  په گوته کوي او د هغوي د حل لاری به د رهبري او علمي شوراگانو سره شریکوي، چي په دې ترتیب سره د شوراگانو له طرېقه به لازم تصمیمونه نیول کیږي. په دې هیله یو چي خپل ټول امکانات او انرژي به په کار اچوو او کوښښ کوو چي په ټولو برخو کي په خاصه توگه چي هغه د کارکوونکو په هلوځلو پوري اړه لري، دا پلان له ټاکلي مودې څخه ترمخه تطبیق کړو.

## ۲۳. د موجوده حالت ارزونه

د همدې  پنځه کلن ستراتیژیک پلان ( ۱۴۰۱- ۱۴۰۵ ل.) عمده موخي د پوهنتون اړوند کمپسونو کي د اړتیا له مخې تدریسي او اداري بنسټیز تاسیسات او ساختماني ودانۍ جوړول او تر څنگ یې د نویو تحصیلي څانگو ایجادول، د فوق الیسانس برنامو ته پراختیا ورکول،د موجوده تحصیلي پروگرامونو بیاکتنه،د ظرفیتونو لوړول،د اداري سیستم بهتره کول، تحصیلي کریکولم د تجدید نظر تر څنگ د تدریس کیفیت لوړول گڼل کیږي.

د اناستو پوهنتون د تاسیس کال نه را په دیخوا نه دی توانیدلای چي د پام وړ انکشافي بودیجه ترلاسه کړي. ولې کوم څه چي د یادولو وړ دي هغه د پوهنتون د عادي بودیجې څخه موثره گټه اخیستل دي، د اناستو پوهنتون د

خپلو ورځنيو چارو د اجرا لپاره په ۱۴۰۰ ل. کال ۸۳ ميليونه افغانۍ کلنۍ بودجه ترلاسه کړي ده، چي عمده برخه يې معاشات جوړوي. د اناستيو پوهنتون له تاسيس سره سم په تحصيلي برخه کي خدمات وړاندې کوي او په دې برخه کي زياتې لاسته راوړنې لري. دلته په لنډ ډول سره د اناستيو پوهنتون د مختلفو برخو اوسنی حالت بيان سوی ده او همدارنګه د راتلونکو پنځو کلونو لپاره تخميني وړاندوينه سوي او په لاندې ډول ورځخه يادوونه کيږي.

## د ستراتيژيک پلان د ارزوني چک ليست

جدول (۱۱): د ستراتيژيک پلان د ارزوني چک ليست

| ګڼه | ستراتيژيکې موخې | ستراتيژياني | د برنامې فعاليتونه | ستراتيژيک شاخصونه | کال د پرمختګ سلنه | د برنامې د نه پيليدو دلايل | اصلاحي اقدامات | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | | | | | | | | |
| ۲ | | | | | | | | |
| ۳ | | | | | | | | |
| ۴ | | | | | | | | |
| ۵ | | | | | | | | |
| ۶ | | | | | | | | |
| ۷ | | | | | | | | |
| ۸ | | | | | | | | |
| ۹ | | | | | | | | |
| ۰ | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |
| | | | | | | | | |

## ۲۴. مل پاڼي/ضميمې

د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون د پنځه کلن ستراتيژيک پلان د ترتيب سره سم د پورتنی ستراتيژيو سره مل ضمايم او مل پاڼی موجود دي، چي په لاندیو برخو او صفحو کښې په مکمل ډول سره تشریح سوي دي.

### ۲۴-۱. پوهنځي او تحصيلي څانګي

د اناسټو پوهنتون توانیدلای چي په ډیره کمه موده کي د لیسانس او فوق الیسانس په برخه کي تحصیلي خدمات وړاندي کړي، دمګړۍ په څلورو پوهنځیو کي د لیسانس په برخه کي اوولس (17) فعاله تحصیلي څانګي لري او شپږ دیپارتمنتونه يې له ۱۳۹۵ ل. کال را په دیخوا ټولنې ته د ماستری او لیسانس په کچه فارغین وړاندي کوي. د اناسټو پوهنتون تحصيلي څانګي او د فعاليت ډول يې په لاندي (۱۲) جدول کي ښودل سوي دي.

د يادولو وړ ده چي د اناسټو پوهنتون د ليسانس سربېره د فوق الیسانس برنامي هم مخ ته وړي او د (۱۳۹۲) کال را پديخوا يې (4) دوري محصلين د اګرانومي، هارتيکلچر، نبات ژغورنه او مالداري په برخه کي د خپل اکاډميک ملګري ( IARI) سره په ګډه فارغ او ټولنې ته يې د خدمت په موخه وړاندي کړي دي.

**جدول ( ۱۲):د حاضرو او په تحصيل بوختو استادانو، د محصلينو شمېرې او د څانګو د وضعيت احصائی**

| ګڼه | پوهنځی | څانګه | د کادري غړيو شمېر | حاضر | تحصيل | د فعاليت ډول: د ليسانس په سويه فارغين لري | د فعاليت ډول: د فوق اليسانس په سويه فارغين لري | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | نباتي علوم | اګرانومي | ۸ | ۷ | ۱ | فعاله | √ | د فوق اليسانس په سويه 4 دوري فارغين لري |
| | | هارټيکلچر | ۸ | ۷ | ۱ | فعاله | √ | د فوق اليسانس په سويه يوه دوره فارغين لري |
| | | نباتاتو ژغورنه | ۸ | ۴ | ۴ | فعاله | √ | د فوق اليسانس په سويه يوه دوره فارغين لري |
| | | بيوتکنالوژي | ۳ | ۳ | ۰ | غير فعاله | | |
| | | ميکانيزه کرهنه | ۴ | ۲ | ۲ | غير فعاله | | |
| | | نباتاتو اصلاح او بذرى تخمونو تکثير | ۴ | ۴ | ۰ | غير فعاله | | |
| | | ځنګلونه او طبيعي منابع | ۵ | ۵ | ۰ | غير فعاله | | |
| | | خاوره پوهنه او اوبو لګونه | ٦ | ٦ | ۰ | غير فعاله | | |
| ۲ | حيواني علوم | حيواناتو اصلاح او روزني | ۵ | ۳ | ۲ | غير فعاله | | |
| | | مالداري | ۴ | ۳ | ۱ | فعاله | √ | د فوق اليسانس په سويه يوه دوره فارغين لري |
| | | د حيواني محصولاتو ذخيره او پروسس | ۳ | ۲ | ۱ | غير فعاله | | |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د مرغانو، ماهیانو او شاتو مچیو روزنه | ۵ | ۲ | ۳ | غیر فعاله | | |
| ۳ | کرنیز اقتصاد او توسعه | کرنیز اقتصاد | ۵ | ۲ | ۳ | فعاله | | |
| | | کرنیزه توسعه | ۳ | ۳ | ۰ | غیر فعاله | | |
| | | اګري بزنس | ۶ | ۶ | ۰ | فعاله | | |
| | | مارکیټنګ | ۴ | ۴ | ۰ | غیر فعاله | | |
| ۴ | وترنري | عمومي وترنري | ۹ | ۸ | ۱ | فعاله | | |
| ۵ | د اساسي علومو او پوهنتون شموله مضمونونو مرکز | اسلامي ثقافت | ۷ | ۵ | ۲ | عمومي | | |
| | | انګلیسي او کمپیوټر | ۳ | ۲ | ۱ | عمومي | | |
| | | بیولوژي او کیمیا | ۳ | ۲ | ۱ | عمومي | | |
| | | بدني روزنه او تاریخ | ۱ | ۱ | ۰ | عمومي | | |
| | | ریاضي او فزیک | ۲ | ۲ | ۰ | عمومي | | |
| **عمومي مجموعه** | | | ۱۰۶ | ۸۱ | ۲۵ | | | |

## ۲-۲۴. کادري غړي

د اناستو پوهنتون د تیرې یوې لسیزې په تېرېدو سره ټول ټال (۱۰۶) تنه کادري استادان په خپل تشکیل کې موجود دي، چې په (۱۳ جدول) کې د اناستو پوهنتون د کادري غړو احصایوي ارقام د علمي ترفیعاتو په تفکیک سره ښودل سوي دي.

**جدول ( ۱۳ ): د اناستو پوهنتون د کادري غړو د علمي ترفیعاتو په تفکیک احصایېوي ارقام**

| ګڼه | پوهنځی | څانګه | علمي رتبه | | | | | | | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | پوهاند | پوهنوال | پوهندوی | پوهنمل | پوهنیار | ن. پوهنیار | پوهیالی | |
| ۱ | نباتي علوم | اګرانومي | ۰ | ۰ | ۱ | ۱ | ٦ | ۰ | ۰ | ۸ |
| | | هارټیکلچر | ۰ | ۰ | ۱ | ۱ | ٦ | ۰ | ۰ | ۸ |
| | | نباتاتو ژغورنه | ۰ | ۰ | ۰ | ۲ | ۳ | ۳ | ۰ | ۸ |
| | | بیوتکنالوژي | ۱ | ۰ | ۱ | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ | ۳ |
| | | کرنیزه میکانیزه | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۳ | ۰ | ۴ |
| | | نباتاتو اصلاح او تخمونو تکثیر | ۰ | ۰ | ۲ | ۰ | ۲ | ۰ | ۰ | ۴ |
| | | ځنګلونه او طبیعي منابع | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۳ | ۱ | ۰ | ۵ |
| | | خاوره پوهنه او اوبو لګونه | ۰ | ۱ | ۰ | ۲ | ۳ | ۰ | ۰ | ٦ |
| **مجموعه** | | ۸ | ۱ | ۱ | ٦ | ٦ | ۲۵ | ۷ | ۰ | ۴٦ |
| ۲ | حیواني علوم | حیواناتو اصلاح او روزني | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۲ | ۳ | ۰ | ۵ |
| | | مالداري | ۰ | ۱ | ۰ | ۱ | ۱ | ۰ | ۱ | ۴ |
| | | د حیواني محصولاتو ذخیره او پروسس | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۲ | ۱ | ۳ |
| | | د مرغانو، ماهیانو او شاتو مچیو روزنه | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۴ | ۰ | ۵ |
| **مجموعه** | | ۴ | ۰ | ۱ | ۰ | ۱ | ۴ | ۹ | ۲ | ۱۷ |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | کرنیز اقتصاد او توسعه | کرنیز اقتصاد | ۱ | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ | ۳ | ۰ | ۵ |
| | | کرنیزه توسعه | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۲ | ۰ | ۰ | ۳ |
| | | اګري بزنس | ۰ | ۰ | ۱ | ۱ | ۳ | ۱ | ۰ | ٦ |
| | | مارکیټنګ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۳ | ۰ | ۴ |
| **مجموعه** | | ۴ | ۱ | ۰ | ۲ | ۲ | ٦ | ۷ | ۰ | ۱۸ |
| ۴ | **وترنري** | عمومي وترنري | ۰ | ۰ | ۲ | ۲ | ۵ | ۰ | ۰ | ۹ |
| **مجموعه** | | ۱ | ۰ | ۰ | ۲ | ۲ | ۵ | ۰ | ۰ | ۹ |
| ۵ | **د اساسي علومو او پوهنتون شموله مضمونونو مرکز** | رياضي او فزيک | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۱ | ۰ | ۲ |
| | | بیولوژي او کمیا | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۲ | ۱ | ۰ | ۳ |
| | | انګلیسي او کمپیوټر زده کړه | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۳ | ۰ | ۳ |
| | | اسلامي ثقافت | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۷ | ۰ | ۷ |
| | | تاریخ او بدني روزنه | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۱ |
| **مجموعه** | | ۵ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۳ | ۱۳ | ۰ | ۱۷ |
| **عمومي مجموعه** | | ۲۳ | ۲ | ۲ | ۱۰ | ۱۱ | ۴۳ | ۳٦ | ۲ | ۱۰٦ |

د یادولو وړ ده چې د اناستیو پوهنتون په تیرو لسو کلونو کې د علمي ترفیعاتو په برخه کې خورا زیاتې لاسته راوړنې لري. په (۱۸ جدول) کي د اناستیو پوهنتون د علمي کادرونو د تقرر او علمي ترفیعاتو موجوده حالت او د راتلونکي پنځه کلونو وړاندوینه ښودل سوي ده.

| ګڼه | علمي ترفیعات | ۱۳۹٦ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۴ | ۱۴۰۵ | مجموعه | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | پوهاند | ۱ | ۱ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ٦ | ۸ | |
| ۲ | پوهنوال | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ | ٦ | ۲ | ۱۰ | |
| ۳ | پوهندوي | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۴ | ٦ | ۲ | ۱۴ | ۸ | ۰ | ۳۴ | |
| ۴ | پوهنمل | ۲ | ۲ | ۱ | ۱ | ۱۴ | ۳ | ۰ | ۱۴ | ۱۰ | ۳ | ۵۰ | |
| ۵ | پوهنیار | ٦ | ٦ | ۳ | ۰ | ۱۴ | ۱۰ | ۳ | ۱۲ | ۱۴ | ۱۰ | ۷۸ | |
| ٦ | ن پوهنیار | ۹ | ۱۵ | ۱۰ | ۳ | ۱۲ | ۱۴ | ۱۰ | ۱۰ | ۱۰ | ۱۰ | ۱۰۳ | تقرر |
| ۷ | پوهیالی | ۱۱ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱۱ | |

اناستو پوهنتون د پورتنی ۱۳ جدول کښبي د راتلونکو پنځه کالو لپاره د علمی کادر غړو علمی رتبی لپاره پلان لری. اوس مهال د علمی کادر غړو علمی رتبو ته په کتو سره د راتلوونکو پنځه کلونو په جریان کښبي به د بیلابیلو څانګو استادانو وتوانیږي چې مورږ پورتنی جدول کې ښودل سوو ارقامو ته ورسوي.

**جدول ( ۱۴ ): د پوهنځی، څانګې، تحصیلي سویې او جنسیت په تفکیک سره د علمي کادر غړو احصائیه.**

| ګڼه | د پوهنځی نوم | د څانګې نوم | دکتور | | ماستر | | لیسانس | | ټول | | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | |
| ۱ | نباتي علوم | اګرانومي | ۰ | ۰ | ٦ | ۰ | ۲ | ۰ | ۸ | ۰ | ۸ |
| | | هارټیکلچر | ۳ | ۰ | ۵ | ۰ | ۰ | ۰ | ۸ | ۰ | ۸ |
| | | نباتاتو ژغورنه | ۰ | ۰ | ۵ | ۰ | ۳ | ۰ | ۸ | ۰ | ۸ |
| | | بیوتکنالوژي | ۰ | ۰ | ۲ | ۰ | ۱ | ۰ | ۳ | ۰ | ۳ |
| | | کرنیزه میکانیزه | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۳ | ۰ | ۴ | ۰ | ۴ |
| | | نباتاتو اصلاح او بذری تخمونو تکثیر | ۰ | ۰ | ۴ | ۰ | ۰ | ۰ | ۴ | ۰ | ۴ |
| | | ځنګلونه او طبیعي منابع | ۰ | ۰ | ۴ | ۰ | ۱ | ۰ | ۵ | ۰ | ۵ |
| | | خاوره پوهنه او اوبو لګونه | ۱ | ۰ | ۵ | ۰ | ۰ | ۰ | ٦ | ۰ | ٦ |
| **ټول** | | **۸** | **۴** | **۰** | **۳۳** | **۰** | **۱۰** | **۰** | **۴٦** | **۰** | **۴٦** |
| ۲ | حیواني علوم | حیواناتو اصلاح او روزني | ۰ | ۰ | ۲ | ۰ | ۳ | ۰ | ۵ | ۰ | ۵ |
| | | مالداري | ۰ | ۰ | ۳ | ۰ | ۱ | ۰ | ۴ | ۰ | ۴ |
| | | د حیواني محصولاتو ذخیره او پروسس | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۳ | ۰ | ۳ | ۰ | ۳ |
| | | د مرغانو، ماهیانو او شاتو مچیو روزنه | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۴ | ۰ | ۵ | ۰ | ۵ |
| **ټول** | | **۴** | **۰** | **۰** | **٦** | **۰** | **۱۱** | **۰** | **۱۷** | **۰** | **۱۷** |
| ۳ | کرنیز اقتصاد او توسعه | کرنیز اقتصاد | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۴ | ۰ | ۵ | ۰ | ۵ |
| | | کرنیزه توسعه | ۰ | ۰ | ۳ | ۰ | ۰ | ۰ | ۳ | ۰ | ۳ |
| | | اګري بزنس | ۰ | ۰ | ۵ | ۰ | ۱ | ۰ | ٦ | ۰ | ٦ |
| | | مارکیټنګ | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۳ | ۰ | ۴ | ۰ | ۴ |
| **ټول** | | **۴** | **۱** | **۰** | **۱۰** | **۰** | **۸** | **۰** | **۱۸** | **۰** | **۱۸** |
| ۴ | وترنری | عمومي وترنري | ۲ | ۰ | ۴ | ۰ | ۳ | ۰ | ۹ | ۰ | ۹ |
| **ټول** | | **۱** | **۲** | **۰** | **۳** | **۰** | **۵** | **۰** | **۹** | **۰** | **۹** |
| ۵ | د اساسي علومو او پوهنتون شموله مضمونونو مرکز | ریاضي او فزیک | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۱ | ۰ | ۲ | ۰ | ۲ |
| | | بیولوژي او کمیا | ۰ | ۰ | ۲ | ۰ | ۱ | ۰ | ۳ | ۰ | ۳ |
| | | انګلیسي او کمپیوټر زده کړه | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۳ | ۰ | ۳ | ۰ | ۳ |
| | | اسلامي ثقافت | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۷ | ۰ | ۷ | ۰ | ۷ |
| | | تاریخ او بدني روزنه | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۱ | ۰ | ۱ |
| **ټول** | | **۵** | **۰** | **۰** | **۳** | **۰** | **۱۳** | **۰** | **۱٦** | **۰** | **۱٦** |
| **ټول** | | | **٦** | **۰** | **۵٦** | **۰** | **۴۵** | **۰** | **۱۰٦** | **۰** | **۱۰٦** |

په اوسنیو حالاتو کې د اناستېو پوهنتون د فوق الیسانس برنامو د ایجاد او پلي کولو لپاره بهترینه فرصتونه برابر کړي ترڅو د همدې پوهنتون استادان د نورو هیوادوالو سره یوځای خپلې زده کړې د ماسټرۍ په کچه د هیواد دننه ترسره کړي. سربېره پر دي اناستېو پوهنتون تل هڅه کوي چې خپلو کادري غړیو ته د هیواد نه بهر د لوړو زده کړو فرصتونه مهیا کړي او په ترڅ کې یې د نړیوالو معتبرو پوهنتونونو علمي لاسته راوړنې او تجربې راخپلې کړي او په

دې برخه کې پوهنتون د زیاتو لاسته راوړنو شاهد دی. (۱۵جدول) په تیرو لسو کلونو کې د اناستو پوهنتون د کادري استادانو د تحصیلي سویې د لوړولو احصایوي ارقام ښیې، کوم چې د تیرو کلونو په جریان کې بهر ته د لوړو زده کړو په موخه استول سوي او خوښبختانه زیات شمېر یې له زیاتو لاسته راوړنو سربیره هیواد ته راستانه سوي او دمګړی د اناستو پوهنتون په اډانه کې د ځوان نسل په مسلکي روزنه بوخت دي.

**جدول ( ۱۵ ) : د استادانو د تحصیلي سویې لوړولو احصایېوي ارقام.**

| ګڼه | تحصیلي سویه | د تیرو کلونو ارقام | | | | | | | | | | راتلونکی پنځه کلن پلان | | | | | مجموعه | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ۱۳۹۲ | ۱۳۹۳ | ۱۳۹۴ | ۱۳۹۵ | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۴ | ۱۴۰۵ | | |
| ۱ | ماستري | ۰ | ۰ | ۱ | ۱۰ | ۴ | ۵ | ٦ | ۴ | ۱ | ۲ | ۱۰ | ۱۰ | ۱۰ | ۱۱ | ۵ | ۷۹ | |
| ۲ | دوکتورا | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱۰ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۲۰ | ۲۰ | ۲۰ | ۱۰ | ۱۰ | ۹۴ | |

د اناستو پوهنتون په تشکیل کې د استادانو جذب صعودي سیر لري په داسې حال کې چې د محصلینو جذب مخ کښته روان دی او دا حالت د محصل - استاد نسبت متاثره کړی ده ، که څه هم زیات شمېر محصلین د کانکور له لاري یاد پوهنتون ته لار مومي خو د معمول خلاف کم شمېر محصلین په یاد پوهنتون کې لوړو زده کړو ته زده ښه کوي او ثبت نام کوي، یقیناً دا حالت خواښینوونکی دی او د اناستو پوهنتون په وړاندي جدي ننګونه ګڼل کیږي. د اناستو، پوهنتون نوموړې ستونزه درک کړې ده او په اړه یې لازم تدابیر نیولي دي. د یادولو وړ ده چې د لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژۍ له مخې د هیواد په کچه د جدید الشمول محصلینو کلنی رشد ٪۲ ټاکل سوی. همدارنګه د هیواد په کچه د ۱۳۹۳ کال د احصایېوی ارقام ښیي چې په دولتي پوهنتونو کې د استاد او محصل نسبت ۱:۳۵ ته رسیدلی و، په داسې حال کې د نړۍ په نورو هیوادونو کې بیا دا نسبت ډېر کم دي؛ د بیلګي په ډول په اندونیزیا هیواد کې نوموړی نسبت ۱:۱۵، چین ۱:۱۹، کمبودیا ۱:۲۳، سنګاپور۱۳ :۱ او مالیزیا ۱:۲۰ تخمین سوی ده. متاسفانه چې د اناستو پوهنتون د ذکر سوي نسبت له مخې غیري عادي حالت غوره کړی ده او دا په ډاګه کوي چې نوموړی پوهنتون د محصلینو د جذب په برخه کې نه یواځې رشد نه دی کړی، بلکې نزولي سیر یې غوره کړی. نوموړې ستونزه زیات شمېر علتونه لري چې یو شمېر یې د SWOT په تحلیلي ارزونه کې په ګوته سوي دي. د اناستو پوهنتون ژمن دی چې د همدې ستراتیژیک پلان په مرسته به دا تشه ډکه کړي، د جدید الشمول

محصلینو جذب لوړ کړي او ډاډه یو چي په نږدي راتلونکي کي به د اناستړ پوهنتون د زیات شمېر محصلینو د جذب وړتیا ومومي.

**۳-۲۴. کتابتون**

که څه هم د اناستړ پوهنتون دکتابتون په نوم کوم ځانګړی تعمیر نه لري مګر د کتابتون اهمیت او اړتیا ته په کتو سره یاد پوهنتون په کمو امکاناتو سره د محصلینو او استادانو لپاره کتابتون جوړ کړی او زیات شمېر کتابونه د لوستونکو په اختیار کي لري. تر دا مهاله په خپل مرکزي کمپس کي د مسلک اړوند ۹۵۰۰ ټوکه کتابونه، مجلی او د محصلانو تیزیزونه موجود دي چي د هغوي د جملی څخه یی ۷۵۵۰ ټوکه باوري کتابونه او د کتابتون د اصولو سره سم دځانګو او پوهنځیو په تفکیک سره دځانګړي کوډ نمبر په مرسته تنظیم سویدي. محصلین او دمسلک مینه وال کولای سي په رسمي وخت کي تري استفاده وکړي. په یاد کتابتون کي د علمي مجلې، څېړنیز سیمینارونه ماستری برنامو تیزسونه هم شتون لري چي مجموعي تعداد یې ۱۹۵۰ټوکه ته رسیږي او دلوستونکو په اختیار کي ورکړل سوي دي.

د اناستړ پوهنتون دنشراتو په برخه کي دپام وړ لاسته راوړنې لري خوشبختانه په دې وروستیو کي یاد پوهنتون د زرغون نوښت تر عنوان لاندې علمي مجلې د نشر امتیاز خپل کړ او رسما یې خپل نشرات پیل کړي. د زرغون نوښت اکاډمیک ژورنال په هرو دریو میاشتو کي یوځل خپریږي، او تر ډیره بریده د زراعت او مالداري دسکتور اړوند څېړنیزي او علمي مقالې خپروي. د اناستړ پوهنتون استادان توانیدلی چي د خپلو څېړنو پایلی په ملي او نړیوالو معتبرو ژورنالونو کي خپری کړي، د یادولو وړ ده چي تر دې دمه د یاد پوهنتون ډیري علمی مقالي د مختلیفو هیوادونو په معتبرو نړیوالو ژورنالونو کي نشر ته سپارل سوی او دا لړۍ لا هم دوام لری. باید وویل سي چي د اناستړ پوهنتون د خپلو علمی رتبو او تحصلي سندونو د تر لاسه کولو لپاره زیات شمېر کتابونه او علمی اثار لیکلي، ژباړلي او نشر کړي، کوم چي د یاد پوهنتون معنوي پانګه بلل کیږي. که څه هم د اناستړ پوهنتون د څېړنو او نشراتو په برخه کي څه ناڅه لاسته راوړنې لري ولې دا په هیڅ صورت بسنه نه کوي. یاد پوهنتون هڅه کوي ترڅو دا ستونزې حل کړی او څېړنېز او نشراتي فعالیتونه لا زیات او مؤثر کړي، کوم چي تر دې دمه د قناعت وړ نه دي. د یادولو وړ ده چي په دې برخه کي ترټولو عمده ستونزه د مالی امکاناتو کمښت دي چي له کبله یې استادان نه سي کولای څېړنې ترسره او پایلي یې په معتبرو ژورنالونو کي نشر کړي. د اناستړ پوهنتون د تیرو کلونو په جریان کي بیلابیلو اړونده ارګانونو ته پروپوزلونه لیږلي دي خو په خواشني سره نه دې توانیدلي چي د پام وړ بودیجه ترلاسه کړي. د همدې ستراتیژیک پلان په مرسته به هڅه وسي چي د دولتي او خصوصي سکټورونو څخه د لازمه بودیجه ترلاسه او خپلي څېړنې لا زیاتې غني کړي.

### ۴-۲۴. بشری منابع

د اناستیو پوهنتون د ۱۴۰۳ کال د نوی منظور سوي تشکیل له مخي ټول ټال (۲۶۷) کادری او اداري پرسونل په توگه منظور سوي دي. اداري پرسونل د پوهنتون د رئیس، پنځه تنه معاونین، د پوهنځیو رئیسان، اداري او خدماتي کارمندان په بر کي نیسي. د کادري بستونو څخه پرته د اداري کارکونکو له ډلی څخه (۲) تنه یې د ماسټری سند لري او پاته نور یې لیسانس او ۱۲ م پاس دي. د اداري کارمندانو شمېر او تحصلي کچه په لاندې جدول کي توضیح سوی ده.

**جدول (۱٦): د ادري بستونو او تحصلي درجو په تفکیک سره د اداري کارمنداو احصایوي ارقام**

| د تحصیل درجه/بست | لویه دوره | ۱۲ پاس | ۱۴ پاس | لیسانس | ماسټر | دوکتور | ټوله |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اول بست | ۱ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ |
| دوهم بست | ۲ | ۰ | ۰ | ۰ | ٦ | ۱ | ۹ |
| دریم بست | ۲ | ۰ | ۰ | ۷ | ۰ | ۰ | ۹ |
| څلورم بست | ۳ | ۰ | ۰ | ۱۸ | ۰ | ۰ | ۲۱ |
| پنځم بست | ۰ | ۲ | ۲ | ۲۲ | ۰ | ۰ | ۲٦ |
| شپږم بست | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ټوله | ۸ | ۲ | ۲ | ۴۷ | ٦ | ۱ | ٦٦ |

سربېره پر دې د اناستیو پوهنتون مجموعاً ( ۲٦ ) تنه خدماتي کارکوونکی لری چي په ۱۷او ۸بست باندې کار کوي. دا مهال د اناستیو پوهنتون په اداري تشکیل کي یو اداري او یو خدماتی کارمند د ( ۱۳ ) او (۲۹ ) تنه محصلینو لپاره فعالیت کوي. په دې اړه د تیرو کلونو ارقام په لاندې(۲۳ جدول) کي ښودل سوي دي.

**جدول (۱۷): د اداري او یو خدماتی کارمند راتلونکو پنځو کلونو ارقام او نسبت**

| گڼه | کال | اداري کارمندان | خدماتی کارمندان | کتني |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۳۹۴ | ۳۰ | ۱۹ | |
| ۲ | ۱۳۹۵ | ۳۰ | ۱۹ | |
| ۳ | ۱۳۹٦ | ۲۳ | ۱۹ | |
| ۴ | ۱۳۹۷ | ۳۰ | ۱۹ | |
| ۵ | ۱۳۹۸ | ۳۱ | ۱۹ | |
| ٦ | ۱۳۹۹ | ۴۲ | ۱۹ | |
| ۷ | ۱۴۰۰ | ۴۲ | ۱۹ | |
| ۸ | ۱۴۰۱ | ۴۵ | ۲٦ | |

د یادونې وړ ده چې د اداري کارکوونکو د ظرفیت لوړونې په برخه کې د پوهنتون په داخل کښې بېلابېل ورکشاپونه په کار اچول سوي ترڅو اداري کارمندان وکړای سي د راپور لیکلو، دفترداری او فایلونو تنظیم، اړیکو او ارتباطاتو په برخه کې خپل اداري مهارتونه لوړ کړي. سر بېره پر دې اداري کارکوونکي د ولایت او مرکز اړوند ورکشاپونو او ترینینگونو ته په خپله برخه کې لیږل سوي دي. اناستو پوهنتون هڅه کوي په دې برخه کې لا زیاتی اسانتیاوي رامنځته کړي ترڅو محصلینو ته ښه خدمات وړاندې کړي.

### ۵-۲۴. پرمختیایي پروژې

د اناستو پوهنتون د تاسیس کال را پدېخوا یو شمېر کوچنی پرمختیایي پروژی پلي کړي دي، ولي د بنسټیزو تاسیساتو په برخه کې تر دې دمه د پام وړکار نه دی سوي، یوازې د عینو مینی کمپس کې یو تدریسی بلاک او یو هم لیلیه بلاک جوړ سوی چې ساختمانی چارې یې لا هم نیمگړی پاته دي. د همدغه ستراتیژیک پلان په ترڅ کې به هڅه وسي چې د نوموړو تعمراتو پاتې کارونه ژر تر ژره بشپړه او گټې اخیستنې ته چمتو سي .

### ۶-۲۴. اړیکي

د اناستو پوهنتون د خپل تاسیس سره سم تل هڅه کړې چې د ملي او نړیوالو پوهنتونونو، مؤسسو او مختلیفو ادارو سره اړیکي او ارتباطات ټینگ کړي، ترڅو له یو خوا د خپلو انکشافي برنامو لپاره مالي سرچینې پیدا کړي او له بل لوري د یادو ذیدخلو ادارو او پوهنتونونو د تجربو او ظرفیتونو څخه گټه واخلي او خپل فعالیتونه په مؤثره توگه ترسره کړي. د اناستو پوهنتون په دې برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې لري، دبیلگې په توگه: د اناستو پوهنتون په علمي برخه کې د خپل اکاډمیک او ستراتیژیک ملگری (IARI) یا د هندوستان د کرنیزو څېړنو انسټیټوټ سره په گډه د فوق لیسانس ( ماستری) دری برنامی مخته وړي دي او له همدې طریقه یې ( ۸۵ ) تنه محصلین په دریو تحصلي څانگو ( اگرانومي، هارټیکلچر او نبات ژغورنې) کې د ماستري په کچه فارغ او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي، د مالداري او اگرانومي څانگو په برخه کې لا هم یو شمېر محصلین په زده کړو بوخت دي. د اناستو پوهنتون هڅه کوی چې دا لړۍ نوره هم پراخه سي او د ماستري ترڅنگ د دوکتورا په کچه په لا زیاتو څانگو کې محصلین وروزي.

د یادولو وړ ده چې د اناستو پوهنتون په دا وروستیو کې د ملی پراختیایي شرکت سره اړیکي ټینگې کړي دي، ترڅو وکړای سي یو شمېر رغنیزي او انکشافي پروژي د همدې شرکت په مرسته پلي کړي. د یادولو وړ ده چې دواړه لوري یوې هوکړې ته نژدې سوي او ډېر ژر به د ټاکلې طرحی په بنسټ دواړه لوري خپلو ژمنو ته د عمل جامه ور واغوندي. سربېره پر دې د اناستو پوهنتون د ولایت او زون په کچه د نړیوالو خیریه مؤسسو سره لیدنې کتنې درلودې او هڅه کوي ترڅو د څانگړیو هوکړه لیکونو له لاري د گډ کار زمینه برابره کړي او د نړیوالو ادارو د ظرفیتونو، امکاناتو او فرصتونو څخه مؤثره گټه تر لاسه کړي. د دې ترڅنگ اناستو پوهنتون د ولایت، زون او هیواد په کچه د یو شمېر دولتی او خصوصی پوهنتونونو سره د گډ کار کولو هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي،

ترڅو موثره دوه اړخیزه همکاري ترسره کړي. په (۲۴ جدول) کي د دولتي او خصوصي سکتور اړوند یو شمېر ادارو او نهادونو سره د اناستو پوهنتون اړیکي او ارتباطات ښيي کوم چي تر دي دمه عملي سوي او یا هم په راتلونکي کي په پلان کي دي. اناستو پوهنتون ژمن دی چي دا لړۍ نوره هم پراخه کړي او د دې ستراتیژیک پلان په مرسته غواړي د لاندې ذکر سویو پوهنتونونو، ادارو او مؤسسو سربېره د نورو ذیدخله ادارو سره خپلی حسنه اړیکي ټینګي او وپالي.

د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د تحصیلي برنامو، څېړنو، تولید او ترویج په برخو کي هیوادشموله مسئولیت لري او د دې پوهنتون د ستراتیژۍ د تطبیق او موخو ته رسېدل پراخه کار او هلي ځلي غواړي او ډېرو زیاتو مادي او معنوي امکاناتو ته اړتیا لري. د هیواد حالاتو او مالي امکاناتو ته په کتو سره به دا ډېره ستونزمنه وي چي د ملي او نړیوالو مرستندویه ادارو پرته خپلو موخو ته په آسانۍ سره ورسیږي. له بلې خوا د پوهنتون چارو ته په کتو فعلاً د نورو علمي، ادارې او خدماتي برخو او جوړښتونو ترڅنګ د اړیکو د تنظیم معاونیت هم موجود دي او د هغوی مکلفیت دادي چي په داخلي او نړیواله کچه اړیکي تنظیم او د هغوی څخه د مادي او معنوي مرستو د جذب په موخه استفاده وکړي.

**۷-۲۴. داخلي اړیکو تنظیمول**

- د کرهنې پوهنځي لرونکو تحصیلي نهادونو سره اړیکي.
- د کرهنې، اوبولګولو او مالداري وزارت او ولایتي ریاستونو سره اړیکي.
- د مخدره توکو سره د مبارزې ادارې سره اړیکي.
- د هیواد په کچه د سوداګریزو خونو سره اړیکي.
- د هیواد په کچه د صنعتي پارکونو سره اړیکي.
- د هیواد په کچه د وچو او تازه مېوو د صادراتو له برخو سره اړیکي.
- د خصوصي سکټور د باغوانانو له ټولنو سره اړیکي تامینول.
- د خصوصي سکټور د مالدارانو له ټولنو سره هراړخیزه اړیکي پالل.
- د کلیو د پراختیا وزارت او اړونده ولایتي ادارو سره اړیکي جوړول او پالل.
- د افغانستان د علومو د اکاډمۍ د طبیعي علومو د څانګې سره هراړخیزه همکاري او اړیکي ساتل.
- هغو نهادونو سره چي د کرهنې، مالدارۍ، آبیارۍ، غذایي تکنالوژۍ او د کرنیزي ماشینري په برخو کي کار کوي.
- د بهرنیو چارو وزارت سره په دي برخه کي هراړخیزه اړیکي جوړول او پالل.
- په هیواد کي دننه د داخلي او نړیوالو مرستندویه ادارو سره اړیکي ساتل.

### ۸-۲۴. بهرني اړیکو تنظیمول

په نننۍ عصر کي د نړۍ په کچه ډېرو هیوادونو د کرني او مالدراي په سکټور کي ډېر پرمختګونه کړي او ښې لاسته راوړنې لري او د دې ترڅنګ د ژوند او اقتصاد په مختلفو اړخونو کي زموږ د هیواد سره ښې اړیکي لري او په مختلفو برخو کي مادي او معنوي مرستي کوي. افغانستان په خاصه توګه علمي او تحصیلي مرکزونه د هیواد په داخل او بهرنۍ نړۍ کي زیاتو مادي او معنوي مرستو ته اړتیا لري ځکه د لوړو زده کړو وزارت ته تقریباً د ملي بودجې ( ۳٪ ) ورکول کیږي چي دا بودجه په هیڅ صورت د ټولنې عیني ضرورتونو ته په کتو او د ساینس اوتکنالوژۍ د پرمختګ په حالت کي په هیڅ صورت کفایت نه کوي. د پوهنتون اداره به هلي ځلي کوي چي د هیواد په داخل کي (شخصي سکټور او مرستندویه ډونرانو) او په بهر کي د پوهنتونونو او څېړنیزو مرکزونو سره باید ټینګي اړیکي ولري او مادي او معنوي مرستي ترلاسه کړي ترڅو هغه چارې چي موږ په پلان کي وړاندوینه کړې ده عملي بڼه غوره کړي.تر اوسه پوري دې پوهنتون یوازي د هند د هیواد د کرني د برخي د مسؤولو ادارو سره اړیکي لري ولي دا اړیکي او مرستي کافي نه دي ځکه چي موږ په ډېرو برخو کي مرستو ته اړتیا لرو. نو باید د مختلفو هیوادونو د کړنو او تجربو څخه ګټه پورته کړو د هغو هیوادونو (هند، چین، جاپان، د امریکا متحده ایالتونه، ایران،ازبکستان، تاجکستان، قزاقستان، ترکمستان، ترکیه، روسیه او نورو) څخه دلته یادونه کوو، چي په لومړۍ قدم کي په رسمي بڼه ورسره اړیکي ټینګي او د مرستو د جلب او جذب زمینه مساعده کړو.

**جدول (۱۸): د هوکړه لیکونو/علمي توامیتونو تفصیلي جدول**

| ګڼه | بڼکیل لوري | د هوکړه لیک اداره | د اداري موقعیت | | د هوکړه لیک موده | | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | داخلي | خارجي | شروع | ختم | |
| 1 | نړیوالې / بهرنۍ اداري | SAM Higgin bottom Institute of Agriculture, Technology & Science (SHIATS). India | | √ | 14-Aug-2015 | 14-Aug-2020 | |
| 2 | | Indian Council of Agriculture and Research (ICAR). India | | √ | 21-April-2016 | 21-April-2026 | |
| 3 | | The government of the Republic of India | | √ | | | In progress |
| 4 | | Agricultural Sciences and Natural Resources of Khuzestan. Iran | | √ | | | In progress |
| 5 | | University of Agriculture, Faisalabad. Pakistan | | √ | | | In progress |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| In progress | | | √ | | International Cultural Communication Center Malaysia (ICCCM). Malaysia | | 6 |
| In progress | | | √ | | Gorgan University of Agricultural Sciences and Natural Resources (Iran) | | 7 |
| In progress | | | √ | | Bu-Ali Sina University, Iran | | 8 |
| In progress | | | √ | | Russian State Agricultural University (RSAU). Russia | | 9 |
| | 2019/02/16 | | √ | | National Horticulture and Livestock Project (NHLP-SW) | نړیوال / خارجي / داخلي موسسات | 1 |
| | 2018/09/30 | 2016/08/16 | √ | | United States Agency for International Development (USAID)/RADP-S | | 2 |
| | 2016/01/11 | | √ | | Mercy-Corp | | 3 |
| | 2019/02/16 | | √ | | National Horticulture and Livestock Project (NHLP-SW) | | 4 |
| | 2022/04/25 | 2019/04/24 | | √ | Kandahar Refugee Organization (KRO) | | 5 |
| | Ineligible | | √ | | CHEMONICS-USAID | | 6 |
| | Ineligible | | √ | | Regional Agricultural Development Program in South | | 7 |
| In progress | | | | | World Food Program-South | | 8 |
| هغه برنامې چې نهایي سوي او یا هم په جریان کښې دي | | | | | | | |
| | ۰۱/۰۳/۱۳۹۸ | ۰۱/۰۳/۱۴۰۳ | | √ | د اروزګان د لوړو زده کړو موسسه. اروزګان | داخلي اداري | ۱ |
| | ۲۳/۰۴/۱۴۰۵ | ۲۳/۰۴/۱۴۰۰ | | √ | ملالي د لوړو زده کړو موسسه. کندهار | | ۲ |
| | ۲۵/۱۲/۱۴۴۸ | ۲۵/۱۲/۱۴۴۳ | | √ | د کندهار ولایت ښاروالي. کندهار | | ۳ |
| | ۰۱/۰۲/۱۴۴۹ | ۰۱/۰۲/۱۴۴۴ | | √ | د کندهار پوهنتون. کندهار | | ۴ |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | | کندهار ملي ټلویزیون او شریعت ږغ راډیو. کندهار | √ | | ۰۶/۰۵/۱۴۴۴ | ۰۶/۰۵/۱۴۴۹ | |
| ۶ | | د زابل ولایت د میرویس نیکه د لوړو زده کړو موسسه. زابل | √ | | ۱۹/۱۰/۱۴۴۴ | ۱۹/۱۰/۱۴۴۹ | |
| ۷ | | د کندهار ولایت د چاپیریال ساتني ریاست. کندهار | √ | | ۲۲/۴/۱۴۴۵ | ۲۲/۴/۱۴۵۰ | |
| ۸ | | دایکندي د لوړو زده کړو مؤسسه. دایکندي | √ | | ۲۵/۰۷/۱۴۴۵ | ۲۷/۰۷/۱۴۴۵۰ | |
| ۹ | | افغان نړیوال اسلامي پوهنتون. کابل | √ | | ۱۱/۰۱/۱۴۴۶ | ۱۱/۰۱/۱۴۵۱ | |
| ۱۰ | | کندهار ولایت د تخنیکي او مسلکي زده کړو امریت | √ | | ۰۱/۰۱/۱۴۴۶ | ۰۱/۰۱/۱۴۵۱ | |
| ۱۱ | | کندوز پوهنتون، کندوز | √ | | ۲۲/۱۲/۱۴۴۴ | ۲۲/۱۲/۱۴۴۹ | |
| ۱۲ | | د کندهار ولایت د اقتصاد ریاست. کندهار | √ | | ۲۴/۰۱/۱۴۴۶ | ۲۴/۰۱/۱۴۵۱ | |
| ۱۳ | | د کندهار ولایت د بهرنیو چارو ریاست. کندهار | √ | | | | |
| ۱۴ | | علوم اکاډمي. کابل | √ | | | | جریان کي ده |
| ۱۵ | | ملي پراختیایي شرکت | √ | | | | جریان کي ده |
| ۱۶ | | د هلمند پوهنتون. هلمند | √ | | | | جریان کي ده |
| ۱۷ | | د هلمند ولایت د کرهنې، اوبو لګولو او مالداری ریاست. هلمند | √ | | | | جریان کي ده |
| ۱۸ | | د کندهار ولایت د کرهنې، اوبو لګولو او مالداری ریاست. کندهار | √ | | | | جریان کي ده |
| ۱۹ | | د ارغنداب د فرعي سیندیزی حوزې ریاست. کندهار | √ | | | | جریان کي ده |
| ۲۰ | | د کرهنې اوبو لګولو او مالداری وزارت/ د کرهنیزو تحقیقاتو عمومي ریاست. کابل | √ | | | | جریان کي ده |
| ۲۱ | | مؤسسه تحصیلات عالی بادغیس. کندهار | √ | | | | جریان کي ده |
| | | | | | | | |
| | د ۱۴۰۱-۱۴۰۵ ل. کال لپاره پلان سوي برنامي | | | | | | |
| ۱ | | د ننګرهار ولایت د کانال ریاست | √ | | | | پلان کي ده |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | | د ننگرهار پوهنتون. ننگرهار | √ | | | | پلان کي ده |
| ۳ | | کابل پوهنتون. کابل | √ | | | | پلان کي ده |
| ۴ | | بلخ پوهنتون. بلخ | √ | | | | پلان کي ده |
| ۵ | | د هرات پوهنتون. هرات | √ | | | | پلان کی ده |
| ٦ | | د زابل ولایت د کرهنې، اوبو لگولو او مالداری ریاست. زابل | √ | | | | پلان کي ده |
| ۷ | | د اروزگان ولایت د کرهنې، اوبو لگولو او مالداری ریاست. زابل | √ | | | | پلان کي ده |
| ۸ | | د کندهار ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست. کندهار | √ | | | | پلان کي ده |
| ۹ | | مخابراتي شبکو او کمپینو سره دوه اړخیزه همکاریو هوکړه لیک. کندهار | √ | | | | پلان کي ده |
| ۱۰ | | د اسیا به سطحه منل سوي کرنیز او تحقیقاتي پوهنتونونو او علمي مراکزو سره د دوه / څو اړخیزه همکاریو هوکړه لیکونو نهایي او لاسلیک کول | | √ | | | پلان کي ده |
| ۱۲ | | د داخلي غیر دولتي انجیو گانو سره چي د کرهنې/مالداري او اقتصاد برخو کښې فعالیت لري، د دوه اړخیزه همکاریو تفاهملیک لاسلیک کول | √ | | | | پلان کي ده |
| ۱۳ | | د افغانستان داخل او بهر کښې میشت د نړیوالو مرستندویه ادارو د دوه اړخیزه همکاریو هوکړه لیک باندي خبري اتري کول او نهایي کول تر څو لاسلیک ته چمتو سي. | √ | √ | | | پلان کي ده |
| ۱۴ | | او ورته نوري | √ | √ | | | پلان کي ده |

د اناستو پوهنتون هوډ لري چي د همدي ستراتیژیک پلان په ترڅ کي د هیواد په داخل او بهرکي د مختلفو ذیدخله ادارو (خصوصي او دولتي پوهنتونونه، دولتي اداري، دولتي او غیر دولتي اداري، داخلي او خارجي انجیوگاني) سره د دوه اړخیزه همکاریو تفاهم لیکونه لاسلیک کول.پورته جدول کښې ټول هغه اداري چي د دوه اړخیزه همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک سویدي په نښه سویدي، همدارنگه هغه اداري چي د لاسلیک نیټه یې ختمه سوی وي، پلان کي ده چي ددوهم ځل لپاره بیا وغځول سي. ددې ترڅنگ، زیاتو ذیدخل ادارو سره پلان کي

نيول سوي تر څو د تفاهم ليکونو اړوند لمړنۍ خبري تر سره سي او د طرفينو د رضايت څخه وروسته به لاسليک سي. په دې سره به د اناسټو پوهنتون د تحقيقاتو، توليداتو، تدريسي او ترويجي اړخونه قوي او خپلو ټاکلو موخو ته پر وخت او ځانګړي تګلاره ورسيږي.

---

د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون پنځه کلن (۱۴۰۱-۱۴۰۵) ستراتيژيک پلان د پوهنتون د ستراتيژيک پلان د تدوين، توحيد، تطبيق او څارني کمېټي ( ۴ ) ګڼه پروتوکول (۲۷/ ۹ /۱۴۰۳) نېټي غونډه کي ثبت او تائيد سوي دي.

د پوهنتون د ستراتيژيک پلان د تدوين، توحيد، تطبيق او څارني کمېټي مسؤل

پوهندوي قدرت الله احسان

ياد ستراتيژيک پلان د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژی ملي پوهنتون د علمي شورا ( ۱۱ ) ګڼه پروتوکول (۲۹/ ۱۲ /۱۴۰۳) نېټي غونډه کي ثبت او تائيد سوي دي.

د پوهنتون د علمی شورا منشی

پوهنمل دين محمد مشفق

د افغانستان د کرنيزو علومو او تکنالوژي ملي پوهنتون رئيس

**مولوی سيد محمد داود اغا هاشمي**

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت

دلوړو زده کړو وزارت

عملي چارو معینیت

د پلان، پالیسۍ او تقنین ریاست

د پلانونو ترتیبولو، توحیدولو او پلي کولو آمریت

عادی عاجل محرم اشد محرم

گڼه: ۵۷۵

نېټه: ۵ / ۱۲ /1446 هـ ق

مطابق: ۱۲ / ۳ /1404

د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون محترم ریاست ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته،

**موضوع: د ستراتیژیک پلان(1405-1401هـ.ل) د تائیدۍ په هکله**

ستاسو د د 1404/2/31 هـ ل (775)گڼه لیک په ځواب کې چې د پلان، پالیسۍ او تقنین ریاست ته رارسېدلی دی، په درنښت سره لیکو:

ستاسو ستراتیژیک پلان په 1446/12/5 هـ.ق ( 1404/3/12 هـ.ل) نېټې سره سم د ستراتېژیک پلانونو او د کلني راپورونو د بیاکتنې تخنیکي کمېټې له خوا په کره توګه بیا وکتل شو او لاندې فیصله وشوه :

" د افغانستان د کرنیزو علومو او تکنالوژۍ ملي پوهنتون ستراتیژیک پلان د نوموړي لوړو زده کړو مؤسسې د علمي شورا د 1403/12/29 هـ.ق نېټې، (11) گڼه پروتوکول په اساس تصویب شوی وو، بناءً د لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژیک پلان پلي کولو لارښود او فارمټ له مخې هم تائید دی."

په درنښت

مولوی عبدالرازق "اواب"

د پلانونو ترتیبولو، توحیدولو او پلي کولو آمر

او دپلان، پالیسۍ او تقنین ریاست سرپرست

۰۲۰۲۵۱۰۹۲۵ www.mohe.gov.af کارته چهار - ناحیه سوم - کابل - افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت

دلوړو زده کړو وزارت

علمي چارو معينيت

د پلان، پالیسی او تقنین ریاست

د پلانونو ترتیبولو، توحیدولو او پلي کولو آمریت

عادی | عاجل | محرم | اشد محرم

ګڼه: ۵۷۴

نېټه ۱۵/ ۱۲/1446 هـ ق

مطابق: ۱۲/۳/1404 هـ ل

**د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون محترم ریاست ته !**

**السلام علیکم و رحمة الله و برکاته**

موضوع: د لرلید او مأموریت تائیدي

ستاسو د (1404/2/31هـ ل) نېټې ، (776)ګڼه لیک په ځواب کې چې د پلان، پالیسی او تقنین ریاست ته رارسېدلی دی، په درنښت سره لیکو:

ستاسو دستراتیژیک پلان لرلید او مأموریت د (1446/12/5 هـ ق) چې د (1404/3/12 هـ ل) نېټې سره سمون خوري د ستراتیژیک پلانونو او د کلني راپورونو د بیاکتنې تخنیکي کمېټې له خوا په کره توګه تر بررسي کېدو وروسته لاندې فیصله وشوه :

له دې چې د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون لرلید او مأموریت د نوموړي بنسټ د علمي شورى له لورې په 1403/12/29 هـ ل نېټې غونډه کې د (11) شمېرې پروتوکول له لارې تصویب شوی نو د لوړو زده کړو وزارت لارښود ته په کتو په لاندې توګه تائید دی :

لرلید:

(د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون غواړي چې په ملي او سیمه ایزه کچه د کرهنې او مالدارۍ د عصري کېدو په برخه کې د مسلکي او بشري ځواک په مټ د تدریسي او څېړنیزو خدمتونو په وړاندې کولو سره په ملي او سیمه ایزه کچه یو مخکښ پوهنتون واوسي.)

مأموریت:

(د افغانستان د کرنیزو علومو او ټکنالوژۍ ملي پوهنتون د علمي څېړنو په تر سره کولو او له عصري ټکنالوژۍ څخه په استفادې سره د کرهنې او مالدارۍ په برخه کې د ټولنې اړتیاوو سره سم، د لیسانس او فوق لیسانس په کچه مسلکي او ژمن کادرونه روزي او د هیواد اقتصادي پیاوړتیا او ثبات په برخه کې خپل مسؤلیت ادا کوي.)

موضوع د اطمینان او نورو کړنو لپاره تاسو ته در واستول شوه.

په درنښت

مولوی عبدالرازق "اواب"

د پلانونو ترتیبولو، توحیدولو او پلي کولو آمر

او دپلان، پالیسی او تقنین ریاست سرپرست